دغزې زړه بوږنوونکې غمیزه !او د اسلامې هیوادو مجرمانه چوپتیا

شهامت

اتم کال، دویمه ګڼه پرلپسې ۴۶مه، رمضان المبارک، ۱۴۳۵ه، جون ۲۰۱۴م

امریکائي بادار دواړه لاسپوڅي سره غاړه ایستل

پیام تبریکی عالیقدر امیرالمومنین به مناسبت فرا رسیدن عید سعید فطر

مونږ دغزې له مقاومت نه څه زده کولای شو ؟

غلامان څنګه خپل بادار تس نس کړل

دغزنی ولایت له جهادی مسؤل سره مرکه

دشهید شیخ الحدیث مولوی عبدالحکیم ژوند او کارنامو ته کتنه

تاسیس حکومت الهی

د داعش تیز پر مختګ او دعراق راتلونکی

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اتم کال دوهمه گڼه، پرلپسې۴۶ مه، رمضان المبارک ۱۴۳۵هق، جون ۲۰۱۴ م

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	پیام تبریکی عید فطر	۳
۳	امریکایي بادارانو دواړه لاسپوځي سره غاړه ایستل	۷
۴	مونږ دغزني له مقاومت نه څه زده کولای شو	۱۰
۵	غلامان څنګه خپل بادار تس نس کړل	۱۵
۶	د داعش تیز پرمختګ او دعراق راتلونکي	۱۷
۷	اسلامي هیوادو کې داسلامیت	۲۱
۸	دغزني ولایت جهادي مسؤول مولوي قاسم صمیم مرګ...	۲۶
۹	داسلامي او نااسلامي (دیموکراتیک) نظام توپیر	۳۱
۱۰	د اسلام تشریح اساسات	۳۴
۱۱	سرپورته کوه دخپلواکۍ بیرغه	۳۷
۱۲	ګلورینې پاڼې	۳۸
۱۳	دشهید شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم ژوند	۴۰
۱۴	اسلام او نوي علوم	۴۸
۱۵	داصول فقه او اجتهاد تاریخ	۵۰
۱۶	کشتن از اسرائیل حمایت از اوباما	۵۴
۱۷	په ۲۰۱۳ کال کې د اسلامي امارت سره یو ځای شوي	۵۶
۱۸	تاسیس حکومت الهی	۵۹
۱۹	په غزې د اسرائیلو یرغل اودنړۍ دشرم	۶۱
۲۰	مار ګیریت چګونه مریم شد	۶۶
۲۱	داروپا بشري حقوقو محکمې توره پریکړه	۶۸
۲۲	زکات فریضه څنګه اداکیږي	۷۰
۲۳		۷۵
۲۴		۷۸

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسـؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن "علوي" بلال "وحید"
نعیم "صافی" عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیـه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـادونـه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو
مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

دغزې زړه بوږوونکې غمیزه!

او د اسلامي هیوادو مجرمانه چوپتیا!

له نیږدې درې اوونیو راهیسې دغزې په مجبورو اومقهورو مسلمانانو داسرایل دغاصب او ناروا رژیم له لوري پرلپسې وحشیانه برېدونه دوام لري، چې یکې دهرې ورځې په تیریدو زیاتوالی راولي او د مخنیوي په لړ کې یې تر اوسه چا کوم موثر ګام ندی پورته کړی.

له جنګي الوتکو اوسمندرې بېړیو نه دلس ورځیني وحشیانه بمبارد وروسته د صهیوني رژیم ټانکونه او شوبلې غزې ننوتي اوهلته یې په سوونو بې دفاع مسلمانان شهیدان او په زرګونو نور یې ټپیان کړل!!.

دمنځني ختیځ دچارو کارپوهان: په داسې نازک اوحساس وخت کې چې نیږدې ګرد منځنی ختیځ دکورنیو اوبهرنیو عواملو له امله په یوه لوی اضطراب، کورني انتشار اوجنګ وجدال کې ښکېل دی، د صهیونیت رژیم لخوا هلته دمسلمانانو ټولو وژنې ته دوام ورکول اوپه غزه مخامخ یرغل دټولې سیمې لپاره دجدی خطر زنګ بولي!!

هو! له شک پرته اوس مهال دفلسطین اوغزې مسلمانان د نړۍ تر بل چا هرچا زیات مظلوم اومقهور دي، د غزې په خلکو داسرایل دعلني مظالمو په مخنیوي کې دنړۍ دځواکمنو هېوادونو کردار نهایتې مذموم او مجرمانه دی، هر دشعور خښتن پوهېږي چې اسرایل دامریکا لخوا په ور کړل شوې جنګي ټینکنالوجۍ او دنړیو پر مختللو وسلو په ځواک دمسلمانانو وینې داوبو پشان تویوي، په دې توګه دمسلمانانو په وینو نه یواځې داسرایل لاسونه سره دي بلکې دامریکا په ګډون دغو ټولو هېوادو لاسونه هم وربانديې لړلي دي کوم چې له دغه ناروا رژیم نه ملاتړ کوي. دسیاسي کتونکوپه نظر دفلسطین تازه حالات ددې ښکارندوې کوي چې نړۍ کې دمسلمانانو دفریاد اوریدو او ورسره دمرستو ټولې دروازې تړل شوي اواسرایل ته په ازادانه توګه دا اجازه ور کړل شوې چې هغه هر وخت اوهر کله وغواړي په خلاصو متو دمسلمانانو وینې بهولی شي! امریکا اوغربي هېوادونه په ښکاره تري ننګه اودفاع کوي داوباما داوینا: «چې اسرایل دخپلې دفاع پوره حق لري... «همدا معنونیت لیږدوي چې دنړۍ ځواکمن هېوادونه

او په خاصه توګه امریکا دغزې په جنګ کې برابره ونده لري !دیته په کتو نړی، کې دمسلمانانو دځوان نسل په اذهانو کې له نړیوال نظام نه دبغاوت جذبات اواحساسات راټوکیدل حتمي اوطبعي خبره ده ولې هغوئ نن محسوسوي چې دفلسطین په ګډون افغانستان ،عراق اونورو هېوادو کې امریکااو غرب په ګډه د مسلمانانو په ټولوژنه لګیادي، که دا ناهیلو دا حالت هم داسې دوام وکړ ممکن له امله یې نړیوال امنیت ته درنه صدمه ورسي.

غزه کې وروستیو زره بوږ نوونکو پیښو وښوده چې په نړی، دځنګله د قانون راج دی!دبشر حقوقو د ساتنې او احترام شعارونه اوخبرې درواغ دي، دحیرانتیا ور ده که دیو کافر په پښه کې ازغی هم لاړ شي، نوټوله نړی، کې د غوغا یوه تم کیدونکې څپه راپورته شي ، هغه ته رسیدلی زیان له بشري حقونو سرغړونه وګڼل شي ! خوبل لور ته هره ورځ چې دمسلمانانو وینې له اوبو نه هم ارزانه بهول کېږي، وربانديې دنړیوالو خولې بندې اوژبې یې ګونګې دي ! تر ټولو دانديښنې ور داده چې د ٥٧ اسلامي هېوادو تنظيم (اسلامي کانفرانس) دومره هم ونشوای کولی چې دخپل ژوندانه دثبوت لپاره یې هم یو ګام پورته کړی وای! ور ته حال د عربې سرمشریزې هم دی ! دوارو تردې مهاله ونکړای شول چې د غه تر ټولو حساسه ستونزه په نړیواله سطحه را پورته کړي ، دفلسطين شخړې اصلي عوامل راوسپړي او دفلسطينيانو دمشروع جهاد په ملاتړ د نړیوال اذهان قانع کړي.

له دې حقیقت نه انکار ناشونی دی چې دفلسطين په ګډون دنړی، په مختلفو برخو کې په مسلمانانو روان ظلمونه داسلامي هېوادو دقیادتونو سمه پاملرنه غواړي، بنکاره ده تراوسه په دې اړه ی هیڅ اسلامي هېواد مسؤلانه کردار ندی اداء کړی، داسلامي نړی، دچارواکو دابې حسې لاپرواهې او ځان غرضي که یولور ته دښمن ته مورال ښني بل پلو دعوامو په اعتبار پخپله ددوئ لپاره هم ډاډورنده ، خدای مکړه که داسلامي هېوادو دواکمنو ترمنځو دځان غوښتنې ذهنیت هم داسې پاته وي ، لرې نده چې هغوئ به ژر دخپلو دغو تیروتنو تراخه وڅکي

پېښه داده چې نن دنړی، عام مسلمانان چې دفلسطينې مسلمانانو مظلومانه حالت وینې هغوئ له زړونو وینې څڅوي، خو څه کولی نشي، او داسلامي نړی، واکمن دغفلت په درانه خوب ویده دي، هم دالامل دی چې په اسلامي هېوادو کې درعیاوو او چارواکو ترمنځ واټنونه اوخلیج مخ په زیاتیدو دی اوپه چارواکو دخپلو خلکو د بې باورۍ سلنه تر ډارونکې بریده ختلې، چې دمسلمانانو لپاره به ښې پایلې ونلري، باید داسلامي نړی، واکمن قیادتونه ترهر څه اولیت دمسلمانانو دفاع ته ور کړي، دخپلو رعایاوو سره خواخوږې اوهمدردې زیاته کړي! او په نړیواله سطحه دمسلمانانو دسیاسي، اقتصادي اوفطري حقوقو دفاع اوساتنه مقدمه اومهمه وبولي.

پیام تبریکی عالیقدر امیر المومنین به مناسبت فرا رسیدن

عید سعید فطر

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین، ناصر المجاهدین ومذل الجبابرة والمتکبرین والصلاة والسلام علی إمام الغر المحجلین سیدنا ونبینا محمد صلی الله علیه وسلم وعلی آله واصحابه أجمعین

قال الله تبارک وتعالی: (إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُمْ مُّحْسِنُونَ) سورة النحل آیة ۱۲۸

و عن معاذ ابن جبل رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: رأس الأمر الإسلامُ، وعَمُوده الصلاةُ، وذِروة سَنَامه الجهاد. رواه الترمذي

برادران مسلمان و ملت مجاهد!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

به مناسبت فرا رسیدن عید سعید فطر این روز مملوء از خرسندی و برکت را به شما همه مبارکباد می گویم. خداوند متعال روزه، قیام، صدقات، دعاها، جهاد و همه اعمال نیک تانرا که در رمضان انجام داده اید قبول نماید.

برادران مسلمان!

جای خرسندی و شکر است که خداوند متعال این روز را هنگامی بر ما می آورد که شاهد فتوحات و دست آوردهای پیهم در میدان های جهادی می باشیم.

الحمد لله به سطح کشور، وضعیت نظامی به نفع مجاهدین میباشد، اولاً به نصرت خداوند متعال ثانیاً به برکت فداکاریهای بی شائبه مجاهدین و ملت، از مناطق زیاد گلم اشغالگران جمع شده است، مراکز مهم دشمن در شهرها تحت حملات پیروزمندانه مجاهدین قرار گرفته است. حاکمیت و اداره امارت اسلامی بر مناطق مفتوحه نسبت به گذشته قویتر شده است. صفوف مجاهدین نسبت به هر وقت دیگر منسجم، فعال و متحد می باشد. مگر جای تأسف است که دشمن از بعضی فرزندان غافل و بی خبر ملت، منحیث وسیله برای بدست آوردن اهداف شوم خویش استفاده می کند! خود از میدان جنگ به عقب می رود و آنها را به خطوط جبهه می فرستد. من بر عساکر، پولیس و عموما بر همه صف مخالف صدا میکنم که برخلاف مردم خود و برای بدست آوردن اهداف اشغالگران، خود را تباه نکنید. بیایید در پهلوی مردم خویش یکجا با مجاهدین امارت اسلامی علیه دشمن مشترک جهاد نمایید تا سعادت دنیا و آخرت نصیب تان گردد.

از علمای کرام، بزرگان قومی و متنفذین نیز امیدوارم که این جوانان ناآگاه را که از جانب دشمن استعمال می شوند بفهمانند ، همچنان والدین و خویشاوندان شان کوشش کنند که فرزندان خودرا از زیان دنیا و آخرت نجات دهند.

مجاهدین باید با آنعده از اشخاصیکه از صف دشمن جدا میشوند ، مطابق با پالیسی امارت اسلامی افغانستان برخورد پر از همدردی نمایند ، آنها را خوش آمدید بگویند ، و از قهرمانی آنعده از افغانهای با احساس قدردانی نمایند که بر دشمن حمله می کنند سپس به صف جهادی می پیوندند وآنها را نوازش دهند.

الحمد لله سطح همکاری و اعتماد مردم بر مجاهدین بیشتر شده است، من به نمایندگی مجاهدین، از مردم دین دوست و کشور دوست خود سپاسگذاری می کنم و در بدل حمایت مخلصانهء آنها ، از خداوند متعال برای شان سربلندی، آرامی و سعادت دارین راخواهانم

فعالیت های امارت اسلامی در بخش های دیگرنیز، همانند عرصهء نظامی در حالت پیشرفت و نو آوری است در بخش های معارف، صحت، اقتصاد ، قضاء، دعوت و ارشاد ، فعالیت های فرهنگی، شهداء و معیوبین، کنترول وتفاهم با موسسات در ساحهء کاری آنها ، امور زندانیان و جلوگیری از تلفات ملکی خدمات ارزنده یی تقدیم گردیده است در حالیکه از خداوند متعال برای مسئولین و کارمندان آنان در مقابل هر تلاش شان اجر می خواهم، هنوز هم امیدوار پیشرفت های بهتر و موثر تر می باشم

به اثر سعی و تلاش دفتر سیاسی امارت اسلامی افغانستان که بر اساس رهنمایی های ما امور خودرا به پیش می برد ، امارت اسلامی به سطح جهان و کشور وجاهت سیاسی به دست آورده است جهت های زیادی که قبلا با ما مخالفت داشتند ، اکنون امارت اسلامی را منحیث یک واقعیت می پذیرند ، درهمین سلسله در نتیجهء سعی و تلاش نمایندگان سیاسی امارت اسلامی تبادلهء اسراء با امریکا دست آورد نیکی بود.

ادارهء نصب شده به دست اشغالگران درکابل از هر جهت به ناکامی مواجه شده است ، تا حدیکه اعتماد تمویل کنندگان خارجی و حامیان داخلی خودرا از دست داده است، در فساد اداری، غصب ملکیت ها و چور و چپاول دارایی های مردم، مقام اول را بدست آورده است

پروسهء جعلی به نام انتخابات ادارهء کابل و دموکراسی غربی را هنوز هم به رسوایی مواجه کرد ، در حقیقت هدف اشغالگران و دوستان داخلی آنان از این پروسه وانمود کردند تبدیلی برای افغانها بود ، مگر ملت افغان از ابتدا به اهداف دشمن پی برده بودند ، و به همین سبب اکثریت مردم پروسهء نامبرده را تحریم کردند. اکنون همه مشاهده کردند که سخن از انتخابات و رأی مردم بطور شعار، برای فریب دادن مردم، ایجاد نفرت و بدبینی های قومی، سمتی، لسانی وغیره زده می شد ، همه مشاهده می کنیم که مطابق به پیشگوی ما ، این بار نیز درامهء نامنهاد انتخابات مانند گذشته انتصابات امریکایی گردید.

اختیارا کنون نیز در دست اشغالگران است، هر چیزی راکه آنها میخواهند پذیرفتن آن بالای دوستان داخلی شان بدون در نظرداشت منافع کشور و مردم لازمی می باشد.

ما به حکومت های امریکا و کشورهای اروپایی که عساکر شان در افغانستان هستند و یا در آینده در فکر نفوذ سیاسی و بقای پایگاههای نظامی در اینجا هستند ، می گوییم که افغان ها را بگذارید تا مطابق به

نیازمندی های دینی و ملی خویش حکومت اسلامی و مستقل راتشکیل دهند، اگر شما این حق را از آنها سلب می کنید، این کار نه تنها ظلم و پامال کردن نورم های انسانی است؛ بلکه نتایج آن برای شما نیز چنان خواهد بود که در جریان سیزده سال گذشته مشاهده کردید. شما اکنون این حقیقت را درک کرده خواهد بودید که مردم افغانستان که تاریخ شان مملوء از مبارزه برای اسلام و استقلال است، هیچگاه حکومت های دست نشانده دیگران را نمی پذیرند.

به باور ما جنگ افغانستان زمانی به پایان می رسد که تمامی اشغالگران خارجی از افغانستان خارج شوند و اینجا یک نظام اسلامی و مستقل حاکم شود، باقی گذاشتن عساکر محدود آنان زیر هر عنوانی که باشد، به معنای ادامهء اشغال و جنگ است، زیرا که هیچ کس در خاک خود نیروهای اشغالگر را تحمل کرده نمیتواند.

به کسانیکه درفکر امضا پیمان امنیتی با اشغالگران هستند می گوییم که از طولانی ساختن اشغال و تمدید اسباب و امور جنگ دست بردارند، موجودیت اشغالگران در کشور ما به نفع هیچ کس نیست، با ادامهء جنگ امنیت افغانستان وکشورهای منطقه خرابتر می گردد، بخصوص نبود نظام اسلامی، استقلال سیاسی و تمامیت ارضی در کشور، باعث توسعهء اشغال فرهنگی و تباهی نسل های آینده میگردد.

به کشورهای جهان و همسایه همچو گذشته یکبار دیگر اطمئنان می دهیم که مبارزهء ما برای نظام مستقل اسلامی و استقلال کشور ما است، ما نه ارادهء مداخله و ضرر رسانیدن در امور همسایگان، کشورهای منطقه و کشورهای جهان را داریم و نه موقف ضرر رسانی را تحمل کرده میتوانیم و از آنان نیز خواهان همچو موقف هستیم.

و بر مجاهدین در همهء مناطق سرحدی صدا میکنم که از سرحدات خویش حفاظت کنید و با کشورهای همسایه بر اساس احترام متقابل روابط نیک برپا نمایید.

دربارهء تحولات و حوادث اخیر در شرق میانه باید بگوییم که کشورهای نیرومند جهان، مردم این مناطق را بگذارند که به آرمان های مشروع خویش برسند، این قابل توجیه نیست که قیام های مردمی به الزام بی مورد تروریزم متهم شوند سپس تحت بمباران قرار گیرند، و یا زندان ها از آنان مملوء گردد، با چنین اقدامات کس نمیتواند اراده مردم را برهم شکند، اینکه در ماه مبارک رمضان رژیم غاصب اسرائیل صدها فلسطینی مظلوم را شهید، زخمی و بی خانمان کرده است، ما این عمل وحشیانه را به الفاظ شدید تقبیح می کنیم و به جهان بخصوص جهان اسلامی، صدای مینمایم که سکوت در مقابل این مظالم آشکار بی انصافی بسا بزرگ و به زیان همه است، باید برای جلوگیری از چنین مظالم بزرگ گام های عملی و مثبت برداشته شود تا امنیت منطقه و جهان بیشتر خراب نگردد.

مجاهدین شجاع امارت اسلامی!

وجیبهء دینی و ملی تان است که برای آسایش مردم و بدست آوردن دل های شان تلاش کنید، غرور، کبر، استفاده از اسلحه بدون دلیل شرعی، تهدید کردن مردم، بیم دادن و آزار دهی، زیان رسانیدن به سر، مال و عزت مردم جنایات بزرگی اند که به ارتکاب آن، در دنیا و در آخرت از محاسبهء آن نجات نخواهد یافتید، اخلاق شما در مقابل مردم باید تنها تحمل، تواضع، بردباری، ایثار و احترام متقابل باشد، باید به یاد داشته باشیم که خداوند متعال به شعارهای ظاهری و شکل های ما نمی بیند بلکه بسوی دل ها و اعمال ما می

نگرد، که با مردم به چه اخلاق مواجه میشویم

مجاهدین باید در مناطق تحت تسلط امارت اسلامی برای ایجاد عدالت و امنیت تلاش های مخلصانه به خرج دهند، جلو دزدان، قطاع الطریق و اشخاص تخریب کار را بگیرند و برای مردم فضای امن و آرامش را مهیا سازند.

در جریان عملیات جهادی باید متوجه جان و مال مردم باشند تا خدای ناخواسته آنان متضرر نشوند. اداره، تعیین شده برای جلوگیری از تلفات ملکی، نیز باید با تمام جدیت متوجه وظیفهء مهم خود باشد تا از تلفات ملکی جلوگیری به عمل آید.

مجاهدین باید به یاد داشته باشند که استقامت و پیروزی ما در مقابل اشغالگران خارجی تنها به برکت چنگ زدن به ریسمان الله تعالی می باشد، مجاهدین باید به همین شکل در چارچوب اطاعت الله تعالی و رسول الله صلی الله علیه وسلم به اطاعت أمرا خویش ادامه دهند، از نفاق، اختلاف و تعصب اجتناب ورزند، رابطهء اتحاد، برادری، و اعتماد با یکدیگر را قویتر سازند، و صف جهادی را در مقابل دشمن همچو بنیان مرصوص شکست ناپذیر نگهدارند.

هموطنان مجاهد!

اینکه کشور ما در آستانهء استقلال و آزادی قرار دارد، باور داریم که خداوند متعال همانند افتخار شکست کفر و ظلم، به افغان ها نعمت نظام آسایش دهنده و خودکفای اسلامی را نیز خواهد بخشید.

افغانستان خانهء مشترک همهء افغان ها است، هر افغان حق خدمت آن را دارد، امارت اسلامی نظامی را به وجود خواهد آورد که در آن هر قشر، قبیله و گروه جای داشته باشد، و هیچ کسی احساس بیگانگی نکند، در بخش اقتصادی، با استفاده از کمک های بین المللی تركيز بر زراعت، مالداری و استخراج معادن صورت خواهد گرفت و بر سیستم های زیربنایی، انکشافی و تخنیکی توجه جدی خواهد نمود. نظامی که خادم اجتماع باشد، و در بخشهای تعلیمی، تربیوی، فرهنگی، اجتماعی، بازسازی و انکشافی در روشنی عدالت و شفافیت خدمت مردم را انجام دهد.

امارت اسلامی چنانچه نفاذ نظام اسلامی را ضامن پیروزی دنیا و آخرت می داند، بدست آوردن و ترویج ساینس، تکنالوژی، علوم بشری، دست آوردهای جدید و مثبت را برای استحکا، برپا ایستادن و بقای حکومت نیرومند و ملت قوی ضرورت حیاتی می پندارد. در این راستا ما همه آن تبلیغاتی را شدیدا رد میکنیم که علیه امارت اسلامی صورت می گیرد و یا اتهام مخالفت با تعلیم بر آن وارد می گردد. امارت اسلامی طلب علم را یک فریضهء دینی می پندارد، و برای زنان و مردان در چارچوب شریعت به تمام آن حقوق قایل و قانع است که دین اسلام برای آنان داده است و برای عملی کردن آن خود را متعهد می داند.

در اخیر بار دیگر عید را به شما مبارکباد می گویم، خداوند متعال شما را توفیق دهد که در این روزهای مبارک خوشی، بطور خصوص مردم نادار و اندوهگین را دست گیری نمایید، بر سر یتیمان دست شفقت بکشید، با خانواده های شهداء، زندانی ها و مهاجرین همکاری کنید، و پرسش، خدمت و حوصله افزایی زندانیان و زخمی ها را بکنید. والسلام.

خادم اسلام امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

۲۷ رمضان المبارک ۱۴۳۵ هـ ق

۳/۵/۱۳۹۳ هـ ش

۲۵-۷-۲۰۱۴ م

امریکایي بادار

(شاهد)

دواړه لاسپوڅي سره غاړه ایستل !!

دغرب په میو دخمار اشرف غني (احمد زي) او د(کولاب) دزاړه څیره خور اووطن پلوري ډبل (عبدالله) ترمنځ په اصطلاح انتخاباتي ناندرۍ چې له څو اونیو څخه راپدیخوا یې دهیواد سیاسي افق په مصنوعي لوخړو پوښلی و، اوله حالاتو له تحلیل او شنني غافل اذهان یې په ډیره اندیښنه کې اچولي وو، سربیره پردې چې لویدیځ نمانځونکي یې یو لوی داخلي بحران او کشمکش تلقي کړي، له بده مرغه ځنیو مغرضو خارجي کړیو په خورا شعوري ډول دقدرت پر سر دا ډول پرسول شوی اختلاف دهیواد دتجزیي په لوریوه هڅونه بلله او د حل ځنډ یا تاخیر یې ددې کشالې د لا یتناهي امتداد لامل باله، چې بالاخره دنوموړیو (احمدزي اوعبدالله) سکه امریکایي بادار خارجه وزیر (جان کیري) په مداخله حل او درسنیزو معلوماتو له مخې به په دریو اوونیو کې به انتخاباتي صندقونه بیا وپلټل شي او دجعل او تقلب نه ډکې رأیې به بیا په نوې رنګ وشمیرل شي.

معلومه نده چې ربښتیا هم (جان کیري) ددواړو غلامو کاندیدانو منځ کې منځګړیتوب کړی او که دستر ګو په برګولو او تهدید آمیزه لهجه یې دواړه لورې دې اړیستي، چې په فوري او عاجل د ډول سره پخلا او درأیو شمیرنه بیا ومني، ځکه (اشرف غني) دغرب حلقه بګوش غلام او دمسیحیت په اقدارو میین او دده دښځې (لارا غني) په وینا چې نوموړی به غرب کې ددې له کلیسا سره ډیره مینه درلوده او هلته به هر وخت له خپلې دې عیسوی میرمن سره کلیسا ته ته، (که چیرته اشرف غني لوبه وګټي، نو له بده مرغه به راتلونکې کې دیوه اسلامي هیواد په حیث دافغانستان مشره میرمن یوه عیسوی ښځه وي) !!! چې دا به دیوه ستر او عنعنوي اسلامي هیواد (افغانستان) په روڼ تاریخ کې یو ډیر شرم آور کار، دهیواد اسلامي تشخص به (خدای ج) مکړه دنورې اسلامي نړۍ په سیالۍ کې څوپیړۍ شاته لاړ شي او دافغانانو دپت پوزه به غوڅه شي!

او بل لورې ته ډبل (عبدالله) خویوازې دامریکایانو نه، بلکې دفرانسي په ګډون دګرد غرب او زاړه شرق دبد نامې نظار ډلګۍ هغه (حلال نمکی) څیره خور دی، چې له برکته یې دادی نن دتصور خلاف دخپلو بادارنو په مټ دارګ په هوسونو کې نښتیړې، دوئ هماغه څوک وو، چې دامریکایانو په ډالرو مست او خماریې دامریکایانو لپاره هغه نا څوانمردانه چوپړ وکړ، چې (بچه سقاو، شاه شجاع او کارمل ....) غوندې دتاریخ بدنامې څیرې یې په کولو شرمیدلې !!!

داځکه چې (جان کیري) دداسې اړو غوړمالانو او څیره خورو نه څه مجبوریت درلود ! چې ترمنځ یې سولې ته له زرګونو کیلومتره لیرې هیواده هوا کې راغی اوپه منځګړیتوب یې سره غاړه ایستل ،هغه چې باید کړي یې وی، هغه پریکنده امریکایي حکم ،ګواښنه او تهدید !!چې د(کرملین ،کولاب ،تهران ،پاریس او سپینې ماڼۍ) غوندې مشترک حلال نمکې (ډبل عبدالله)به په څوړند سر ورته دهوکي !! سر خوځولی وي او دخلکو دغولولو لپاره به یې په مطبوعاتي پانواو بریښنایي صفحاتوکې د(ملي یووالې حکومت)رنګ ورکړی وي او ښایي دا هغه غښتلی احتمال وي، چې شوتتیا یې ډیره پیاوړې وي او درد وړ نه ده .

خوتردې ډیره خطرناکه خبره هغه ده، چې له امله به یې دافغانستان واحد جسم (خدای ج مکړه) ټوټه ټوټه شي او مرکزي حکومت به په ایالتي او سمتي یا قومي متعددونو حکومتونو وویشل شي اوهغه داسې چې (کیري)د احمدزي او عبدالله سره منلې، چې په اصطلاح اوسني اساسي قانون کې دشمال دبد نامې ټلوالې دپاتې شونې (عبدالله)دخوشحالولو لپاره ادلون بدلون یا څه تعدیلات راشي، دعظمی صدرات پوست به دعبدالله دراضي کولو لپاره پکې زیات شي ، شاید افغانستان دشمال ،جنوب ،مشرقي او نورو ورته ټوټو باندې وویشل شي او یو مبهم ایالتي کاواکه حکومت به رامنځته کړي، چې دامریکایانو غوندې نور سیمه ایز هیوادونه به پکې خپلې موخې پوره او ددې کمزورې او متزلزل حکومت چارې به هم دداسې غلام ضمیرو په لاس کې وي ،چې نه به ورته داسلام دین کوم اهمیت لري او نه به ورته دافغانستان اسلامي خاوره دقدر وړ وي ......چې دا دڅینو کړیو هغه شومه اراده ده، چې له ډیره وخته ورته کار کوي او دداسې کیدو لارې شمارې .

که نه دملي یووالي موضوع خو لا د(دوستم)خونکار جنرال په معاونیت کې اشرف غني حل کړې ،او عبدالله دانجنیر محمد خان په مرستیالۍ کې ! دوئ کې چې قومي هیجان ډیر دی او اسلامي یاهم وطني محبت یې په صفر کې ضرب دی تل دخپلو شخصي ګټو لپاره اسلامي او ملي ګټې تر پښو لاندې کړي او هاغسې چاکر پاتې شوي، چې بادران یې خپل دې خدمت ته هیښ کړي .

تحلیلګران دجان کیري او خپلو لاسپوڅو کاندیدانو (مثلث توافق)او پټې معاملې دې پایلې ته رسولي، چې دا کار به ګوندې دهیواد دتجزیې په لوره بیه تمام شي او د دریواړو لوریو ددې پټې موافقې په ترڅ کې به دملي یووالي په نوم حکومت داسې وي ،چې له امله به یې یو فدرالي یا ایالتي کاواکه اداره رامنځته اومرکزي اداره به له منځه لاړه شي، چې په تدریجي توګه به دهیواد په تجزیه تمامه شي .

نړیوالو رسنیو پدې جملو دجان کیرې کنفرانس او دده کار پایله خپره کړه چې :

جان کېري تېره شپه ناوخته یوه خبري کنفرانس ته وویل دغه موافقه به ګټونکي ته لار پرانیزي چې د ملي یووالي یو حکومت جوړ کړي، "دواړو نوماندانو موافقه کړې ده چې د پلټنې پایلې به مني. د ټاکنو ګټونکی به ولسمشر وي او بریالی نوماند به په سملاسي ډول د ملي یووالي یو حکومت جوړوي."

خو په کنفرانس کې د ملي یووالي حکومت د څرنګوالي په اړه ډېر جزییات ور نه کړای شول. مخکې دواړو نوماندانو له یو بل سره د ګډ حکومت خبره رد کړې وه .

اشرف غني احمدزي د ټاکنو په تاریخ کې دا تر ټولو یوه لویه پلټنه وبلله او هرکلی یې وکړ، "موږ دواړو منلې چې د دې څېړنې. نتیجه به د زړه له کومې نه منو او هر څوک چې د دې څېړنې په نتیجې کې د افغانستان

ولسمشر اعلان شي بل ورور به يې د ورور په حيث مني مورږ په دې هم موافقه کړې چې پس له دينه چې نتايج اعلان شي د ملي وحدت يو حکومت به په ګډه وي"

د ټاکنو بل نوماند عبدالله عبدالله هم ويل، چې دې تړون ته ژمن دی، "مورږ خوشحاله يو چې نن دا موافقي ته مورږ رسيدليو سره تخنيکي موافقت نامه او همدا رنګه سياسي موافقي ته هم رسيدلي يو چې انشالله يو ځل چې دا پلټنې ترسره شي او په پوره ډول ول ترسره شي انشالله زمينه د ملي وحدت د يو حکومت هم برابره ده."همداسې نيويارک ټايمز خپل معلومات دموضوع په اړه داسې خپاره کړي دي :

نيويارک ټايمز ورځپاڼې ته افغان او امريکايي چارواکو د هغې موافقې په اړه معلومات ورکړي چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کيري په منځګړتوب د ولسمشرۍ د دوو کانديدانو اشرف غني احمدزي او عبدالله عبدالله ترمنځ شوې ده.

ورځپاڼې د هغو مقاماتو نومونه نه دي ياد کړي چې په دې اړه يې معلومات ورکړي او ويلي يې دي چې هغوی نه غوښتل چې نوم يې واخيستل شي ځکه چې هيڅ لوری حق نه لري چې په دې اړه خبرې وکړي او له بلې خوا طرحه لا په خورا لومړنيو پړاوونو کې ده.

نيويارک ټايمز وايي چې دواړو خواوو منلې چې د افغانستان د يووالي د ساتنې لپاره به په تدريج د صدارت چوکۍ رامنځته کوي.

ورځپانه د چارواکو په قول وايي، سره له دې چې څه باندې يوه لسيزه پخوا د امريکا په ملاتړ په افغانستان کې رياستي نظام جوړ شو چې ټول واک يې ولسمشر ته په لاس ورکړی خو بايد اوس ومنل شي چې د سياسي، قومي او ډله ييزو دښمنيو د زياتېدو له کبله د افغانستان يووالي ته د متوجه خطر د مخنيوي لپاره پکار ده چې په نظام کې بدلون راوستل شي.

د هغو کسانو په وينا چې خبرو ته نژدې ول، په نظام کې بدلون د عبدالله عبدالله، چې د افغانستان ټول سياسي نظام يې له خطر سره مخامخ کړی و او د جلا حکومت د جوړولو اعلان يې کړی و، اساسي هدف و.........

لکه چې مو مخکې پرې صراحت وکړ،چې د(کيرې) سفر دداسې سترې توطئې غمازي کوي ،چې هغه به دعقيدې او خپلواکۍ له جهته هيوادني خطرات له ځانه سره مله ولري ،دعبدالله دخوشحالولولپاره به دمرکزي ادارې تنه او بوده وشلوي اودنظار ډلګۍ دپاتې شونې لپاره به ددې چانس برابر کړي ،چې دقومي او سمتي تعصب په روحيه رغول شوي غلامه اداره کې يا لومړني کس يا هم کومه اجرائيوي دنده تر سره کړي او هم دامريکايانو لپاره به ددې ښه فرصت ميسر شي ،چې دامنيتي سند په نوم دتلپاتې پوځي شتون تحريري سند لاسليک دداسې اسلام پلورنکيو او وطن فروشانو څخه په ډيره اسانۍ سره ترلاسه کړي اوخپل استعماري اهداف ترسره کړي .

خو اسلامي امارت اوافغان مجاهد ولس ژمن دي، چې روانو جهادي ځپوته به د(جان کيرې) دشګو بندونه ټينګ نشي او نه به داسې اسلام ضد دسيسې کومې منطقې پايلې ته ورسيږې ،او باور دی، چې داستقلال دلارې پتنګان به ددې دسيسې همداسې کاميابه مقابله وکړي، لکه څنګه يې له (۲۰۰۱ز) کال راهيسې دير غلګرو داستبداداو وحشت مقابله کړې او تر ننه يې خپلو اهدافو ته له رسيدو ايسار کړي دي !!

مونږ دغزې له مقاومت نه څه زده کولای شو؟

شاهد غزنیوال

د روان کال د جون په ۲۱نیټه دفلسطین په الخلیل ښارکې د درېو صهیونستي ځوانانو له تري تم کیدو او بیاوژل کیدو وروسته صهیونستي رژیم د غزې په تړانګه هوایي برید پیل کړ.

هغوی پرته له کومه سپیناوي د دغو وژل شویو صهیونستي ځوانانو دوژل کیدو پړه په غزه کې د حماس غورځنګ پرغاړه وراچوله او هغه یې د صهیونستي ځوانانو د یرغمل کولو او بیاوژلو مسؤل وګڼه

د دې لیکنې تر لیکلو (۲۲ /۲۰۱۴/۷) پورې د صهیونستي رژیم د دغه وحشیانه برید په ترڅ کې خواوشا ۷۰۰ فلسطینیان شهیدان شوي او ۳۵۰۰ تنه ژوبل شوي

په دغه وحشیانه ناانډوله جګړه کې تراوسه پورې د فلسطیني منابعو په استناد ۵۲ اسرائیلي پوځیان وژل شوي، ۱۵۰په شاوخوا کې ژوبل شوي او یو نفریې د حماس غورځنګ د پوځې څانګې (قسام) لخوا ژوندی نیول شوی دی.

د نړیوالو پوځي ماهرینو د څیړنو په حواله ویل کیږي چې د فلسطیني مجاهدینو او صهیونستي یرغلګرو

ځواکونو ترمنځ روانه جګړه تر ټولو خونړۍ او په عین وخت کې د صهیونستي چارواکو لپاره تر ټولو ملامـاتوونکې جګړه بلل شوې؛ ځکه صهیونستي چارواکو له تیرو ۸ کلونو راهیسې دا زیار ایستلی چې غزه ترخپلې څمکنۍ، هوایي اوبحري محاصرې لاندې وساتي ، خو د هغوی د دغو ټولو هڅوباوجود حماس وکړای شو چې په پوځي لحاظ په داسې تسلیحاتو ځان مجهز کړي چې د صهیونستي رژیم ټول پوځي، استخباراتي او دفاع ځواک وننګوي او په خپل لاس جوړ کړیو توغندیو او ابابیل نومو بې پلوټه الوتکو سره د تل ابیب په زړه کې صهیونیستي اهداف په نښه کړي.

نړیوال جنګي ماهرین دیته ګوته په غاښ دي چې حماس څرنګه وتوانید وچې په دغسي اختناقي وضعیت کې چې له ځمکې ،هوا او سمندر څخه تر سختې محاصرې اوڅارنې لاندې خو بیاهم هغوی وکړای شول چې په خپل لاس جوړکړیو توغندیو او بې پلوټه الوتکو سره د نړۍ په کچه دوهم نمبر قوي اسرائیلي پوځ ته ماتې ورکړي

په محاصره شوې غزه کې د حماس جهادي غورځنګ وکړای شول چې داسې بې پلوټه الوتکې جوړې کړې

کومې چې ټوله عربي نړۍ يې له خپلو ټولو مادي امکاناتو سره سره دهغو له جوړولو ناتوانه ده.

د غزې تړانګې د نفوسو ټوله شميره دوه مليونه او ځمکنۍ مساحت يې ۳۶۰ کيلو ميتره مربع دی چې ۴۱ کيلو ميتره يې اوږد والی او ۱۵،۱۵ يې عرض دي.

دغزې ځمکنی مساحت د ټول فلسطين له مساحت څخه يونيم٪ تشکيلوي او د ټولې عربي نړۍ له مساحت څخه ٪۰ تشکيلوي ، له دغه جغرافيايي اوبشري کموالي سره سره غزه له تيرو اتوکلونو راهيسې د اسرائيلو له لوري تر ډيرې سختې محاصرې لاندې ده او پردې علاوه تقريبا په هرو دووکلونوکې يو ځل د صهيونستي يرغلګرو لخوا تر سختې ځمکنۍ او هوايي حملې لاندې هم نيول شوې ده.

يواځنۍ مواصلاتي لاره چې غزه له نورې بهرنۍ په تيره عربي نړۍ سره نښلوي هغه د رفح په نوم سرحدي بندر دی چې له مصره سره په پوله پروت دی خو د دغې ۱۴ ورځنۍ خونړۍ جګړې پرمهال مصري سرحدي ځواکونو هغه هم دفلسطينيانو پرمخ تړلی تردې او په ډيرو استثنايي حالاتوکې يې مصرته دځينو خطرناکو زخميانو د انتقال پرمهال د محدود وخت لپاره خلاصوي.

بنه نو د حماس د مجاهدينو د برياليتوب رمزپه څه کې دی چې د دغو ټولو موانعو او مشکلاتو باوجود هغوي داسې تاريخي کارنامه ترسره کړه چې ټوله عربي نړۍ يې له ترسره کولو عاجزه ده.

د فلسطين د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) چې دغزې سياسي واکمنې هم د دوی په لاس کې ده د خپل تنظيمي تشکيل له مخې د ټولو عربي سازمانونو او دولتونو په کچه يو منظم اسلامي تنظيم دی چې په رأس کې يې يو شمير داسې په اسلامي تربيه روزل شوي شعوري مخلص او وطن پاله اشخاص قرارلري چې ټل يې خپل ديني او ملي مصالح په شخصي او تنظيمي مصالحو مقدم بللي.

هغوي په شعوري لحاظ له خپلې اساسي قضيې (د مسجد اقصی له ازادي) څخه دفاع کوي ، هغه يې د خپلې مبارزې اساس بللی او په خپل ټول ۲۷کلن تاريخ کې تر اوسه پورې له دغې اساسي قضيې څخه ديوه ټکي په اندازه هم تنازل نه دی کړی.

دغه جهادي تنظيم (دفلسطين د اسلامي مقاومت غورځنګ) په کال ۱۹۸۷ کې د شيخ احمد ياسين لخوا تأسيس شو.

تراوسه پورې د حماس مؤسس شيخ احمد ياسين اودهغه نيږدې ملګري عبد العزيز الرنتيسي دخپلې دغې غوښتنې (له مسجد اقصی څخه دفاع او د فلسطين ازادولو) په لاره کې شهيدان شوي اونور تأسيسي اعضاء يې د اسرائيلو لخوا تر ډول ډول مشکلاتو لاندې نيول شوي ، خو د دوي په جهادي تګلارې کې نه کوم انحراف راغلی او نه هم تنازل.

په غزه کې د فلسطيني اداري اوسنی مسؤل اسمعيل هنيه چې د ۲۰۰۶ کال په ټول ټاکنوکې د حماس تر برياليتوب وروسته د فلسطيني حکومت لومړی وزير وټاکل شو اوس هم په غزه کې د مجاهدينو د مقاومت چارې رهبري کوي او د صهيونستي ځواکونو په خلاف د مقاومت قومانده هم د ده لخوا ورکول کيږي.

د حماس دبرياليتوب اساسي عوامل:

د حماس چارواکي له خپلو امکاناتو او وخت څخه په استفادې سره کوښښ کوي چې په علمي ، تخنيکي او پوځي لحاظ خپل ځان مجهزکړي ، هغوی په خپلو

همدغو ستونزمنو شرائطو کې د تعلیم او تربیې، بیاجوړونې، پوځي اعداد، او روغتیایي چارو فعال ساتلو ته دومره توجه کړې چې په دغو ټولو برخو کې له اسرائیلي رژیم سره سیالي کړې.

هغوی د خپل همدغه فعالیت له مخې اوس یو ملیون داسې توغندي لري چې د صهیونیست رژیم دفاعي سیستم د هغو د شنډولو توان نه لري او دوی کولای شي دهغوی په وسیله د صهیونسیت رژیم پلازمینه تل ابیب ښار په نښه کړي.

هغوي په خپلونه امکاناتو سره داسې هجومي او استخباراتي ابابیل نومي بې پلوټه الوتکي جوړې کړې چې په همدې جګړه کې یې د تل ابیب په ښار کې د دفاع وزارت اړوند نقشې عکاسي او په کامیابي سره بیرته غزې ته راوګرځیدې.

هغوی په خپلو نه امکاناتو سره داسې دفاعي کوماندویي ځواکونه وروزل چې هم یې په ځمکه، هم په سمندر او هم په هوا کې د صهیونیستي رژیم پوځي ځواکونه او د هغوي پوځي او سري استخباراتي تأسیسات تر کامیابو بریدونو لاندې ونیول، هغوي ته له درانه تاوان وراړولو وروسته په کامیابي سره غزې ته ستانه شول.

همدا اوس د حماس په لاس جوړشوي توغندي له غزې څخه د ۱۲۰ کیلو میترو په فاصلې سره د اسرائیلو په منځ کې هرځای چې دوي وغواړي په نښه کولای شي، په داسې توګه چې د صهیونیستي رژیم پرمختللي رادارونه، او دفاعي سیستم یې له مخنیوي څخه عاجزدی.

د دغو پوځي پرمختګونو ترڅنګ حماس وکړای شول چې د خپل تعلیم او تربیې د ادارې په وسیله د غزې د خلګو تعلیمي سویه دومره لوړه وساتي چې هغوي په تعلیمي لحاظ د صهیونستي رژیم له معارف سره مقابله وکړای شي.

د روغتیا په برخه کې یې داسې لاسته راوړنې لري چې د غزې د خونړۍ جګړې ټول مجروحین په نه امکاناتو کې د غزې په داخلي روغتونونو کې تداوي کوي.

د بیارغاونې په برخه کې یې داسې اقدامات ترسره کړي چې د صهیونیستي الوتکو د دغوسختو بمباریو له موجودیت سره سره یې په غزه کې د بریښنا، اوبو رسولو او نورو اساسي اړتیاوو ټول سیستمونه فعال ساتلي، اوکه کوم یو یې په بمباري کې تخریب کیږي په هماغه دستي یې د خپلو فني پرسونلو په وسیله تر میموي.

همدا راز هغوي په بریښنایي میډیاکې دومره پرمخ تللي دي چې د صهیونیستي رژیم په تلویزوني شبکو باندې په برید کولو سره هغه په خپل واک کې راولي او بیا د هغوی له شبکو څخه په عبري ژبې د صهیونستانو خلاف تبلیغات کوي.

دحماس ټول چارواکي په استثناء د خالد مشعل چې نوموړی د دغه غورځنګ د سیاسي دفتر مشر دی په بهرکې اوسي نور ټول پوځي، سیاسي او ملکي چارواکي په غزه کې دخپل ولس ترڅنګ اوسي او ټول هغه مشکلات چې دغزې ولس ورسره مخ دی تر ټولو له مخه دوی پرځان مَنلي.

د حماس چارواکي له خپل ولس سره تر حد زیات امیزش او ګډون لري، تردې چې کله هم د غزې او فلسطین په هرګوټ او سیمه کې د صهیونستي یرغلګرو لخوا کومه حادثه پیښیږي تر ټولو له مخه نوموړي چارواکي د حادثې له ټولو تفصیلاتو ځان خبروي او بیا د هغې په اړه له خبرې رسنیو سره ژوندۍ مرکې کوي او په خپلو مرکو کې د حادثې د موقعیت، دحادثې دقربانیانو

او د حادثې د جزئیاتو په اړه داسې توضیحات ورکوي لکه څېله چې دوی په محل دواقعې کې ولاړوي او هغه معرفي کوي.

د بېلګې په توګه کله چې د خلیل په ښارکې صهیونیستي ځواکونو او صهیونستي ځوانانو د محمد خضیر په نوم یو ۱۷ کلن تنکی زلمي شهید او ژوندی وسوځاوه ، په دې اړه فلسطیني ځوانانو د اسرائیلو پر خلاف لاریونونه پیل کړل ، د حماس د سیاسي دفترمشر خالد مشعل د دغې حادثې په اړه خانګړي مطبوعاتي کانفرانس دائر او په هغه کې یې د محمد خضیر له کورنۍ سره د خانګړې خواخوږي ښودلو ترڅنګ د صهیونستي قاتلینو لخوا د نوموړي د شهادت او مظلومیت ټوله حادثه ذکر کړه ، دشهید شوي محمد خضیر دکورنۍ ،دهغه د اړونده قبیلې ، او د هغه د پلار،مور او ټولې کورنۍ په نوم اخیستوسره یې د هغوي د شجاعت یادونه وکړه او هغه یې د ټول فلسطین یومظلوم شهید وګڼه.

دهغه په تعقیب چې کله اسمعیل هنیه د جګړې په ۱۴ شپه له خپل اړوند ټلویزوني چینل الاقصی څخه مطبوعاتي کانفرانس ورکاوه هغه هم په تیرو ۱۳ ورځوکې چې کومې لوېې واقعې تیرې شوې وې هغه یې هره یوه په تفصیل سره یاده او کومې کورنۍ چې ډیر غړي یې د اسرائیلي الوتکو په بمبارۍ کې شهیدان شوي ول د هغوی ټولو کورنیو په نوم اخیستوسره یې دهغوی د قربانیو اوسربښندنو یادونه وکړه.

همداراز اسمعیل هنیه په خپلې لومړنۍ ټلویزوني ویناکې چې په غزه باندې د صهیونیستي یرغلګرو د برید په مناسبت وکړه دهغې فلسطیني پیغلې د غیرت څانګړې یادونه وکړه چې خپل خاوند ته یې د شهادت د مبارکۍ په ویلو سره د هغه د جهادي لارې د تعقیبولو ژمنه وکړه ، داهغه فلسطیني پیغله وه چې واده ته یې یوه میاشت پاتې وه ،خو خاوند یې تر واده له مخه د حماس دمجاهدینو په ډله کې د صهیونیستانو په وروستي برید کې شهید شو ، دنوموړی شهید ځوان میرمن په ډیر لوړ مورال سره خپل خاوندته دشهادت مبارکي ورکړه او په خپلو انقلابي خبروکې دهغه دلارې د تعقیب تعهد وکړ.

د حماس د لومړي نمبر چارواکولخوا د خپل ولس د عادي پیښو یادونه او په هغوکې د فلسطیني ولس د سربښندنو یادونه هغه څه دې چې د صهیونیستي یرغلګرو په مقابل کې دهغوی مورال لوړ ساتي اونورېې هم په خپلو چارواکوباندې اعتماد او باور زیاتیږي.

دحماس دمجاهدینو د موفقیت بل راز په دې کې دی چې هغوی د ټولو پوځي ، سیاسي، اداري او مطبوعاتي چارو لپاره داسې مسلکي، سربښندونکي او علمي اشخاص تعین کړي چې هغوی هریو په هرډول شرائطوکې په ډیره فعاله توګه د خپلې دندې سرته رسولو ته اماده او هریو په خپل کاري ساحه کې دحماس له جهادي موقف نه په ډیر مناسب ډول دفاع او دهغه ترجماني کوي، هغوي که څه هم چې دموقعیتونو په لحاظ یوله بل نه لیري او د مسؤلیتونو په لحاظ هم بیلابیلې دندې لري ،خو په خبرو او د موقف په ترجماني کې ټول یونظر ،یوه پریکړه او یوه خبره کوي داسې چې سړی فکر کوي دغه ټول نظریات او پریکړې له یوې مرجع صادرې شوې هغوی هریو په خپلو خبرو ،خپلو معلوماتو او دقضیې اوموقف په ترجماني ښه لاس بري اوپه ډیر فصاحت ، بلاغت او اعتماد سره هغه تشریح کوي

داچې د هغوی ټولو د مقاومت او فعالیت ساحه د غزې په داخل کې ده نو هغوی د خپل ولس په افکارو

اونظرياتو دومره کار کړې چې کله هم ديوې موضوع په اړه کوم موقف غوره کوي نو د غزې هر عادي کليوال، پوهنتوني استاد، ډاکټر، دکاندار، بزګر، ځوان، سپين ږيري، نارينه او ښځې له خولې د هماغه موقف تائيد او ملاتړ کيږي او له رسنيو سره عين هماغه توري کاروي کوم چې د دوی د جهادي مشرانو اصطلاح وي، تر دې چې د غزې په مختلفو سيمو کې له نړيوالو نشراتي رسنيو سره کارکوونکي فلسطنيان چې د خبريالانو په توګه کار کوي خپلو اړوندو رسنيو ته د رپوټ او معلوماتو ورکولو پرمهال داسې رپوټ ورکوي لکه دحماس تنظيم د مطبوعاتي دفتر لخوا چې ترتيب شوی وي.

د بيلګې په ډول الجزيره تلويزوني شبکه په غزه کې درې خبريالان لري چې دوتنه يې نارينه او يوه ښځينه ده.

دغه نارينه خبريالان هريو تامر المسحال او وائل الدحدوح نوميږي هغوی دواړه په داسې قاطعيت او جديت او دخپل ولس له قضيې څخه د دفاع په لاره کې کار کوي لکه دحماس غورځنګ رسمي وينډويان.

هغوی د صهيونيستي رژيم د سختې بمبارۍ پرمهال د بمبارۍ محل ته ځان رسوي او په هماغه لحظه د هغو ماشومانو، ښځو او ولسي کسانو خبرې او مشاهدات په ژوندۍ بڼه د الجزيره شبکې له لارې خپروي کوم چې په بمبارۍ کې وژل شوي يا ژوبل شوي وي، همداراز د هبه عکيله په نوم ښځينه خبرياله په ورته ډول د جګړې پرمهال له بمبارشويو کورنيو څخه د زخمي شويو فلسطينيانو ښځو او ماشومانو ژوندۍ تصويرونه په داسې ډول نشروي چې په هرڅه کې صهيونيست رژيم او دهغوی کړنې سخت محکوموي.

نوموړې خبريالان تر دې کچې د حماس غورځنګ پلويان او دهغوی له کړنو متأثر دي چې دغزې په ۱۴ ورځنۍ جګړه کې يې تر اوسه پورې ديوه پوځي وژل شوي مجاهد تصوير نه دی خپور کړی، بلکې په خپل لايف رپوټونو کې يواځې د ولسي وګړو په تيره دماشومانو او د ژوبل شويو ښځينه وو په وضعيت خپرولو ترکيز کوي.

په غزه کې د الجزيره شبکې مربوط خبريالان تر دې کچې د خپل ولس او حماس د موقف پلوي کوي چې د جولای په ۲۲ د صهيونيستي رژيم د بهرنيو چارو وزير ليبرمان نوموړې شبکه دحماس په پلوي تورنه او ځواکونو يې په غزه کې د الجزيره شبکې دفتر تر بريد هوايي بريد لاندې ونيو.

د حماس جهادي غورځنګ پورتني امتيازات، د الاقصی له نړيوالې اسلامي قضيې څخه شرعي دفاع، او د دې تنظيم په مشرتابه کې د خبيرو او تجربه لرونکو اشخاصو موجوديت هغه څه دي چې دې غورځنګ ته يې په خپل قوي دښمن بريالیتوب ورښلی او په اوسنۍ روانه جګړه کې يې د هغوی ټول پوځي، دفاعي او استخباراتي ځواک تر پوښتنې لاندې راوستی.

بايد په نړيواله کچه جهادي قيادات او تنظيمونه د حماس له تجربونه په استفادې سره دهغوی تعامل په پام کې ولري او خپلې ليکې دهغوی له جهادي تکتيکونو څخه په ګټې اخيستو سره د دښمن په مقابل کې مضبوطې کړي.

غلامان غني خپل بادار نشو ساتلای!

خبیرعزم

استعمار هم عجیبي لوبي کوي ، کله چې وغواړي یوغلام رامخې ته کړي اوپرخلکویې ومني نودخپلو اجیري میډیاپه زوروزرته دتبلیغاتوښه میدان ګرم اوتودکړي ،په درنوالقابویې وپرسوي اودنړی سرته یې وخیږوي ،بیایې په ډیرلنډوخت کې بیرته په ځمکه داسې راپرېباسي چې دواړه ژامي یې ورته ماتې ،په بدونومونواوعیبونویې تورن اوتردې حده پوري یې ذلیل کړي چې حتی دامریکاچارواکي یې دځولحظولپاره خپل حضورته هم نه مني .

کرزی وګوری ، لس کاله دمخه به یې امریکایي اوغربي میډیاپه اصطلاح دنوري ورتیا اوچټکتیا سربیره ان دچپني اوقره قولي صفت هم کاوه اوتصویرونه به یې دنیویارک تایمز اوواشنګټن پوست اونوروغربي رسنیوپه رومبیومخوکې په خوراجالبیت خپریدل اودامریکاهرنړیوال پوهنتون به په اعزازي ډول خاصي ډګریاني ،سندونه اومیډالونه ورکول ، خوداسې وخت هم دادی راغی چې دافغانستان دتیر۱۳ کلن امریکایي شکست اورسوایي اودکابل داجیررژیم دماتي ، فساداوپرشاتګ تولله پړه اوس د همدغه کرزي په سروراچوي اودټولوناخوالو نسبت نوموړي ته کوي ، اوباماچې بګرام ته کله په سفرراشي دملاقات مجال هم نه ورکوي ، صرف یوټلیفون ورته وکړي اوپه زخمونویې مالګې ودوروي چې دادی (زه ستاهیوادته راغلم نه مې په تګ خبرکړي اونه په بیرته تګ اوپه هغه علاوه مې دځودقیقوکتني موقع هم درنکړه !!)

همداسې یې اشرف غني هم درواخله ، دهغه لپاره هم امریکایي اوغربي میډیاخه یې چې زده وو یوغریبې له بل غرسره وواهه ، تردې چې دنړی ددوهم مفکرلقب یې په سینه وروتومبو !

مابه چې هرځومره دغه لقب اواشرف غني سره واړاوه اوراواړاوه اوفکریه مې وکړ چې اخیراشرف دکوم داسې فکراوکارنامي له وجې دنړئ دوهم کس نومول کیږي ، باوروکړي چې هیڅ نتیجه به مې ترلاسه نشوای کړه اوبیاپه افغاني ټولني کې دهغه درول اوسیاسي مشرتوب په اړه خوبه بلکل پرکاله ولاړمه چې افغاني غیرتي ټولنه وګوره اوبیااشرف غني !!

ځکه اشرف غني له تیرو۳۵ کلونوراهیسې چې په افغانستان کې کوم اوربل اودوه میلونه خلک له تیغه تیرشول هغه یې صرف ننداره کوله اودغرب له عینکویې ورته راکتل ، نه یې دکوم یتیم په سرلاس راکش کړ، نه دکوم شهیددکورنی حال اواحوال یې واخیست اونه یې دخیررسولوکومه فلاحي اوبشري اداره تاسیس کړه اونه یې هم دافغانستان دمظلوم ولس سره دهمدردي په خاطرپه نړیوال میدان کې یوځوځښت رهبري کړ.

په دې سربیره چې اشرف غني ته ددوهم نړیوال مفکرنسبت کیږي ، معلومیږي چې ترشاه یې کوم وحشي سوی اولوی فریب پټ دي ، په دې معنا چې غرب صرف دافغانانوتوجه هغه ته وراړول غواړي، په عام افغاني

ذهنيت کې ورته ديوخوورځولپاره ځای پيداکوي اوخلکوته تمه ورکوي چې اشرف غني به دمفکرد لقب په مرسته وکولای شي دافغانانوبده ورځ په ښه واړوي !!.
کنه اصلي خبره خولکه لمرروښانه ده چې له اشرف غني څخه دامريکايانوستره موخه، له ۱۳ کلن اشغال ورسته په سيمه کې دامريکايانوپراخ اومستقيم حضورته زمينه سازي کوي اودافغانانودملي اوديني غرورپه نوې بڼه خپل دي اوددغه کارلپاره ، اشرف غني ترنوروڅيرومناسب کس اوموثره پروژه برېښي.
زه په دې باورنه يم چې ګوندي داشرف غني سيال ډاکټرعبدالله داشرف په نسبت ښه والی اوکمال لري ، بلکې هغه دافغانانولوی قاتل ، دملي ګټوپه سرلوی معامله ګر اودهيواددملي شتمنيودچوراوچپاول دناولي باندنامتوسرلښکردی ، خواصلي خبره داده چې دامريکايانوله ګامونواوحرکاتوښکاري چې عبدالله هسي يونمايش دی ، امريکايان له کرزي ورسته دکابل په ارګ کې اشرف غني ليدل غواړي ، نوځکه مونږ هم اشرف غني ددې وړبولوچې په اړه يې څه ناڅه سپناوی وکړو اوخپل ولس ته سرله اوس ووايو چې ګوری هيڅکله هم خپلې هيلې اواميدونوپه دغه بهرنی کاغذي څيري پوري ونه تړي ،هغه دافغانان لپاره مفکراوغني باباندی ، بلکې هغه ته امريکايي ګټي له افغاني منافعوډيرې لوړي اوحق داوليت لري.
همداسې وشول ، کوم معيارچې امريکايانو دکابل رژيم دټاکنولپاره په پام کې نيولی وو چې دديرش ميلوني افغانستان دوګروله منځه به ۷ ميلونه افغانان چې ددوی په معيارونو برابرول رايي ورکړي اوپه دوهم پړاو کې اشرف غني له خپل سيال څخه دوه ميلونه رايي زياتي يوورې اوپه ربښتياهم دغو افغانانو فکرکړی وو چې مفکراشرف غني به دافغانستان دودانوولو اوسوکالی لپاره عجيبي اوغريبي طرحي له ځان سره ولري اووبه کړای شي چې افغانانوته سوله ييزژوندوروبښي اوله کرزي څخه به يې حکومت مستحکم اوپه خاص ډول به افغانان دټلوالي اوتوري مافياله راج څخه وژغوري ، ځکه داشرف غني ترټولوتودشعارداوو چې هيڅ کله به واک دبدماشانو ،قاچاقبرانو اوهغوڅيروچې ۱۳ کاله يې دافغانانو په شتمنيوتورغوبل جوړکړی واومهم دولتي بنستونه يې په وچ زوريرغمل کړي و واک به نه ورسره شريکه کوي اوهيڅ ډول ايتلاف به نه ورسره کوي.
خوچې کله بدماشانواودټلوالي لوپرانوغوغاجوړه کړه اوخبره يې داوباماوجان کيري ترغوږ پوري ورسوله اواوباماجان کيري کابل ته راوليږه ، نوبيادمفکردفکر ، تدبيراوجراات اندازه ډيرژرپه ډاګه شوه چې دخپل بادار ګټي اولاربښووني دافغانانودهيلواورايوپه نسبت څومره اهميت اوورته درناوی لري ؟
دجان کيري ، دباو اوحکم فروايي هرچادتلويزونو په سکرينونو وليدله چې مفکر اوسيال يې په څومره خوږو الفاظوصرف دجان کيري خبري ترجمه اونوم يې ورته ملي وحدت ورکړ.
زه دخپلې ليکني پای په فيسبوک کې ديوه افغان ورورپه خبروسره کوم چې ډيرې قيمتي اوحقپالې خبري يې کړي هغه دادي :
ما به پخوا هم ملګرو ته دا خبره کوله چې په دې بلواکه هيواد کې ټاکنې کومه معنی نه لري هسې ځانونه به ستړي کړو او کار به هماغه وشي چې امريکا يې غواړي خو دغوملګرو او دوستانو مې تېنګار کاوو چې نه همدا ټاکنې به دا هيواد له بلواکي نه خلاصوي، خو زما چا نه منله او ښه شوه چې دا بلواکی هيواد او پردي شوي مشران ښه ورته جوت شول اودانکی هم ورته ښکاره شوچې بادارخپل غلامان څنګه تس نس کوي اواصلي ماهيت يې خلکوته په ډاګه کوي.

د داعش تېز پرمختګ او د عراق راتلونکی

شهیدزوی

د ۲۰۱۳ کال د مارچ د ۲۰ مې نېټې شپه د عراقیانو لپاره خورا خونړۍ وه کله چې د امریکا طیارو په آباد ؛ ودان او درنا ګانو ښار بغداد باندې په زرونو درانده بمونه وغورځول ؛ ټولې نړۍ نېغ په نېغه لیدل چې د وسپنې او اور ددې باران په نتیجه کې پور ته شوو تورو لوخړو د بغداد ټوله فضا نیولې وه او پر ځمکه یې دوژنو او ورانیو یو قیامت صغرۍ و ؛ په سبا دا ښار په کنډوالې بدل شوی او هر لور ته ویر او ماتم و.

داعراق ته د امریکا له لورې د راورل شویو بدبختیو پیل و چې له بده مرغه د بدبختیو دا لړۍ نن هم دوام لري او په تېرو ۱۱ کلونو کې پکې کابو یو نیم میلیون عراقیان ووژل شول.

دافسوس ځای دادی چې دلته وژنې ،له خپلو سیمو او کورونو نه بې کوره کېدل زنداني کېدل او بې عفتي یوازې دیر غلګرو په لاس نه بلکې دا هر څه تر ډېره حده قدرت او واک ته د رسول شویو ګوداګیانو په لاس رامنځته شویدي نو ځکه د واکمنو پر ضد دلته کرکه هم د حد نه زیاته محسوسېدله خو دا چې د بهرنیانو په شتون کې د عراق جابره اداره نسبتاً مضبوطه وه نو پر ضد یې قیام ته نه عامو خلکو زړه ښه کولو او نه یې د بریالیتوب تمه کوله.

په ۲۰۱۱ کې د امریکایانو د وتلو نه پس چې د بغداد د اداري په سلوک کې نه یوازې دا چې بدلون رانغلو بلکې د ظلم دائره یې نوره هم پراخه او د بې شرمۍ هغه حد ته ورسېدله چې د مسلمانانو پر ضد د مالکي د وحشي شیعه ملېشو او فوځیانو د ظلم او وحشت دسونو پېښو ویډیو کلیپونه هم خپاره شول نو مظلومو او محرومو مسلمانانو د لاسپوڅې اداري په مقابل کې د کر کې ښکاره کولو ؛ دوحشي ملېشو نه د انتقام اخستلو او د ظالم دولت د ړنګولو لپاره ډګر ته د راوتلو پرېکړه وکړه چې له امله یې په ټول عراق او خصوصاً بغداد کې د بدامنۍ پېښې ورځ تر بلې په زیاتېدو شوې او په ۲۰۰۹ کې د امریکایانو د زندان نه ازاد شوې ابوبکر البغدادي چې په ۲۰۱۰ کې په عراق کې مجاهدینو دیبا تنظیم کار پیل کړ نو پکې یې ډېر ژر پرمختګ وکړ او آن د هغه ښارونو خلک یې هم تر شا ودرېدل د کومو سني قبائلو چې په ۲۰۰۶م کې د القاعدې د عراقي

مشر شیخ ابومصعب الزرقاوي دشهادت نه پس دالقاعدې پرضد قیام کړي و؛ همدا ښارونه دبغدادي تر ولکې لاندې راغلل همدلته یې دمجاهدینو شمېر د ۲۰ زرو نه واوښت او همدلته یې خلافت هم اعلان کړ؛ داسې ښکاري چې عراق دیوې سترې او خورا تباه کونکې کورنۍ جګړې پرلور روان شو خو تر څنګ یې دامریکا لاس ته راوړنې او امیدونه هم له خاورو سره خاورې شول.

هو! پدې کې شک نشته چې دعراق اوسنی حالت دامریکا لپاره سراسر تاواني دی او دامریکا ټوله سرمایه ګزاري په سیند لاهو شوه؛ نه یواځې دعراق بلکې دټولې سیمې دتېلو؛ غازو او نورو زېرمو دغصبولو او وربانډې ددائمي قبضې دراوستلو په اراده راغلې امریکا په عراق کې ددې لپاره په ۸ کلن اوږد جنګ کې ځان بوخت وساتلو، په ملیاردونو ډالر یې مصرف او په زرونو عسکر یې قرباني کړل چې دلته به یې اشغال دوام ومومي خو چې پدې هدف کې په بشپړ ډول ناکامه شوه او دعراق نه دتېښتې پر ته بله لار ورپاتې نه شوه نو هیلې یې دمالکي په مشرۍ کې دعراق دلاسپوڅې اداري سره وتړلې او پدې هیله یې دعراق دا ردو په نوم په شیعه ملېشو ۲۵ ملیارده ډالر مصرف کړل چې داهدافو ساتنه به یې وکړي او عراق به دمجاهدینو لاس ته له پرېوتو وشغوري؛ دعراق اداري او فوځ امریکا ته خپل پوره اخلاص ښکاره کړ؛ مجاهد خو پرېږده په نوم سني یې په ملکي او فوځي ادارو کې له مهمو پوستونو نه لرې وساتل او پر مسلمانانو یې ښه له حده زیات ظلمونه وکړل؛ همدا نن چې دالیکنه کوم له رسنیو مې واورېدل چې دبشر دحقوقو دڅار نړیوالې دلې په خپلې یوې وینا پاڼې کې ویلې دي چې یواځې په تېرې جون میاشت کې دعراق شیعه ملېشو او فوځ لږ تر لږه ۲۵۵ سني بندیان دقضا له چوکاټ پر ته اعدام کړیدي.

خو امریکا ته دشیعه ملېشو، فوځ او بغداد اداري دې وفادارۍ، اخلاص او دمسلمانانو پرضد وحشتونو نه یواځې دا چې لاسپوڅي دولت او امریکا ته یې ګټه ونه رسوله بلکې ددوئ دا وحشتونه ددوئ پرضد دمسلمانانو دراپاڅېدو سبب شول او چې مسلمانان راپاڅېدل نو په مقابل کې یې همدا منظمه اردو چې شمېر یې ۵ لکو ته رسېدلو او امریکا پرې ۲۵ ملیارده ډالر مصرف کړي وو دشګو بند وخوت او ورسره دامریکا ترلې ټول امیدونه له خاورو سره خاورې شول چې پخپله امریکایې جنرالانو هم اعترافونه کړي چې زموږ ټولې لاس ته راوړنې له منځه ولاړې.

داعش (دشام او عراق اسلامي دولت) چې مشري یې ابوبکر البغدادي کوي دعراق ځنې شمالي مهم ښارونه یې دخپلې قبضې لاندې راوستي دي؛ او سهمال یې نینوا، بعقوبه، صلاح الدین او الانبار ولایتونه په لاس کې دي؛ په دفاعي لحاظ ډېر مهم دتل عفر ښار هوائي ډګر او دبیجي دتېلو دتصفیې ستر مرکز هم داعش ترخپل کنترول لاندې راوستي؛ دشام پر سرحد پروت دالولید عسکري مرکز او داردن پر سرحد پروت دتریبل پر عسکري مرکز باندې هم دداعش قبضه راغلې چې دادمالکې داداري لوېه ماتې او دداعش مهم پرمختګ ګڼل کېږي.

پر بغداد دشمال له لورې دداعش حملې روانې دي او دراپورونو له مخې اوس دجنوب له لورې هم داعش دحملو تیاري کوي؛ بغداد کې دبي بي سي سره دمرکو پر مهال سیاستوالو او بهرنو دیپلوماتانو ویلي دي چې دداعش دجنګیالو په مقابل کې ددولتي قواوو ضعف دبغداد اوسېدونکي سخت ناهیلي کړیدي؛ دچارو ماهرین وایې چې داسې ښکاري چې دداعش جنګیالي ددولتي فوځیانو په پر تله ډېر ښه روزل شوي او نه یواځې دا چې جنګي تجربه یې زیاته ده بلکې دفوځ په پر تله په ښو او مجهزو وسلوهم سمبال دي.

هو! دا رښتیا ده چې دداعش جنګیالي ددولتي ملېشو په پر تله ښه روزل شویدي او دجنګ په عملي ډګر کې پراخه تجربه لري ځکه چې یواځې دانوم نوی دی زیاتره مشران یې په عراق کې دیرغلګرو پرضد دپیل شوي جهاد پخواني مجاهدین دي.

ښنست اینبودونکي یې ابوبکر البغدادي دی؛ دبغدادي په اړه ډېر معلومات مخې ته ندي راغلي، معلومات همدومره دي چې هغه دبغداد په شمالي سیمې کې په ۱۹۷۱ کې په یوې عادي کورنۍ کې زېږېدلی دی، دلوړو زده کړو دترلاسه کولو لپاره دبغداد پوهنتون ته تللی دی او همدلته یې په اسلامي مطالعاتو کې دکتوره اخستې

ده؛ په ۲۰۰۳ کې دامریکایې او نورو بهرنیو یرغلګرو پر ضد دپیل شوي جهادي بهیر سره ملګرې شو؛ بغدادي هغه مهال دامریکایې فوځونو سره زنداني شوی و کله چې په ۲۰۰۶ کې دعراق دالقاعدې مشر شیخ ابو مصعب الزرقاوي دامریکایې ځواکونو په یوې حملې کې شهید او وریسې په الانبار ولایت کې ځنې سني قبائل دالقاعدې پر ضد راپور ته شول چې له امله یې القاعده تر ډېره حده کمزورې شوه؛ په ۲۰۰۹ کې چې بغدادي دامریکایانو دزندان نه را ازاد شو نو دالقاعدې دزړو غړو دراټولولو او بیا منظم کولو لپاره یې هلې ځلې پیل کړې چې تر ډېره حده پکې بریالی شو او کله چې په ۲۰۱۰ کې په شام کې دبشار الاسد دوحشي ملېشو پر وړاندې مسلمانانو مسلح مقاومت پیل کړ نو بغدادي دموکې نه په استفادې خپل پلویان شام ته واستول او په همدې وخت کې یې خپل تنظیم ته ((الدولة الاسلامیه فی العراق والشام)) نوم کېښود چې داعش یې مخفف دی او انګلیسي کې یې ترجمه په (اسلامک اسټیټ ان عراق اینډ سیریا) کېږي نو ځکه یې مخفف آی. ایس. آی. ایس دی.

بغدادي په همغه ۲۰۱۰ کې دشام النصر نومې جهادي ډلې ته داتحاد پیغام واستولو خو ددې ډلې مشر ابومحمد الګولاني دبغدادي تر قوماندې لاندې جنګېدو ته تیار نه شو چې له امله یې ددواړو ډلو تر منځ اختلافات رامنځته شول او ګڼو موارد و کې دا اختلافات په خپلمنځي خونړي جنګونو هم بدل شول چې په نتیجه کې دواړو اړخونو ته ستر ځاني تلفات هم واوښتل؛ دالقاعدې مشر ایمن الظواهري دالبغدادي نه په کلکه وغوښتل چې خپل فعالیت دې ترعراق محدود او شام دې النصر ډلې ته پرېږدي کومه چې القاعدې ته نېږدې ګڼل کېږي خو البغدادي دالظواهري غوښتنه رد کړه او ویې ویل چې داسلامي خلافت قیام دشیخ اسامه ابن لادن ستره هیله وه چې موږ ددې هیلې دپوره کولو لپاره په عملي جهاد بوخت یو.

دمنځني ختیځ دڅارودیو کمزوري طالب په صفت داماته دبغدادي ډېره لویه زیر کتیا او داعصابو تېزوالی ښکاري چې دالقاعدې داوسني مشر دحکم په ردولو یې دخپل مشر په صفت له هغه انکار وکړ خو ځان یې شهید شیخ اسامه ته نېږدې او دهغه دارمانونو پوره کونکی وښود چې همدې شي هغه دعربي نړۍ دځوانو مجاهدینو اتل کړ او الظواهري له پردې شاته ولاړ.

البغدادي دافغانستان طالبان او دافغانستان داسلامي امارت مشر ملا محمد عمر مجاهد په ښو ټکو یاد کړي او ورته یې پېرزوینې هم وړاندې کړې دي خو خبرې یواځې دشیخ اسامه یادوي او عقیدت او احترام هم یواځې هغه ته لري نو ځکه یې دالظواهري دغوښتنې پروا ونه ساتله او داعش یې په شام کې فعال وساتلو چې له امله یې الظواهري هم دالبغدادي سره دروابطو پرېکون اعلان کړ او ویې ویل چې هغه په تشدد کې له حده تېر شویدی.

البغدادي نه یواځې داچې خپل پلویان یې له شام نه ونه ویستل بلکې وروورویې په شام کې تنظیم دومره ځواکمن کړ چې د۲۰۱۳ په مارچ میاشت کې یې ((رقه)) ښار داسدي ملېشو ونیولو او تر کنترول لاندې له راوستلو نه پس یې پکې شریعت هم نافذ کړ؛ دا رومبی ځل و چې دیو ولایت مرکزي ښار دمجاهدینو تر کنترول لاندې راغلو نو ځکه دا په شام کې دداعش لوی بریالیتوب ګڼل کېدلو.

جهادي موافقې او مخالفې ټولې ډلې دا مني چې البغدادي دجنګ دډګر ستر سالار او کامیاب پلان جوړونکی شخصیت دی؛ او ددښمن دغلطولو او ور ته دفریب ور کولو ډېر ستر استعداد لري؛ دبشار الاسد په ملیشو کې په بلا شهرت لري او ټول دښمنان یې دا مني چې دالبغدادي اعصاب دهغه دجنګیالو دخطرناکو وسلو نه هم زیات خطرناک دي ځکه خو یې دروان کال په جنورۍ کې دمالکي دادارې او سنیانو تر منځ داختلافاتو او واټن زیاتېدو نه ګټه پورته کړه او دالانبار ولایت مهم ښار فلوجه یې ددولتي قواو نه ونیوله ؛وروسته یې دولایت مرکزي ښار رمادي او دشام او ترکې سرحداتو ته نېږدې سیمې هم تر خپل کنترول لاندې راوستې او چې پدې میاشت کې یې موصل قبضه کړ نو نړۍ یې ولړزوله او امریکا وویل چې دعراق په دوهم مهم ښار دداعش قبضه دټولې سیمې لپاره ستر ګواښ دی.

سره له دې چې دعراق اداري ويلي دي چې مخالفين بغداد نشي نيولای خو دعراق اوسېدونكي دسختې وېرې اوور خطايي. ښكار دي اولګيادي خپلو كورونو كې خوراكي مواد زخيره كوي څكه چې دشمال اولويديځ له لورې داعش دپر مختګ په حال كې دي.

ويل كېږي چې بغدادي په چارو كې دخپلو نږدې ملګرو سره مشورې كوي خوېواځې هغه څه كوي څه چې يې په خپل فكر كې سم وي ؛ په مزاج كې يې ډېره سختي ده ؛ دمخالفينو په اړه نرمي ښېخي نه مني ؛ يواځې وژل يې سمه پرېكړه ګڼي چې ورنه په شام، عراق اوبهرنۍ نړۍ كې دنار اضو مجاهدينو او عامو مسلمانانو دنار ضايت لامل هم همدا دمزاج زياته سختي ده. دبغدادي

> د ۲۰ پېړۍ له نيمايي راپه دېخوا د نړۍ ګڼ شمېر اسلامي هېوادونه د غربي واكمنو په څنګ و څټ كې د خپلې بقا زغرې پلټي، كوېټ د عراق پرورانډې جګړه كې د امريكا لمن ته پرېوت، سعودي عربستان د ايران له وېرې خپل هېواد كې د سرو كفارو شتون ته لبيک وويلې، پاكستان د هند او شوروي له وېرې واشنګټن ته د نجات غوښتنه وكړه، قطر او نوريې هم همداسې درواخله. خو دا ټول بدبخته چې له كومې ورځې ددغه ټولي غربي سياست په پښو كې پرېوتي تر نن ورځې يې نه په كورني او نه بهرني سياست كې خودمختاري احساس كړې ده او ځيني خويې لا په كې داسې هم دي چې ورځ تر بلې يې حالت د زوال پر لور پرېوځي.

شعار دی چې دښمن بايدستا په اړه دافكر ونكړي چې ته ګيني په زړه كې رحم لرې ؛ ترڅو دې پر دښمن داسې وېره نه وي پرېوتې چې ستا دنوم پر اخستلو پر هغه رپيدا راشي تر هغې دې بريالیتوب نشي په برخه كېداى.

كه وكتل شي داعش سمدستي ددښمن په زړونو كې همداسې خوف غورځولی دی څكه خودمالكي فوځيانو په شمال كې ددااعش در ارسېدونه ورانډې دد تالاشۍ پاڼكونه، پوستې اوټول عسكري مر كزونه خالي كړي اوپه تېښته تري تښتېدلي وو.

وايې چې بغدادي تـل دراتلونكي پـه بـاره كې فكـر كـوي اوپر دښمن دحملې لپاره داسې وخت اوحالت انتخابوي چې په اړه يې هيڅوک فكر نه كوي ؛ ټايم جريدې ته تېر كال دحزب الله يوقوماندان ويلي وچې بغدادي ډېر خطرناک دښمن دی ؛ له خپلو رازونو هيڅوک نه خبروي چې همدادهغه دبرياليتوب اساسي نكته ده.

دداعش دخلافت، دبغدادي دوجود اومشرۍ دراتلونكي په باره كې به سمدستي څه ويل ګران وي خواوس داعش دومره قوي دی چې القاعده يو وخت هم دومره نه وه قوي.

دبغدادي دښمنان هم مني چې بغدادي دمخكې تللو ډېره لوړه حوصله لري ؛ كينت كنګ نومي امريكايي فوځي افسر وايې كله چې بغدادي پـه ۲۰۰۹م كې آزادېدلونو دنيويـار ک سره دتړ اولرونكي يوعسكر په ليدلو يې وويل ؛بيابه سره نيويار ک وينو؛ كله چې بغدادي دليدر په صفت رامخې ته اونړيوال شهرت يې وموندنو امريكايي فوځيان حيران شول چې داجمله يوه لويه اشاره اودبغدادي دخود اعتمـادي لويـه نښـه وه چې هغـه مهـال پـرې امريكايي افسر نه وپوه شوی.

عراق اوس بې له شكه چې دشيعه اوسني په كورني جنګ اخته شويدی چې دعراقي ملت لپاره داحالت هم له سترو تاوانونو ډک دی خو راتلونكی يې ډېر خطرناک ښكاري ؛ كه داعش دمالكي دشيعه ملېشو په مقابل كې شاتګ ته اړشو نوددې هېواد سنيان به دشيعه ملېشو دبې ساري ظلمونو ښكار شي او كه دداعش په مقابل كې دبغداد اداره پـه كلـي ډول مـاتې تـه نېږدې كېږي نوبيابـه دداعش دپر مختګ دمخنيوي پـه نوم ايران اوحزب الله مداخلـه كوي چې دابه په ټولې نړۍ كې دشيعه ګانو اوسنيانو ترمنځ هغه اور ته لمن وهل وي چې خداى مكړه درامنځته كېدوپه صورت كې به يې ډېر ستر قتل عام رامنځته اود كفري نړۍ ارمانونه به پوره شي نوځكه بايد ايران اوحزب الله دنورې اسلامي نړۍ سره يوځاي دستونزې دريښتوني حل لپاره په پوره اخلاص عملي ګامونه پورته كړي اودعاجلې پرېكړې اوبې احتياطۍ نه كاروانخلي.

اسلامي هيوادوکي

څوارلسمه برخه

داسلاميت او مغربيت ترمنځ کشمکش!

هندوستان کې دمشرقيت او مغربيت...

علامه اقبال او په مغربي تهذيب دهغه تنقيد

ليکوال: داسلامي نړۍ مفکر عالم مولاناسيد ابوالحسن علي ندوي رح - ژباړه: ابوطيبر

داچې نوموړي (علامه محمد اقبال) دغربي تهذيب دجوړښت عنصرونه اودهغه دننه شته کمزورتياوي په پوره توګه څېړلي اوپه هغه کې دپټ فساد تر ټولو زوروېې نظر رسولی و، کوم چې دهغه مادي ارخ له مذهبي، اخلاقي او روحاني، اقدارونه دلويديځ دبغاوت په وجه دهغه په خميره کې اغږلی و، نوموړی دقلب اونظر دې فساد ته کوم چې دغربي تهذيب خصوصيت دی، د روحي چټلۍ نوم اخلي: وايي:

فساد قلب ونظر فرنگ کي تهذيب
که روح اس مدنيت کي ره سکي نه عفيف
ره نه روح مين پاکيزگي تو هي ناپيد
ضمير پاک وخيال بلند وذوق لطيف.
(ضرب کليم ۶۹مخ)

دغربي تهذيب پايله دزړه بې نوري اودژوند بې خوندي ده، کومه چې پرې ختلې، ورته دماشيني اومصنوعي رنګ په ښکلو يې د روحاني اقدارو په لور څخيدلې لارې قطع کړې او لويديځوال يې دخدای ﷻ له رحمت نه لرې بيولي هغه (علامه اقبال) وايي:

يه عيش فراوان، يه حکومت، يه تجارت
دل سينه بي نور مين محروم تسلّی
تاريک هي افرنگ مشينو کي دهوي سي
يه وادئ ايمن نهين شايان تجلی
(ضرب کليم ۱۴۱مخ)

خاي، په خای دغربي تهذيب دبې ديني بنسټ او دهغه په خميره کې يې دلادينيت يادونه کړې، يعني دعلامه په نظر

غربي تهذيب له دين او اخلاقو نه بيزار، له ابراهيمي روح نه متنفر او د باطلو معبودانو د نوي عبادت خانې معماردی "مثنوي "پس چه باید کرد" کې وايي:

لیکن از تهذیب لادینی گریز!   زان که او با اهلِ حق دارد
ستیز فتنه ها این فتنه پرواز آورد: لات و عزی درحرم باز آورد
از فسونش دیده دل نا بصیر   روح از بی آبی او تشنه میر
لذتِ بی تابی از دل می برد!   بلکه دل زین پیکرِ گل می برد
کهنه دزدی غارتِ او برملاست   لاله می نالد که داغِ من کجاست

علامه وړاندې وايي د غربي تهذيب شیوه غارت گري او ادم دري ده، مشغله او هدف يې سوداگري ده، هغه وخت به نړۍ ته امن، سکون، او د بې غرضه محبت او خلوص دولت په برخه شي، چې کله د دې تهذيب ريښې وويستل شي، وايي:

شیوه تهذیب نو آدم دری است   پرده آدم دری سوداگری است
این بنوک این فکرِ چالاکِ یهود   نورِ حق از سینه آدم ربود!
تاته و بالا نه گردد این نظام   دانش و تهذیب و دین سودائی خام

(پس چا باید کرد ۳۰مخ)

دا تهذيب اگر که د خان او تاريخ له پلوه خوان او نوخيز دی، خو د خپلو کمزوريو او اساسي تيروتنو په وجه د نزعې په حالت کې دی او د بشپړ زوال په خنډو ولاړ دی، په دې تهذيب کې شاطرو يهودانو ته چې کوم واک منل شوی، هغه نه په کنو سره لرې نده چې د عيسويانو د سپېڅلي ترکې وارثان يهود شي:

هی نزع کی حالت مین یه تهذیب جوان مرگ
شاید هو کلیسا کی یهودی متولی

(بالجبریل ۱۴۱مخ)

خو د مرگ په بستره د طبعي مرگ په ځای ټول شته اثار او قراين په دې شاهد دي چې دغه تهذيب به د خان وژني مرتکب گرزي او پخپل خنجر به خپله غاړه پرېکوي، د خپل ژوند کيسه به پخپله پای ته رسوي. علامه وايي:

تمهاری تهذیب اپنی خنجر سی آپ هی خود کشی کریگی
جو شاخ نازک په آشیانه بنی گا ناپائدار هو گا

(بال جبریل ۱۷۶مخ)

علامه وايي: غربي تهذيب چې د دين او اخلاقو څخه خارنې او د خدای (ﷻ) نه له ډار پرته د کايناتو د تسخير ولو کوم نازک سفر پيل کړی و، په هغه کې برياوو پخپله د دغه تهذيب وجود او بقاله گواښ سره مخ کړيده، او انديښنه شته چې هغه پخپل اور کې وسيزي او خاورې ايرې شي:

وه فکر گستاخ جس نی عریان کیا هی فطرت طاقتونکو
اسی کی بی تاب بجلیون سی خطر می هی اس کا آشیانه

د سود او د مکر و فن دنيا! د کومې معمار چې فرنگ دی، نوره په نړيدو ده او په ځای يې يوه بله نړۍ ودانيږي، وايي:

جهان نو هو رها هی پیدا وه عَالم پیر مر رها هی
جسی فرنگی مقامرونی بنا دیا هی قمارخانه

(بال جبریل ۱۷۶)

نوموړی وړاندې وايي: دا تهذيب چې د علم په رڼا روڼ دی او د ژوندانه له حرارته سپرغی شيندي، د طبعياتو او صنايعو په دايره کې وخت په وخت خپل کمالات ښکاره کوي، خو په اصل کې له انقلابي ايجاد او اجتهادي قوت نه محروم دی، هلته د عقل گنه دزره زيات د هغه رهبران خپله د تقليد بنده گان او د يوه نوري فقيران دي، له هغه مرکز، مستانه ناري، قلندري هو او پيغمبرانه جرات نه محروم دي. وايي:

یادایامی که بودم در خمستانِ فرنگ
جامِ او روشن تر از آئینه اسکندر است
چشمِ مستِ می فروشش باده را پرورد گار
باده خواران را نگاه ساقی اش پیغمبر است

جلـــوه اوبـــي کلـــيم وشـــعله اوبـــي خليـــل
عقـلِ نـــاپروامتـــاعِ عشـــق راغـــارت گراســـت
درهـــوايش گرمـــئ يـــک آه بـــي تابانـــه نيســـت
رنـــداين ميخانـــه رايـــک لغـــزش مســـتانه نيســـت
(پيام مشرق ۲۴۸مخ)

بل ځاى دغربي تهذيب دروښانه مخ او دتياره زړه انځور داسې کاږي:

يـــورپ ميـــې بهـــت روشـــنئ علـــم وهنـــر هـــى
حـــق يـــه هـــى بـــې چشـــمه حيـــوان هـــى يـــه ظلمـــات
رعنـــائي تعميـــر مـــې رونـــق مـــې صـــفامې
گرجـون سـې کهـې برهکـې هـې بنکـون کـې عمـارات
ظـــاهر مـــې تجـــارت حقيقـــت مـــې جـــوا هـــى
ســـوداينک کـــا اکهـــو کـــې لـــې مـــرگ مفاجـــات
يـــه علـــم يـــه حکمـــت يـــه تـــدبر يـــه حکومـــت
پيتـــې هـــې لهـــو ديتـــې هـــې تعلـــيم مســـاوات
بيکـــاري وعريـــاني ومـــې خـــوري وافـــلاس
کيـــا کـــم هـــې فرنگـــي مـــدنيت کـــې فتوحـــات
وقـــوم کـــه فيضـــان ســـماوي ســـې هـــو محـــروم
حـــد اس کـــې کمـــالات کـــې هـــې بـــرق وبخـــارات

دمغربي تمدن او دهغه په بنسټونو او دهغه دفکر په طرز دانتقيد اوڅېړنه دنوموړي په هغو علمي ويناوو (خطباتو) کې چې په مدراس کې وركړې وې اوبيا هغه

of religious – thought in islam RECONSTRUCTIN

په نوم خپرې شوې په ښه ژورتيا سره راغلى دى، ولې چې دعلم اوفلسفې ژبه دشعر اوادب ژبې په مقابل کې دعلمي اندونو او دکره تنقيد زيات صلاحيت لري، هغه دغرب دمادي تهذيب جوړښت او مزاج په اوسني انسان باندې (کوم چې دهغه نماينده اوعلمبردار دى) هم داشان له هغو مسايلو اوستونزو سره مخ دى دتبصرې لړ کې ليکي:

داوسني زماني تنقيدي فلسفو اوپه طبعي علومو کې اختصاص چې انسان دکوم څه سره مخ کړى دى، هغه تر ډېره د ويلو ندى، فطري فلسفې له شک پرته ورته دا صلاحيت بښلى دى چې فطري قوې تسخير کړي، خوپه راتلونکي کې تري دايمان اواواعتماد دولت وتروري. (تشکيل جديد الهيات اسلاميه ۲۸۷ - ۲۸۸مخ)

اوس مهال چې دذهني زيار ايستلو په وجه کوم نتايج راوتلي دهغو تراثر لاندې دانسان روح وژل شوى ، يعني هغه له خپل ضمير اوباطن نه لاسونه وينځلي، دخيالاتو اواندونو له جهته چې ور و کتل شي ،دهغه وجود دځان سره متصادم دى، له سياسي پلوه که نظر وغورځول شي، نو وګري دوګړو سره لاس اوګريوان دي ،خو په هغه کې دومره توان نشته چې خپل ناروا انانيت ، نه تم کيدونکي لوږه کابو کاندي،داهغه خبرې دي چې دهغو لاندې ژوند دلوړو مراتبو لپاره دهغه کوښښونه تدريجاً پاى ته رسي، بلکې داويل پکار دي چې هغه په حقيقت کې له ژونده ستړى دى، دهغه نظر په حقايقوځښ دى، يعني دحواسو هغه سرچينه کومه چې دهغه تر ستر ګو لاندې ده تېل شوې، له دې وجې يې اړيکه دخپل وجود له عمق سره شليدلي، بيا هغسې ځنګه چې "هکسلي" (HUXLEY) سره اندېښنه وه اوتاسف به يې کاوچې دماديانو دې ځلونې په پوره توګه دهغه لاسونه اوپښې شلې کړې، (تشکيل جديد...۲۸۹ -۲۹۰مخ)

دنن زماني دلادينه اشتراکيت موخه بې له شکه نسبتاً زياته پراخه ده، دهغه دجوش اوجذبې هم هغه حال دى کومه چې ديوه نوي مذهب وي، ليکن داچې دهغه اساس د"هيګل" دمخالف نظر په منونکو دى ، له دې وجې هغه دداسې څه سره لاس اوګريوان دى کوم چې هغه ته دژوند اوځواک سرچينه کيداى شي (تشکيل جديد... ۲۹۱ -۲۹۲)

علامه اقبال غربي تولنه يوه داسې نمونه وراندې کړې چې دهغې ترشاه يواځې وحشيانه رسه کشيده، هغه ورته يو داسې

تهذيب وايي. کوم چې ددينې اقدارو اوسياسي اقدارو دکشمکش له وجې خپل روحاني وحدت له ماته ورکړی.

هغه ديو داسي تجربه کار مبصر په حيث پانګوال او اشتراکيت دماديت ونې دوه ښاخونه او ديوه کاله دوه وګړي ګڼي، چې يو مشرقي دی، اوبل مغربي، خو مادي فکر او دبشريت په اړه دواړو محدود نظر يودی، په يوفکري اوتخيلاتي يون کې چې هغه يکې دسيد جمال الدين افغاني سره ويني دهغه له خولې داتبصره نقلوي:

زندګی اين را خروج آن را اخراج
درميان اين دوسنګ آدم زجاج
اين به علم ودين وفن آرد شکست
آن برد جان را ازتن نان رازدوست
غرق ديدم هردور اوږ آب وګل
هردورا تن روشن تاريک دل
زندګانی سوختن باساختن
درګلی تخم دلی انداختن
(جاويدنامه ۷۰مخ)

غربيان ګم کرده اند افلاک را
درشکم جويند جان پاک را
رنګ وبو ازتن نګيرد جان پاک
جزبه تن کاری ندارد اشتراک
دين آن پيغمبر حق ناشناس
برمُساوات شکم وارد اساس
تا اخوت را مقام اندردل است
بيخ او دردل نه درآب وګل است
(جاويدنامه ۶۹مخ)

مغربي تهذيب او اسلامي هيوادونه:

دمحمد اقبال اند دا وچې مغربي تهذيب دخپل خان رنا کولو ګروپ دی، اسلامي هيوادوته يې هيڅ ګټه نشته اونه يکې ددويم وار ژوند پيدا کولو ورتيا شته، وايي:

نظر آتي نهي بي پرده حقايق انکو
انکه جن کي هوئي محکومي وتقليدي سي کور
زنده کرسکتي ايران وعرب کو کيونکر
يه فرنګي مدنيت کي جوهي خودلب ګور
(ضرب کليم ۶۸مخ)

مغرب چې مشرق نه داحسان کومه بدله ورکړې دهغې په يادولو سره وايي:

فرنګيون کو عطا خاک سوريانی کيا
نبّی عفت وغم خواری وکم آزاری
(دنبي نه عيسي عليه السلام مراد دی)
صله فرنګ سی ايا هی سوريا کيلي
مي وقمار وهجوم زنان بازاري
(ضرب کليم ۱۵۰)

په خټيځ کې دجديديت په علمبردارانو باندې تنقيد:

هغه په اسلامي هيوادو کې دجديديت خوځښت يا په بل سپيناوي دمغربيت په علمبردارانو بدګمان دی او انديښمن دی چې دتجديد دعوت چېرې دفرنګي دتقليد بهانه نه وي .... وايي:

ليکن مجهي درهي که يه آوازه تجديد
مشرق مي هي تقليد فرنګي کابهانه
(ضرب کليم ۱۷۰)

دجديديت دعلمبردارانو کمزوري او ناپوهي ته په اشاره وايي:

مي هونوميد، تيري ساقيان سامری فن سي
که بزم خاوران مي لی کی آئی ساتګين خالي
نئی بجلی کهان ان بادلون کی جيب ودامن مي
پرانی بجليون سي بهی جن کی آستين خالي
(ضرب کليم ۶۹)

دنورو تهذيب او افکارغندي وايي: دهر هغه قوم لپاره دعار اوشرم خبره ده خو دهغه قوم لپاره نه ښونکي ګناده چې دقومونو قيادت او دنړيوال انقلاب لپاره پيدا دی.... وايي:

په افغانستان کې له دې سره سره چې په تیرو کلونو کې نظام او ځایي اداري شخصي شوي دي اوس اوس کوښښ کوي چې د دوی په لاس جوړ شوی قانون هم کرار کرار شخصي شي، دا خبره مې ځکه وکړه چې پرون به مو د عبدالله له لوري د خبرو دراویستو خبره په رسنیو کې اوریدلي وي.

د ټلیفون خبرې په اساسي قانون کې خوندي دي، خو پرون عبدالله وکولای شوای دا خبرې راوباسي او بیا یې ټول عالم ته وروښیي. د عبدالله دا کړنه ددې ښودنه کوي. چې شته اردو، پولیس، امنیت او نور ټول یوازې د یوې اداري په چوپړ کې دي.

له معمول سره سم په نړۍ کې قانوني نظام او قانون جوړونه د دې لپاره وي څو وکولای شي د یوې ټولنې د اشخاصو د غوښتنو د تصادم مخه ونیسي او له دې ډول تقابلونو څخه د مخنیوي او واد په ډول را ښکاره شي. نو قانون ځکه ډیر ارزښت لرونکی رول لري چې په هغه کې د یوې ټولنې ټولو مصالحو ته پام کیږي او په ترڅ کې یې د مصالح کلي، ځینې شته او نه شته توکي د قانوني موارد و په توګه په پام کې نیول کیږي او خلک هم پوهیږي چې دا باید او نباید په عملي کړي او د ورځینو کارونو په ترڅ کې ورته پام وکړي.

جو عـــالمِ ایجـــاد مـــي هـــی صـــاحبِ ایجـــاد
هــــر دور مــــي کرتـــاهي طـــواف اس کا زمانـــه
تقلیـــد ســـي ناکــــاره نکــــر اپنـــی خـــودي کـــو
کـــر اس کـــي حفاظـــت کـــه یـــه کـــوهر یکانـــه
اس قـــوم کـــو تجدیـــد کـــی پیغـــام مبـــارک
هـــي جـــس کـــي تصـــور مـــی فقـــط بـــزمِ شـــبانه
لـــیکن مجهـــي درهـــی کـــه یـــه آوازه تجدیـــد
مشـــرق مـــی هـــي تقلیـــد فرنکـــي کا بهانـــه

(ضرب کلیم ۱۷۰مخ)

دمشرق اسلامي قومونه ملامتوي دچا منصب چې قیادت اورهبري ده لیکن هغه دښکته درجې شاګردی او نقالی کردار اد، کوي … غالباً دتر کانو ته اشاره کوي او وایي:

کرســـکتی تهـــی جـــو اپنـــی زمانـــه کـــی امامـــت
وه کهنـــه دمـــاغ اپنـــی زمانـــه کـــي هـــی پیـــرو

(بال جبریل ۱۷۰)

په جاوید نامه کې دپرنس سعید حلیم پاشا په ژبه په ترکیه کې دکمالي اصلاح وانقلاب دسطحیت او دهغه دداعی اوزعیم کمال (ناترک) دفکري قدامت پالنې او داروپا دبې روحه تهذیب نقالي غندي

مصطفی کو ازتجّدد می سرود ـــ گفت نقشِ کهنه را باید زدود
نو نگردد کعبه را رختِ حیات ـــ گر ازافرنگ آیدش لات ومنات
ترک را آهنگِ نو درچنگ نیست ـــ تازه اش جز کهنه افرنگ نیست
سینه اورا دمی دیگر نبود ـــ درضمیرش عالمی دیگر نبود
لاجرم باعالم موجود ساخت ـــ مثلِ موم ازسوز این عالم گداخت

(جاویدنامه ۲۷مخ)

په اسلامي تهذیب او دهغه په ژوند یقین:

نوموړي داسلامي تهذیب او اسلامي شریعت په لاروال قوت اود نوې نړۍ او نوې ټولنې په تشکیل او تعمیر په هغو ستر و امکاناتو بشپړ یقین و ، دټول اسلامي ګوندونو دګډ کانفرانس دمشر په تو ګه یې په کال ۱۹۳۲ز کې خپله وینا کې مسلمانانو ته په خطاب کې وویل:

دګوم دین عالمبر داران چې تاسو یئ ! هغه دفرد قدروقیمت مني اودهغه هغسې تربیت کوي چې خپل هرڅه دخداید خوښې اوبند ګانو په ښیګڼه ولګوي، ددې قیم دین مضمرات لا ختم ندي، دا دین اوس هم یوه نوې نړۍ پیدا کولی شي، چې پکې له غریب او امیر دواړونه خراج واخلي ،هغه به دانسانانو دمعدو په مساوات نه بلکې دروحونو په مساوات جوړه وي: نوربیا

دغزني ولايت

مر که

له جهادي مسؤل مولوي محمد قاسم صميم سره

مرکه کوونکی ، خبیراحمدمجاهد

غزني ولايت دافغانستان دمر کزي ولاياتو له جملې څخه دی ، چې ختيځ ته يي لوگر او ميدان وردگ ولايتونه ، شمال ته يي باميان او دايكندي لويديځ ته يي زابل او روزگان او جنوبي ارخ ته يي پكتيا او پکتيکا ولايتونه پراته دي .

دغزني ولايت مساحت ٢٢٩١٥ مربع كيلومتره او نفوس يې دوروستيو شمير و له مخې تقريبا نهه لکه تنه دی ، غزني چې دافغانستان له ګڼ نفوسه سيمو څخه ده په تاريخي لحاظ هم دافغانستان يوه مشهوره سيمه ده ، ددې ولايت مر كز (غزني ښار) دی چې داسلامي تاريخ په منځنيو پيړيو کې دغزنويانو دسترې امپراطورۍ مر كز وو ، غزني ولايت په مر كزي ښار سربيره ١٧ ولسوالۍ لري چې نومونه يې په لاندې توګه دي .

اندړ ، دهيک ، زنه خان ، رشيدان ، خواجه عمري ، خوگياني ، واغز ، جاغوري ، ناور ، مالستان ، اجرستان ، گيرو ، قره باغ ، آب بند ، مقر ، گيلان او ناوه .

غزني ولايت په مر كزي افغانستان كې د جهاد له ګرمو سنګرونو څخه شمېرل کيږي ، په دې ولايت کې د امريکايي يرغل د پيل له نيټې يا تر اوسه پورې جهادي خوځښت پر ته له ځنډ او خنډه روان دی چې له بر كته يې د ولايت زياتره سيمې له خارجي يرغلګرو تصفيه شوي دي او دپاتې سيمو د ازادۍ لپاره جهادي حر کت لاهم جريان لري، دلته مو دغزني ولايت لپاره د اسلامي امارت دعمومي جهادي مسؤل مولوي محمد قاسم صميم سره مر كه كړې چې ستاسو توجه ور ته راجلبوو.

پوښتنه

محترم والي صاحب ! داچې تاسې په دې ورستيو کې دغزني ولايت جهادي جريان اوجبهې له نيږدې کتلي ، كه دنوموړي ولايت په عمومي جهادي وضعيت باندې رڼا واچوی چې هلته دخيبر عملياتوپيل اوجريان څنګه روان دی اومجاهدين په څومره ځمکه تسلط لري؟

ځواب

الحمدلله دغزني ولايت جهادي وضعيت دډاډ او اطمنان وړ دی د ولايت په ټولو ولسواليو کې داسلامي امارت دقهرمانو مجاهدينو ښه فعال نظامي تشکيلات وجود لري مجاهدين په اتحاداواتفاق په ښه مورال په ټولو ساحو کې په خپلو نظامي کارونو بوخت دي دولايت نظامي جهادي وضعيت په څو جملو کې په لاندې ډول تشريح کولای شو

الف - ناوه، رشيدان، زنخان دری واړه مفتوحه ولسوالۍ دي ،ددښمن هيڅ عسکر، پوځيان يا اربکيان هلته شتون نلري.

ب - ګيرو،خوګياني اوواغز ولسوالۍ دمجاهدينو تر دايمي محاصرې لاندې دي دښمن ددغوولسواليواکمالات دلوېې قوې يا دهواله لارې کوي ،ددښمن عسکر دولسوالي له انګړ نه بهر نشي راوتلای ،دخوګيانوولسوالی دمقام په دوه سوه متری کې مجاهدينو سنګرونه نيولي دګيروولسوالۍ په پنځه سوه متری کې دپنې په نوم کلی موقعيت لري دغه کلی دمجاهدينوقوی مرکزدی ،دواغظ ولسوالۍ په يو کيلومتري کې داخندخيلوپه نوم کلی موقعيت لري په دغه کلي کي مجاهدين اوسيږي چې له همدغه کلي نه مجاهدين پر دښمن حملې کوي.

ج - دګيلان، آب بند، قرباغ ،اندړو او دهيک ولسواليواويا سلنه دمجاهدينو تر کنترول لاندې دی پاتې ديرش په سلو کې سيمه کې دښمن اوسيږي چې لاهم په ارام سانشي اخستلی مجاهدين دنظامي پلان له مخې ددښمن په ميشت ځايونو کاري بريدونه کوي.

د - دغزني مرکز،مقر اوخواجه عمري ولسواليو کې نسبت نورو ولسواليو ته ددښمن حضور شته ده مګر مجاهدين الحمدلله دقوی ارادې اومتين عزم له مخې ددښمن په قرارګاؤاوپوستو منظمې او کاميابې حملې کوي چې په هره حمله کې دښمن له ځاني اومالي زيان سره مخ شوی، خصوصا دغزني په مرکز کې دښمن دمجاهدينو دځانګړو چريکي ګروپونو دعملياتو او بريدونو له امله له سختي وارخطايي او پريشاني سره مخ دی.

دخيبر عمليات په غزني کې په تاکلي نيټه دالله اکبر په سپېڅلې نعره سره په منظم ډول سره پيل شول چې په جريان کي يي تر اوسه ښې لاسته راوړنې تر لاسه شوي دي ، په دې لړ کې دټولو بريدونو او لاسته راوړنو ذکر خو شايد ددې مرکې تر حوصلې لوړه خبره وي نوځکه دنمونې په شکل څو عملياتو ته لنډه اشاره کوو.

دګيلان په ولسوالۍ کې ددښمن لويه قوه دمجاهدينو لخوا له لس ورځني شديدمقاومت وروسته له شرمونکي شکست سره مخ اود تيښتي لاره يي ونيوله دښمن ونه توانيده چې دمجاهدينو په سيمه کې وړاندې په مخ ولاړ شي.

داب بندپه ولسوالۍ کي ديوه تاکتيکي بريدپه نتيجه کي داربکيانو يو بدنام قومندان شادنام ژوندلاسه ور کړ دواغظ ولسوالی دامنيه قومندان دځلوروملګروپه ګډون اودخواجه عمري امنيه قومندان په جلا جلاحملو کي ووژل شول ،په قرباغ کی داربکيانو دوه پوستې ،په خوګيانو کې يوه پوسته چې نوې يې جوړه کړې وه مکملې فتحه شوې، داندړو ولسوالۍ دعليزو کلي کې دوحشي امريکايانو چاپه دمجاهدينو له شديدمقاومت سره مخ شوله دسيمي دعينی شاهدانو دوينا له مخې دغه چاپه دلسګونو امريکايي او کورنيو غلامو عسکروپه مرګ ژوبله پای ته ورسيده چې ددغو مختلفو عملياتو په ترڅ کي ددښمن په لسګونو عسکر مړه اوژبل شول دوه ميله ثقيلان ،يو ميل دراز کوف، دری ميله راکټ، شپږ ميله کلاشنکوف مجاهدينو په غنيمت ونيول دغسې دغزني په مرکز اونورو ولسواليو کې هم خورا مهم کارونه تر سره شوي دي او دخيبر عمليات تر اوسه ښه خوندوراوله فتوحاتو سره مل په مخ روان دي.

پوښتنه

ښاغلی والي صاحب ، ددوهم پړاو په انتخاباتي ډرامې که لږ توضيحات راکړي ، چې دغزني ولايت په مربوطاتو کې دجوزا ۲۴ ورځ څه ډول تيره شوه اومجاهدينو دنوموړي شيطاني ډرامې دشنډولو په برخه کې څومره چمتوالی درلود اودعملياتو کچه يې څنګه وه ؟

ځواب

ددوهم پړاو انتخابات دغزني په ټولوولسواليو کې بې نتيجې پاى ته ورسيدل په اتوولسواليو کی له سره دانتخاباتومرکزونه موجودنه وو په پنځوولسواليو کې دښمن دانتخاباتولپاره يويومرکزجوړ کړی وو، دانتخاباتوصندوقان دولسوالۍ په داخل کې ايښودل شوي وودسهارله اووبجودمازديګر ترپنځوپورې مجاهدينوپه ټولوانتخاباتي مراکزومنظم کاري بريدونه وکړل دمجاهدينودهدايت په اساس عام خلک هم له خپلو کورونو راوونه وتل ،نوعام اولس له سره په انتخاباتو کی برخه نده اخستې دښارپه څلوروانتخاباتي مراکزوکې دماين تاکتيکي چاودنې وشوې له همدې امله په ښار کي هم خلکودپام وړ ګډون ونکړ نومجاهدينوددغي شيطاني ډرامې دشنډولو لپاره پوره چمتوالی درلودچي په نتيجه کي يې انتخابات شنډاوله ناکامي سره مخ شول .

پوښتنه

دغزني په ولايت کې داربکيانودشرارت اوشتون خبرونه کله ناکله ور کول کيږي ، که په دې برخه کې معلومات راکړی چې مجاهدينو دهغوی دجرړو دويستلوپه برخه کې څومره کار کړی اوپه خاص ډول دعام ولس مرسته داربکيانوپه مقابل کې له مجاهدينوسره تر کومه بريده ده ؟

ځواب

په رښتياهم کله ناکله په مطبوعاتو کی دغزني په لايت کي داربکيانودشرارت اوشتون خبرور کول کيږي خوداسي هم نده لکه څنګه چي په مطبوعاتو کي خپريږي دمقر ،قرباغ شلګراودهيک ولسواليوپه ځينوسيمو کې دغه شرير وسلوال څه ناڅه شتون لري مګر ددوی دنفوذمخه نيول شوي دعام اولس مرسته له مجاهدينوسره بی کچې زياته ده دشلګرپه دريو کي دوه برخي دمجاهدينوتر کنترول لاندي دي ددښمن دتګ راتګ لاري په مايونوپوښل شوي داربکيانوپه پوستومجاهدين دنظامي پلان له مخې مؤثري حملې کوي داولسی خلکوپه مرسته مجاهدين دپوستوپه منځ کی چريکي عمليات کوي.

دقرباغ ولسوالي دکابل - قندهارسړک په دوو برخو ويشلې تير کال له سړک نه لوړه سيمه ټوله ددښمن په لاس کې وه اوله سړک نه لاندې سيمه ترنيمايي زياته برخه ددښمن سره وه، سږ کال الحمدلله له سړ که لاندی سيمه ټوله دمجاهدينوپه ولکه کي ده مجاهدينوديوه تاکتيک له مخې له سړ ک نه پورته سيمي کې داربکيانودوه مهمې پوستې ونيولې چې ددغوپوستوپه نيولوسره ډير کلي دمجاهدينوتر کنترول لاندې راغلل. ددهيک ولسوالۍ په څلوروکې درې حصې دمجاهدينوتر کنترول لاندې دي، يوه برخه چې درباط، لغوات، تاسنګ کلي پکې راځي داربکيانوله شره ندی خوندی پوره يوه مياشت کيږي چی رباط دمجاهدينولخوامحاصره دی دلغوات تاسنګ په کليو کي دمجاهدينودکاميابه چريکی عملياتوپه نتيجه کي داربکيانو دمهمو قومندان عبدالرحمن او جان ولي په ګډون ګڼ اربکيان له منځه تللي دګيلان اوآبندولسواليولخواڅخه دمقرپه ولسوالی دوامداره کاري حملې کيږي.

نودغزني په ولايت کی داربکيانودشرارت مسئله داندېښنې وړنه ده ددوی دنفوذمخه نيول شوي اولس په ټوله توانمندی دمجاهدينوتر څنګ ولاړ دی

پوښتنه

څنګه چې دکابل . کندهار دلويي لار ي زياته برخه دغزني په ولايت پر ته ده ، که مهرباني وکړی دنوموړې لاري دامنيت په اړه لږ رڼاوا چوی چې مجاهدين دعاموخلکواومسافروخونديتوب لپاره څه پروګرامونه لري اودغلواوداړه ماراتومخه يې څومره ډب کړي اوکه داخبره هم راته وکړي چې که دمجاهدينوله ليکوڅخه څدای مکړه څو ک بده استفاده وکړي اوعام مسافروځوروي ، دهغوافرادوتعقيب اوورڅخه دپلټنوپه باب مراجع فعالي اوڅومره چټکي دي ؟

ځواب

دکابل قندهارپه لویه لاره په هره څو کیلومتري مسافه کي ددښمن پوستي وجودلري نواکثریت غلاوي اولوټماري دغلام رژیم دعسکرواواربکیانولخوا ترسره کیږي، مجاهدینوله اولس سره دهمدردی په غرض دخبرپاتوله لاري موټروانانو ته دتلیفون مخصوصي شمیري ور کړي تر څوله ستونزوسره دپیښیدلوپه وخت مجاهدینوته خبرور کړي چي ددغه کار په نتیجه کي دغلا اولوټماري کچه ډیره راکمه شوي ده ،یوځل دشلګردناني په سیمه کي لوټماراتو ۳۰۴ دوله سروس موټر ته مخه نیولي وه موټروانانو مجاهدینوته خبرور کړ ،ډیر ژرمجاهدین سیمي ته وررورسیدل له یوڅه کم مقاومت وروسته دوه تنه غله له وسلوسره ژوندي ونیول شول اوپاتي نوريي په تیښته بریالي شول ، لله الحمدموټرسپرلي ورڅخه وژغورل شوې چي دغه دوه تنه غله داختصاصي محکمي دحکم له مخي دخپل جرم په جزاورسیدل اوالحمدلله دمجاهدینوپه لیکو کي تراوسه پوري داسي څوک ندی پیداشوی چي دمجاهدله نوم نه په استفادې سره دې په غلاکاس پوري کړي، که خدای مکړه داسي څوک پیداشي نوان شاءالله تعالی ډیر ژربه زموږدځانګړي دګروپ لخوانه نیول کیږي اوشرعي محکمي ته به سپارل کیږي.

پوښتنه :

دغزني ولایت له ولس سره دمجاهدینودار تباط په باب که څه راته ووایې چي ترمنځ یې همغږي ،یعني ناسته ولاړه، مشوري اودمتقابلې همکاری سطحه څه ډول ده ؟

ځواب

دغزني ولایت مجاهدین له خپل اولس سره ښه رابطه پوره همغږي ناسته ولاړه لري داولس له مخلصواوباتدبیره وګروسره مشورې کوي اودخلکوحقوقي مسائل په ښې طریقې سره حل اوفصل کیږي دهري ولسوالی په اداره تشکیل کي دښواخلاقوخاوندتکړه عالم دملکي مسؤل په حیث دنده ترسره کوي ترڅواولسي موضوعات دمصلحینو،حکمینویادمحکمې له لاری حل کړي چي داله اولس سره دهمغږۍ ښکاره ثبوت دی اولس هم له مجاهدینوسره ځاني اومالي مرستې کوي په ډیروسختوشرایطو کې په خپلو کوروکې دښمن ځای ور کوي دمجاهدینودحفاظت اوساتنې په غرض په سیمې کې پیرې کوي.

داسلامي امارت مجاهدین دالله ج په نصرت اوداولس په مټ وتوانیدل چي دغزني ولایت حداوسط اوپا ۷۰٪ په سلو کې سیمې له خارجیانواودهغوی دداخلي مزدورانوله شتون څخه پاکه کړي.

پوښتنه

محترم مولوي صاحب ، په غزني کې دجهادي ژوندارونده کومه تازه خوږه اوجالبه خاطره ولري چي تاسي ورسره مخ شوی یاست اوخپرول یې عمومي اوجهادي ګټه ولري شفقت به مووي؟

ځواب

د جهادي ژوند خاطري خو خوراز یاتي دي زه به د مثال په توګه دوه درسره شریکي کړم چې بیخي نوي او تازه دي

لومړی خاطره :

دګیلان ولسوالی ته لویه قوه راغله په سیمیزي تبلیغاتي راډیو کي دښمن په ډیر کبراوغرورسره اعلان و کړچي ډیر ژربه موږ دګیلان ولسوالي له طالبانونه ونیسواوطالبان به ور څخه اوباسو ،مجاهدینو دقوی ایمان اومتین عزم له مخې اته شپې اوورځې مسلسل له دښمن سره مخامخ مقاومت وکړ ، دارن دښمن په نهمه ورځ دسیمې دسپین ږیرو له لارې مجاهدینو ته خواست وکړچې تاسوموږته فقط یوځل دګیلان په ولسوالی دګزمې کولواجازت راکړی نورموږ خپل عملیات پای ته رسوو ،مجاهدینودنظامی شورای دپریکړی په اساس دوی ته جواب ور کړچی موږ به دژوندتروروستی شیبی هم دااجازت درنکړوچی دګیلان په پاکه خاوره دې تاسوپلیت قدمونه کیږدئ.

تردې وروسته جګړې نورهم شدت پیداکړچې بالاخره په لسمه ورځ دښمن له سختې شرمونکې ماتې سره مخ شواوپه

ټيټوســــتر کوله ســــيمې نــــه وتښــــتيدلوبوتن غــــلام اجير عسکر اسيرونيول شو، دوه ميله کلاشنکوفونه اويودانه دوربين يې غنيمت شول

دوهمه جالبه خاطره

دښمن دخوګياڼوپه ولسوالۍ کې نوې پوسته جوړه کړه چې دمجاهدينولـه شـديدمقاومت سـره مـخ شـول پـه دريمـه ورځ مازديګر مهــال مجاهدينوپـــه دغـــه پوســـته تعرضــــې بريدوکړ دغورځنګ په نوم داربکيانوقومندان دمخابرې په ليکه دمجاهدينوپه چينل کې داسلام مقدساتوته ديرزيات سپکاوی وکړ دغه راز يې داسلامي امارت مشرانوته يې بدالفاظ وکارول ،يوه مجاهدپې دمخابرې له لارې په دې ټکوجواب ورکړ (ای الله تعالی ! په خپل قدرت کامله سره دغورځنګ خوله ورماته کړه اوفتحه مورته رانصيب کړه ماله ځان سره وويل انشأالله تعالی دغه دعابه قبوله شي ،جنګ دشپې ترلسوبجوپورې دوام وکړپـه يوه بجـه دشپې دغزني له مرکزنه ددغې پوستې دکومک لپاره يوه لويـه قوه راغلـه خوکلـه چـې هغـوی لـه کومـک ور کولواوسـيمې تـه لـه ننوتلوعاجزپـاتې شـول نـوپې دپوسـتې عسـکروته دتيښـتې امروکړچې همداسې وشول دپوستې عسکروتښتيدل اوپوسته مجاهدينوفتح کړلـه ،دغزني پـه نظـامي روغتون کې ديوه رابط ډاکټر دمعلوماتوپـه اسـاس ددغې پوستې شپږتنه اربکيان مـړه اوڅلورنوريې سخت ټپيان ووچې غورځنګ نومی هم پـه ټپيانو کی وودغـه ډاکټر دوينـا لـه مخې غورځنګ نومی اربکی قومندان پـه خوله کې لګيدلی وو،اوس يې هغه خوله اوژامه ماتـه شوې وه چې ګړی وراندې يې داسلام مقدساتوته وربانـدې ښکنځلې کولې اوس پـه ډيربـدحالت کې دمجاهـدينودرابط ډاکتر ترڅرولانـدی پـروت اونوری اوتې بوتې يې غړولې چې داصحنه هم زمالپـاره ډيره جالبه وه.

پوښتنه

جناب ، والي صاحب ، که څه پيغام اوڅانګړي ټکي لرئ چې دمرکي په جريان کې ورته اشاره نه وي شوې ، مهرباني وکړئ.

جواب

زه خپلوقهرمانومجاهدينوتـــه داپيغـــام لـــرم چـــې دابوبکر الصديق (رض) هغه نصيحتونه په نظر کې ونيسي چې خالدبن وليــد (رض) تــه يــې پــه يوليـک کــې اســتولې وو،ابوبکر الصـديق دمرتدينوپـه مقابـل کـې يـولس جهـادي محاذونـه جـوړ کړل دهرمحاذلپـاره يـې يـو يوقومنـدان او دټولوپـه سـرېې خالـدبن وليدداعلی قومندان پـه حيث وټاکـه ، هغه ته يې په استول شوي ليک کې داسې هدايات وليکل

(۱)په پټه اوښکاره کی له الله ج نه وويرېږه

۲.مرتدينوتـه اول بلنـه ورکـړه اوداورتـه روښـانه کـړه چـې ددوی په اسلام اوداسلام په دوی څه حقونه دي

۳.خپله تګلاره مه پرېږده اوخپل کارونه په اخلاص سره سرته رسوه

۴..په ښه زير کتياله کفارواومرتدينوسره وجنګيږه

۵..خپـل ملګـری خپـل منځـي اخـتلاف تـه مـه پريـږده ترڅوملګروکې کمزوري پيدانشي

که دحضرت ابوبکر الصديق په دغوهداياتوعمل وشي دالله جل جلالـه نصرت به مونصيب شي زمادوهم پيغام داده چې عام اولـس سـره ښـه چلنداونيکـه رويـه وکړوڅکـه داديـارلس کالـه جهادمودالله ج په نصرت اودعام اولس په مټ اومستقيمې همکاری ترسره کړی دغه اولس لـه موږسره په جهادی بهير کی عملاسهيم دی نوبايـددوی مشـروع غوښـتنې واورواوحقوقوتـه يـې ډيرپـام وکړو.

د اسلامي او

نا اسلامي (ديمکراتيک)

نظام توپير!

بشير

هو! موږ د فرمايشي ديمکراسۍ حشر وليد، پټه او کرغېړنه څېره ښه رسواشوه اوزموږ هېوادوالودسر په سترګو وليدل چې د ديمکراسۍ ټولې نارې او سورې نمايشي اوجعلي دي ؟ دولسمشرۍ د انتخاباتو کرغېړنې پروسې خو يې نورې پټې نيمګړتياوې هم رابرسيره کړې چې ديوه ولس په سرنوشت دملنډو وهلو ښه لار ديمکراسي ده ،بل دا هم جوته شوه چې دنړيواکګرو ځواکونو اوهېوادونو ته دبيرته پاته ولسونودايل کولو ښه پلمه ديمکراسي ده ؟

څنګه چې ديمکراسۍ دزيږون ټاټوبې لويديځ دی، دختيځوالو ولسونو لپاره ديمکراسي يو اجنبي نظام و،خو د لويديځ پرلپسي يرغلونو او دخپلو وسايلو په مټ وکړای شول چې په ختيځوالو هم خپل فکر تحميل او ومني ، په دې لړ کې افغانستان تر يوحده خوندي و، دنورو منطقوي هېوادو په پرتله لږ ډېر خپلو عنعناتو او اقداروته ژمن و، ليکن ديوولسم ستمبر نه

وروسته چې کله امريکا دټولې صليبي نړۍ په ملتيا پرې يرغل راوړ، ترڅنګ يې ځان سره

دېې ۵۲ په وزرو کې دديمکراسۍ سوغات هم راوړ، نن افغانستان کې هم هغه ددامريکا يې سوغاتي ديمکراسي پلې ده

لومړي سر کې امريکا دنړيوالي ميډيا په تبليغ افغانانوته دا زهنيت ورکړی و چې دديمکراسۍ راتلو سره سم به دافغانستان کانې سره لالونه اوجواهر شي ، لوږه به ورکه شي ،فقربه نابود شي ،جنګونه به تم شي، سوله او کراري به وزرونه وغوړوي، خو په عمل کې هيڅ هم ونشول،امريکا پوه شو چې نور دکرزي سيکه له چلښت لويدلي ورته افغانان دبيکاره ماشيني پرزې نسبت کوي ،نور ګرانه ده چې ور باندې افغانان تيروزي

اوس دهغه(کرزي) ځای نيولو لپاره په اشرف غنی يا عبد الله باندې ګوته ايښې ،غواړي په هغوئ دواړو کې يودخپل خدمت لپاره غوره کړي

البته دلته یوشي دپام وړ دی چې امریکا ددې دواړو لاسپوڅو ترشاه ،پخپلو کې دافغانانو جنګولو اراده لري ،ځکه داکار ورته دخپلو اوږدمهالو ګټو لپاره داوږدې میشتیدنې فرصت برابروي ،ددې لپاره دافغاني قومونو ،توکمونو اوژبنیو توپیرونو دعنوانولو له لارې هوډ لري افغاني وحدت مات کړي ، لنډه داچې دیمکراسي دامریکا دارادې یوتابع نظام دی چې هغه هرڅنګه وغواړي هغسې یې نړۍ دازادو ولسونو دایل کولو لپاره کاروي بله داچې دیمکراسي دافغانې اقدارو او عنعناتو نه په څرګنده یومخالف نظام دی، دافغاني ګټو اومصالحو په ځای دبهرنیو او اشغالګرو ګټې تضمینوي،هم دا وجه ده چې امریکا له دې لارې نړۍ کې ډېر اعظمي فرصتونه ترلاسه کړي

جوته ده چې افغانان الحمد الله مسلمانان دي او اسلام دحکومت جوړولو لپاره خپل سستم او اصول لري ،هیڅکله د دیمکراسۍ معیارونو ته اړتیا نلري، دیمکراسي دغربیانو اړتیا ده، ځکه ددې پرته خپلو موخوته درسیدو لپاره بله پلمه نلري، افغانستان کې دهر داسې حکومت له جوړیدو سره مخالفت کوي چې هغه دیمکراسۍ ته ژمن نه وي، نمایشي اوجعلي پروسې دهمدې لپاره په کاراچوي،چې وربانديې داسلامي حاکمیت مخه ونیسي ،ددې غرض لپاره یې نړۍ کې په لوی شمېر غلامان دیوهانواوسیاسیونو په نوم ګومارلي دي، هغوئ ورته تبلیغات تنظیموي، خلک روزي، ناندریزې سیالۍ او مقابلې تدویروي.

کله چې پوښه چې ددیمکراسۍ په شعار خلک نه تیروزي،نو اوس یې دملي یووالي شعار پورته کړی ،دخپلو لاسپوڅو ټولې خواوې دایتلافي حکومت په جوړولو اومنلو باندې قانع کوي

جوته شوه چې امریکا په دې سره یو واربیا دافغانانو په ستر ګو کې خاورې اچوي دملي یو والي په شعار خلکوته باور ورکوي چې راتلونکی حکومت دخلکو استازی حکومت دی، لیکن دافغانانو اکثریت پوهیږي چې امریکا له دې لارې څه په پام کې لري؟ نو افغانانو لپاره به داشغال ترسیوري لاندې دملي یوالي په نوم حکومت دکرزي دحکومت نه کوم توپیر ونلري اونه به یې پریکړو اورادوته دخپلواک افغان دولت په حیث احترام ولري.

بس دافغانانودټولو ستونزو یواځینی حل اسلامي نظام دی!! او داسلامي اونا اسلامي نظام توپیر یاپیلتون په دې کې دی، چې په نااسلامي ټولنو کې حکومت ته دیوه حق اوفایدې په توګه کتل کیږي، له دې وجې سیالې ډلې ټپلې دفایدې ترلاسه کولو لپاره ټولې روا اوناروا وسیلې کاروي، هغوئ تل دواک په کشمکش کې ښکېل وي چې دحکومت فایده څنګه اوپه څه ترلاسه کړي؟ څنګه ځان مشر، پاچا، ریس کړي؟

ددې لپاره مختلفې ډلې ټپلې جوړوي، هغوئ درایه ورکونکو دتیرایستلو لپاره مختلفې پلمې، حیلې، اوبهانې جوړوي، هره ډله دځان په ګټه دروغ وایي، ناوړه تبلیغات اوپروپاګند کوي، دد دروغو ویلو لپاره ځانګړي ټیمونه توظیفوي ، هغوئ خپل مخالفان په ډول ډول تورونو تورنوي

هرچې اسلام دی هغه حکومت یو امانت بولي، مسؤلیت یې ګڼي، دواکمنو دعیاشیو اومستیو توکیو موندلو زریعه اوسیله ندی،دمسلمان مشر اوخلیفه په اوږو ددنیا اواخرت دواړو درروند بار ایښودل دي، هر هغه شخص چې پخپله قدرت غواړي، هغه دمشرتوب او امارت لپاره اهل ندی، هرڅوک چې پخپله دواک غوښتنه کوي، هغه سره دالله مرسته اوکومک نه وي، یومسلمان په دې مامور دی چې هغه به پخپله قدرت نه غواړي، تردې پورې چې عبدالرحمان بن سمرة ﷺ ته رسول الله ﷺ یووار وویل: دامارت غوښتنه مه کوه اګر که ددې لپاره دې کړی سوګند هم مات شي، نو

داستطاعت ترحده د حکومت اوڅوکۍ نه تیښته او ځان ګوښه کول غوره عمل دی، بله دپام وړ نکته داده چې اسلام هغه شخص داهلیت له پلوه نا اهل بولي کوم چې ځان پخپله کاندیدوي، او دقدرت غوښتنه کوي، داسلامي شریعت علماوو لیکلي :په اسلامي سیاست کې دا قتدار ترلاسه کولو لپاره دځان کاندیدولو تصور شتون نلري، هرڅوک چې داکار اسلامي بولي، هغوئ اسلام ته دخپلو اختراعي اندونو دمنسوبولو جسارت کوي.

دیوه مسلمان لپاره غوره داده چې هغه داستطاعت ترحده څومره چې ځان دواک نه لرې کولی شي، هغومره غوره ده، ځکه اسلام هغه څوک دواکمن کیدو لپاره نا اهل ګرځوي، څوک چې پخپله واک غواړي، یا ځان پخپله دمشرۍ لپاره وړاندې کوي.

افسوس چې ځیني کسان لګیا دي دخپلې ګیډې راوتلې خبرې اسلام ته منسوبوي یا پردی غربي نظام داسلام ترنامه لاندې قاچاق کوي، حقیقت دادی دغسي کسانوته دیمکراسي په زړه پورې ده، اسلام ددیمکراسۍ له یوه نظام سره که هغه پارلماني دی که ریاستي توافق نلري، ولي په دواړو کې داعلی حاکمیت حتمي مرجع خلک ګڼل کېږي، دخلکو داکثریت هره پرېکړه واجب او نه تنسیخ کیدونکې ده ، په دیمکراسۍ کې داهلیت معیار داکثریت لخوا ملاتړ دی، هغه څوک دواک حق لري چې اکثریت دهغه نه ملاتړ وکړي، که هغه نور هرڅنګه سړی وی، دکردار اوګفتار له پلوه هغه نه تلل کېږي، بل داکثریت پرېکړه که سمه وي اوکه خطاه په هر حالت کې لغوه کیدای نشي، ځیني اسلامي کړۍ دجمهوریت نه په دې دلیل ملاتړ کوي، چې په اساسي قانون کې به دامادە ولیکو «هیڅ قانون دقرآن اوسنت نه مغایر نشي جوړیدای»خو دا ماده لیکل په حقیقت کې دتیرایستلو پرته بله بنه نلري، ځکه دابندیز هیڅکله هم عملي ندی، دپارلمان منتخب استازي چې هروخت وغواړي کولی شي دغه بندیزلغوه وګرځوي .زمونږ لیکوال دیمکراسي چې په ولسواکې سره تعبیروي، ددې مطلب دادی چې معاذ الله دحاکمیت اصلي مرجع ولس دی، هم دا وجه ده چې نن سبا داکثریت نظریې په پراختیا سره زیاتو اسلامي هېوادو نو خپل اسلامي تشخص له لاسه ورکړی دی، موږ پخپل ګاونډ کې وینو چې هلته ښه درانه اومنظم تنظیمونه فعال دي ،بیا هم هلته دپارلمان غړي په ښکاره غوښتنې کوي چې دهېواد دنوم سره شته داسلام لفظ دې حذف کړای شي، داشرط چې خامخا به یې دهېواد ولسمشر او صدر اعظم مسلمانان وي لغوه کړای شي ،دادا کثریت او عامواتنخاباتو هغه بدعواقب دي دکومو له امله چې دهغو هېواد مسلمانان سرټکوي .

دیته په کتو ویلای شو چې هېواد کې ددیمکراسۍ پلي کولو لپاره روانې هلې ځلې هیڅکله هم اسلامي او افغاني صبغه نلري، داخالص غربي نظام دی چې دافغانستان دزمکنیو شرایطو او ځانګړ تیاوو سره سمون نلري ،دافغانانو ددودونو اوعنعناتو ممثل ندی، دایوپردی مفکوروي نظام دی چې جبراً په افغاني ټولنه تحمیل شوی دی، دافغانستان اوسنی وضعیت یومخ دپردیو اشغالګرو لخوا اداره کېږي، هغوئ غواړي دلته دخپلو ګټو لپاره پردی پال دیمکراتیک نظام وپالي ،عبدالله او اشرف غني دواړه دیوه بادار غلاما ندي، چې دهغه ادار په وینا او امر میدان ته راغلي او دهم هغه بادار په حکم دواړه په یوه ایتلافي حکومت کې به کار کوي، افغانستان کې داسلام او او افغانیت په ضد روان جنګ به پرمخ بیایې، له دې وجې دا خوشبیني درلودل چې ددیمکراسۍ علمبرداران به دافغانستان دښیرازۍ لپاره کار وکړي، یا به افغانستان ته داوسني ژړونکي حالت نه نجات ورکړي ،یا دعبد الله او اشرف غني ترمنځ مخاصمت واقعاً سیاسي مخاصمت وي! دواړه دیوه چا کارګران دي ،هدف یې یو دی، منتهی ددې لپاره چې وښیې افغانستان کې انتخابات وشول، ددوسیالانو ترمنځ سیالي وشوه، عبد الله اوغني دیویل رقیبان ښودل کېږي په حقیقت کې دواړه دیوه دربار نوکران دي.



داسلام تشریع اساسات

۶برخه

داربعه مذاهبو دمجتهدینو او فقهاوو طبقات

مفتي شاهد (حقاني)

په تېربحث کې مو داحنافورح دمذهب دفقهاوو طبقات وڅېړل ، دې بحث کې به دګرد امت داربعه مذاهبو دفقهاوو طبقات تر بحث لاندې ونیسو او دا به روښانه کړو، چې کوم فقهاء په کوم فقهي او علمي منزلت کې دتاریخ تشریع اودفقهاوو د طبقاتو دعلماوو لخوا ارزول شوي دي .

په (الموسوعة الفقهية)او نورو فقهي مراجعو کې لیکي:

چې لومړۍ طبقه دکبارو مجتهدینو (مطلق مجتهدینو)طبقه ده ،دوئ هغه څوک دي، چې نن هم داسلامي امت په کچ ډېر پیروان او مقلدین لري او په اصولو او فروعو کې داجتهاد لپاره خپل ځانګړي مناهج لري ،دخپل مذهب لپاره یې داستنباط او استخراج ځانګړې قواعد او اصول وضع کړي او ددوئ ځیرک شاګردان هم ددوئ په پله دخپل استاذ یا امام دقواعدو په رڼا کې فقهي استنباطات کوي ،لکه (امام ابوحنیفه رح ،امام مالک رح ،امام احمد بن حنبل رح او امام شافعي رح) غوندې اصحاب المذاهب یا دمنل شویو مذاهبو ائمه دي .

شام کې د(امام اوزاعي رح) ،مصر کې د(لیث بن سعد رح)،عراق کې د(سفیان ثوري رح او ابن ابي لیلی رح) غوندې نور مجتهدین هم شته، چې ددې اربعه ائمه وو معاصر فقهاء او ددوئ څخه یې منزلت کې کم نه وو،خو نن سبا یې مذهب اوپیروان نه لیدل کیږي او دتفاسیرو ،شروحو او خلافیاتو کتابونه ترې پور مامور دي .

دویمه طبقه : ددې مطلق مجتهدینو ملګري او شاګردان دي، چې دوئ ته د(علامه ابن عابدین شامي رح)داطلاق له مخې (مجتهدین فی المذهب) او دفقهي موسوعاتو په اطلاق (مجتهدین منتسبین) وایي ،دوئ هغه څوک دي چې دخپل امام یا استاذ لخوا په وضع شویو قواعدو او اصولو مسایل استنباط کوي او پېدې کې ورسره اتفاق لري ،مګر په تفریعاتو کې ورسره کله نا کله اختلاف کوي ،که څه هم دا روایت دمطلق مجتهد یا صاحب المذهب څخه نه وي رانقل شوي ،خو بیا هم ددوئ رایه

دمسايلو داستخراج له اړخه اړوند مذهب کې اعتبار لري، لکه دحضرت امام ابوحنيفه رح اصحاب (امام ابويوسف رح ،امام محمد رح ،امام زفر رح او امام حسن بن زياد رح) ، يالکه دحضرت امام مالک رح په اصحابو کې (عبدالرحمن بن قاسم رح اوابن وهب رح) ،يالکه (المزني رح) دامام شافعي رح په اصحابو کې ،البته دحضرت امام احمد رح اصحاب داسې ندي لکه ددې نورو مذاهبو غونډي ،چې د خپل امام څخه يې کله ناکله په فروعو کې اختلاف کړي وي ،بلکې دده شاګردان يوازې په رواياتو او فقهي جزئياتو کې دخپل امام څخه نقل قول کوي لکه : أَبُو بَكْرٍ الأَثْرَمُ وَأَبُو دَاوُدَ السِّجِسْتَانِيُّ وَأَبُو إِسْحَاقَ الحَرْبِيُّ .

دريمه طبقه :مجتهدين فى المسايل دي ،چې البته په ځينو فقهي کتابونو او موسوعاتو کې ورته (مجتهدين في المذهب) نوم کارول شوي ، خو د رسم المفتي او طبقات الفقهاوو کتابونو دمطالعې په رڼا کې ماته دا اطلاق درست نه ښکاري او نه دا دفن دمحققينو نه ثابته شوي ،نو ښه داده چې دې دريمې طبقې فقهاوو ته (مجتهدين فى المسايل)ووايو، او دوئ هغه څوک دي ،چې له خپلو امامانو څخه نه په اصولو او نه په فروعو کې مخالفت کوي، لکن هغه مسايل استنباط کوي، چې دده له امام يا يې اصحابو څخه پکې روايت نه وي راغلی او هم د مسايلو په استخراج کې دخپل امام د منهج کلک پابند او ملتزم وي ،البته کله نا کله دخپل امام سره په هغو مسايلو کې اختلاف کوي، چې په عرف بناء وي او دا مسايل ددې تبيلي څخه نه بولې چې ګونډې داختلاف دليل ورسره شتون لري، بلکې وايي چې دلته اختلاف زمان او عرف دی ،داسې چې که چيرته يې امام په هغې اطلاع وومې چې دوئ پرې اطلاع ترلاسه کړې ،نو ددوئ رأيې ته به رجوع وکړي او دوئ هغه څوک دي ،چې دمذهب په تحقيق ،دقواعدو په تثبيت او دخورو ورو مسايلو په ټولو کې پرې اعتماد کيږي .

څلورمه طبقه :اهل ترجيح فقهاء دي، چې ددوئ دنده داده، چې دمتقدمينو فقهاوو لخوا پدې باب کې دوضع شويو قواعدوپه رڼا کې ځينو مسايلوته په ځينو نورو ترجيح ورکوي .

پنځمه طبقه :دمستدلينو طبقه ده ،دا هغه فقهاء دي ،چې نه استنباط کوي او نه ترجيح بعضو مسايلو ته په بعضو ورکوي، لکن ددوئ کار دادی ،چې دوئ استدلال داقوالو لپاره کوي ، بيان دهغو مسايلو کوي، چې پرې اعتماد موجود وي ،د ترجيح له حکم پرته ددلايلو ترمنځ موازنه کوي او همداسې دهغو مسايلوپه باب چې دعمل کولو لپاره تر نورو اليق او اجدر بيان نه کوي ،البته که دقيق نظر وشي، نو په ډاګه به شي، چې دا دطبقه له مخکنيو دوو هغوطبقو څخه په مرتبه کې کمه نده او ددې امله دا وينا هم سمه ده ،چې داورستي دريواړه طبقات خپلو کې سره متداخل دي او کوم ډير تفاوت يې منځ کې نه تر سترګو کيږي، نو ددې امله دريواړو ته مشترک بيلګې هم بسنه کوي ،لکه له احنافو څخه (امام ابومنصور ماتريدي رح ،ابوالحسن کرخي رح ،جصاص الرازي رح ،ابوزيدالدبوسي رح شمس الائمه حلواني رح او شمس الائمه سرخسي رح) غونډې نامتوعلمي شخصيتونه مثالونه کيدای شي ،همداسې دامام مالک رح دمذهب له امامانو څخه دافقهاء دي : (أَبُو سَعِيدٍ البَرَادِعِيُّ ، وَاللَّخْمِيُّ ، وَالبَاجِيُّ ، وَابْنُ رُشْدٍ ، وَالمَازِرِيُّ ، وَابْنُ الحَاجِبِ ، وَالقَرَافِيُّ) ، له شوافعو څخه دا علماء دي :(أَبُو سَعِيدٍ الإِصْطَخْرِيُّ ، وَالقَفَّالُ الكَبِيرُ الشَّاشِيُّ ، وَحُجَّةُ الإِسْلَامِ الغَزَالِيُّ) دي ،اوله حنابلو څخه دا فقهاء دي :(أَبُو بَكْرٍ الخَلَّالُ ، وَأَبُو القَاسِمِ الخِرَقِيُّ ، وَالقَاضِي أَبُو يَعْلَى الكَبِيرُ)........

که څه هم دتشريعي تاريخ پوهان ددې فوق الذکرو فقهاوو په

مراتبو او طبقاتو کې اختلاف لري ، خو په ټولیز ډول پدې سره متفق دي ، چې دا علمي ستې دمسایلو په تثبیت له غوره ماضي څخه برخمند دي او پدې کې کومه ستونزه نشته .

مقلدين

مقلدين : هغه څوک دي ، چې داجتهاد په درجه کې نه وي او ددوئ عمل په قوت د نقل کې وي ، چې دا دوو طبقاتو ته ویشل کیږي ،یوه د(طبقة الحفاظ) او بله د(طبقة الاتباع المجرد) ده.

الف -طبقة الحفاظ :دوئ هغه ديني پوهان دي ، چې دمذهب اکثره احکام او روايات ورته معلوم وي او دوئ په اجتهاد کې نه بلکې په نقل کې حجت وي ،نو دوئ په نقل درواياتو ، ددې رواياتو څخه ډیر واضح دبيان کولو ،ترجيحاً داقوی رأيې په نقل کې ،پرته ددې څخه چې دوئ ورته ترجيح ورکړي حجت وي ،چې علامه ابن عابدين شامي رح ددوئ په باب وايي چې ژباړه : او دوئ قادر وي داقوی ،قوي او ضعيف ترمنځ په تميز او تفکيک باندې ،او همداسې د ظاهرالرواية، ظاهرالمذهب او نوادر الرواية په تميز هم توانايي لري ،لکه دمعتبرو متونومصنفين يعني لکه (صاحب كنزالدقايق ،صاحب تنوير الابصار ،صاحب الوقايه او صاحب المجمع) چې ددوئ شان دادی ،چې کمزورې روايات او مردود اقوال به خپلو کتابونو کې نه را نقلوي ،الموسوعة الفقهيه ددوئ په باب بيا وايي چې ((وَعَلَى هَذَا لا يَكُونُ عَمَلُهُم التَّرجِيحَ ، وَلَكِنْ مَعْرِفَةُ دَرَجَاتِ التَّرْجِيحِ وَتَرْتِيبُهَا عَلَى حَسَبِ مَا قَامَ بِهِ الْمُرَجِّحُونَ ، وَيَخْتَلِفُونَ حِينَئِذٍ فِي نَقْلِ التَّرْجِيحِ ، فَقَدْ يَنْقُلُ بَعْضُهُمْ تَرْجِيحَ رَأْيٍ عَلَى رَأْيٍ ، وَيَنْقُلُ الآخَرُ خِلافَ ذَلِكَ ، فَيَخْتَارُ مِنَ أَقْوَالِ الْمُرَجِّحِينَ أَقْوَاهَا تَرْجِيحًا وَأَكْثَرَهَا اعْتِمَادًا عَلَى أُصُولِ الْمَذْهَبِ ، أَوْ مَا يَكُونُ أَكْثَرَ عَدَدًا ، أَوْ مَا يَكُونُ صَاحِبُهُ أَكْثَرَ حُجِّيَّةً فِي الْمَذْهَبِ .)) ترجمه : ددوئ کار به ترجيح نه وي ،بلکې درجات دترجيح به ټاکي او د مرجحينو په ترتيب سره به يې مرتب کوي ،اختلاف به دترجيح پر وخت سره کوي، بعضې به دترجيح نقل دبعضو په بعضو باندې کوي او نور به يې خلاف کوي ،نو دوئ به يې غوره کوي، دمرجحينو اقوی ترجيح اوهغه چې دمذهب په اصولو يې زيات اعتماد وي، يا يې عدد زيات وي اويا يې صاحب په مذهب کې دزيات حجت خاوند وي) دوئ ته هم دافتاء ورکولو حق شته ،خو البته له هغو مخکنيو څخه يې دايره څه تنګه ده ، په (فتاوی خيريه) کې وايي چې : وَقَدْ قَالَ فِيهِمْ ابْنُ عَابِدِينَ : وَلا شَكَّ أَنَّ مَعْرِفَةَ رَاجِحِ الْمُخْتَلَفِ مِنْ مَرْجُوحِهِ وَمَرَاتِبِهِ قُوَّةً وَضَعْفًا هُوَ نِهَايَةُ مَآلِ الْمُشَمِّرِينَ فِي تَحْصِيلِ الْعِلْمِ . فَالْمَفْرُوضُ عَلَى الْمُفْتِي وَالْقَاضِي التَّثَبُّتُ فِي الْجَوَابِ ، وَعَدَمُ الْمُجَازَفَةِ فِيهِ ، خَوْفًا مِنَ الافْتِرَاءِ عَلَى اللَّهِ تَعَالَى بِتَحْلِيلِ حَرَامِهِ وَتَحْرِيمِ ضِدِّهِ

(الفتاوى الخيرية ٢ / ٣٣ ط الأميرية .)

ددې طبقې دنده دنقل دصحت له حيثه نه، دقوت ددليل له حيثه، تصنيفات او په مذهب کې داقوالو جمع کول دي .

ب -الْمُتَّبِعُونَ : ددوئ څخه هدف هغه څوک دي، چې دمذهب سره په اړوندو مسايلو د نورو اتباع کوي او دهغه چا پيروي کوي، چې مخکې يې په اجتهاد ،ترجيح بين الاراء او استدلال کې مخينه موندلې وي ،دوئ صرف د هغو کتابونو فهم کولای شي، چې ترجيحات پکې نور فقهاوو کړي دي ،دوئ پخپله درواياتو تر منځ ترجيح نشي کولای او نه يې دمرجحينو غوندې علم وي ،چې ددوئ په هکله (علامه ابن عابدين شامي رح فرمايي((لا يُفَرِّقُونَ بَيْنَ الْغَثِّ وَالسَّمِينِ ، وَلا يُمَيِّزُونَ الشِّمَالَ مِنَ الْيَمِينِ ، بَلْ يَجْمَعُونَ مَا يَجِدُونَ كَحَاطِبِ لَيْلٍ ، فَالْوَيْلُ كُلُّ الْوَيْلِ لِمَنْ قَلَّدَهُمْ .))

(رسم المفتي لابن عابدين)

سرپورته کوه د خپلواکۍ بیرغ ورپه!

لیکوال: ملاسعد ناګړی

دتورو شرنګي کې، د اسانو ششني کې، د زخمیانو کرېږو او د تکبیر په ملکوتو چیغو کې یې وړاندې ګام نه شواى اخیستی، په اس سپور ځوان په ښي لاس کې محمدي بیرغ رپاند و، په ټول لښکر کې د بیرغ په رپیدا وینه په شور کې وه، ټول ډاډه و، چې دوی لا شته، ټول پوهېدل چې زموږ بیرغ لا لوړ دی، لوړ پر دې مانا چې لا هم د ولاړېدو توان لرو، لا هم دوړاندې تګ زور لرو، لا هم په درو زړو تنو د دوو لکو رومیانو په وړاندې د محمدي بیرغ رپېدل ساتلی شو.

دا د مؤته غزا ده. په اس سپور ځوان محمدي بیرغ د دوو لکو رومیانو په وړاندې رپاند ساتلی دی، له اسه ښکته شو خپل اس یې په توره وواهه او په اسلام کې لومړی ځل د مجاهد له خوا اس شهید شو. وړاندې یې منډه واخیسته، بیرغ رپیده، بیرغ په لښکر کې ساه چلوله، بیرغ د سرلوړی ډاډ ورکاوه. بیرغ په دوی کې د راټولېدو زور پیدا کاوه

د یو کافر توره یې ښي لاس ته سمه شوه. لاس یې پرځمکه ولوید. بیرغ یې ترځمکې پرېنښود. ښی خپړې له ځمکې ورته کتل چې، کیڼې خپړې خپلې ګوتې د بیرغ پر ډنډه راټولې کړې، بیرغ وخندل او په ټول لښکر کې

یې د حال په ژبه زوره تکبیر ناره وکړه. په چپ لاس کې یې د بیرغ رپېدل وساتل، ځوان وړاندې روان و، بلې توري کیڼ لاس په ځمکه وویشت، د لاس خپړه له خندا شنه شوه، دواړو خپړو د لښکرو له زوروړو بوټونو لاندې په خپلو ښنګلو نارې وهلې:

بیرغ ونه لوېږې! بیرغ ځمکې ته مه پرېږدئ!

ژر یې محمدي بیرغ په ځان پورې کلک ونیو په سرو وینو رنګ ځوان د پرې شویو لاسونو په پاتو برخو په تېر پورې کلک ونیو. په ده کې لا وس پاتې و، دی لا وړاندې روان و، د ده دوه لاسونه د لښکر تر پښو لاندې ورک شول، ده خپلې خپړې د اسانو په پښو کې پرېښودې، خو بیرغ یې لوړ وساته. بیرغ رپیده. د ده له پاتو لاسو نو سرې وینې روانې وې. ده د بیرغ په رپېدو ساه اخیسته.

وروستی، زوروري توري په ښی اوږه په دوه برخې نیم کړ. ګډوډ پرځمکه ولوید. روح یې د لښکر لپاسه وخندل، روح خپل کالبوت په ځمکه دوه ټوټې لیده. د حضرت جعفر رضی الله عنه دوه برخې بدن پرځمکه ولوید. خو بیرغ د لکونو رومیانو تر پښو لاندې کېده چې حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه پورته کړ.

په جنګ کې

(ملا محمد داود همت)

پيداشومه په جنګ کې رازلمی شومه په جنګ کې
خاوند دسپينې تورې جنګيالی شومه په جنګ کې
بخښلې راته رب دمور په پيو کې غيرت وو
نو ځکه ويار ګټونکی بريالی شومه په جنګ کې
وهمه دنړۍ له استکبار سره دغرې
راوړونکی دبرياوو ننګيالی شومه په جنګ کې
له مانه وړاندې ځومره اتلان چې دي تير شوي
زه هم دهغو تلليو لاروی شومه په جنګ کې
څپې او سرې لمبې دانقلاب رانه راتاوشوې
همت زما ملاتړی شو ژوندی شومه په جنګ کې
ځواکونه دځواکمن غليم مې ګورئ تار په تار کړل
په قهر راځرګند لکه زمری شومه په جنګ کې
ور ووتم دژوند نوې سپيڅلې مرحلې ته
احساس کړمه پياوړی ګړندی شومه په جنګ کې
په خوند او په قيمت دآزادۍ هله خبر شوم
چې سم په مردکو سوری سوری شومه په جنګ کې!!
ښمنتن مې مدد وکړ او ملکو بدرګه کړم
(داؤد همته) اوس دکار سړی شومه په جنګ کې

نازولی انقلاب

(نظام کندهاری)

بيا به په ناز ناز يو نازولی انقلاب راشي
يا به له آسمانه د رقيب پر کور عذاب راشي
تول به لمن شي له ګل بڼ نه د خزان ظالم
بيا به په خندا خندا بلبل او ګل ګلاب راشي
نه به ميکدې نه ميخانې نه کليساوي وي
يو وار چې بيا دور د ممبر او د محراب راشي
ورک به تورتمونه د فتنو او فسادونو شي
لمر غوندې روښانه به عمر عاليجناب راشي
ورکې به شي چيغې د شوم بوم زمونږ له کلي نه
سيوری د همای به راشي بيا به سپين عقاب راشي
ته مې اوس تعذيب په قسما قسم وحشتو کوه
بيا بې يوه ورځ زما او ستا تر منځ حساب راشي
مياشت د اجابت ده اې نظامه خدای ته سوال کوه
بيا چې پر وطن باندې نافذ د رب کتاب راشي

خيبري فتحې

(ولی الله ذهين)

راختلې د خوښۍ ځلاندې لمر دی
اې خيبره پل او نوم دې بختور دی
هسکې غاړې له زندان اتلان راغلل
په يو ورځ باندې کوچنی او لوی اختر دی
تم شه تم شه د صليب د نړۍ پلاره
راوتلی د مهدي امام لښکر دی
وار دې اخلي ځوريد لي فلسطينه
ايوبي د وخت ژوند ثالث عمر دی
لکه ستوری موږ ته لار د نجات ښيي
شيطانانو ته طالب جانان خطر دی
د ذهين د اميدو محور طالبه
په نامه کې دې رب ايښی لوی اثر دی

عیدآمد

(حمید حقیقی)

عیــد آمــد عیــد دوران جهــاد
عیــد تقــویم حــق ورفــع فســاد
عیــد رشــد مــؤمنین دیــن شــان
عیــد تسـلیط مسـلمان بـر مـراد
عیــد یکــه ایــن دنیــه پــیش رفتــه را
زد مشــتی بــر دهن او زنــده بــاد
روزی عیــد مــا عیــد طوفان غــم
بــود از دســت زبــر دســتان شــاد
شـادی شـان روز بـه روز افسـرده شـد
از خجالــت ســر فروانــد در بــلاد
پــول رفــت تانــگ تــوپ و زور و زر
دولــت وشــا هنشــهی نــام ونــژاد
عیــد مــا اعجــاز آور عیــدی بــود
دادشــان و شــوکت ایشــان بیــاد
نــی کــه تنهــا شــوکت ایشــان دریــد
ارهٔ بــر گــردن مســتان نهــاد
خیــل مــزدور خیــل افرنــگ ویهــود
از غــم افســردگی آزرده بــاد
مــا بــرای حــق پرســتي ســر دهــیم
دیــن جماعــت بهــر تســخیر بــلاد
حیــف وصــد افســوس بــر آنــان وضــیع
دا ئمــا محصــور درفکــر عنــاد
از حســادت وز عنــاد و خــود ســری
نقــش میخواهنــد درأم البــلاد
مــا بــه فضــل و رحمــت آن کردگــار
نقــش خــوبي پــرده ایــم دراجتهــاد
از حقیقتهــا حقیقــي چنــد گفــت
لا تعــد دان احصــای مــراد
بــر ســر ایــن مــردم پســت و پلیــد
ایــن شــعارم هســت کینهــا مرده بــاد

بی ضمیره مسلمان

(مولوی رضوان الله فیضاني)

مسـلمان چـې لـه کـافر سـره جلـیس شـو
خلکـو واوري سـکنی ورو د ابلـیس شـو
چـې یهـود او نصـارا خپـل دوسـتان بـولی
د تـولی د منـافقو لـوی رئـیس شـو
د اسـلام سـپخلي لاره یـې چـې پرېښـوه
د الله پـه لعنتونـو کـې غمـیس شـو
هغـه څـوک چـې شـو قربـان د خـدای لـه دینـه
د تـاریخ زرینـو پـانو کـې نـویس شـو
چـې جـام د شـهادت پـه مینـه نـوش کـړ
پـه درګـاه خـدای بـې حـده انـیس شـو
د اسـلام بـاغ تـه یـې ورکـړه خپلـه وینـه
پـري رنګـین قنـدوز، مزار، پکتیا، بادغیس شـو
چـا بـې ننګـه د پـردو عنعنـات راوړل
بـې حیـا او بـې ضـمیره ډیـر خسـیس شـو
کـوټ پتلـون قـره قـولی یـې خپـل لبـاس کـړل
ورک څـادر ورکـه پګـړۍ او ورک کمـیس شـو
دښـمنی د علمـاوو رواج شـوي
لـه بـې ننګـه مسـلمان نـه جـوړ خمـیس شـو
فیضـانی تـش پـه نامـه مسـلمان دیـو شـو
لـوټ هـا تخـت د سـلیمان او د بلقـیس شـو

زنداني جانان

مـا پـه اوښـکو بدرګـه کړلـو جانـان دلـرې لـرې نـه
غېـږه کـې مـې کلـک کړلـو جانـان دلـرې لـرې نـه
هېڅ مـې پـر ځـان پـوه نـه شـوم، چـې څنګـه بـه:
بـکل مـې پـه تنـدي کړلـو جانـان دلـرې لـرې نـه
مـا یـې پـه فـراق کـې بـلا ډېـرې شـپې سـبا کړلـې
نـن مـې راروان دی زنـداني جانـان دلـرې لـرې نـه
هغـه لکـه یوسـف پـه فرعـوني زنـدان کـې بنـد و
الله راتـه حاضـر کړلـو جانـان دلـرې لـرې نـه
((درد)) بـه یـې پـه دردونـو بانـدې ودردېـد!
کـړل بـه چـې آهونـه مـې جانـان دلـرې لـرې نـه!!

دشهید شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم خالد

ژوند او کارنامو ته کتنه

عبدالرؤف حکمت

د امریکا په خلاف د افغان اولس جهاد کومه معمولي یا عادي پیښه نه ده، بلکې دا دحق او باطل یوه مثالي ، ستره او تاریخي معرکه ده، چې د اسلام اومسلمانانو په تاریخ کې به ځانګړی ځای ولري، ددې معرکې د بریا یو علت دادی چې رهبري یې د ټولنې د زبده ، مخلصو او روښانه اشخاصو په لاس کې ده، د جهاد قائدین او مشران زیاتره علماء کرام، ددیني علومو طالبان ، د قرآن حافظان یا د ټولنې نور متدین اشخاص دي، په دې لړ کې یو زیات شمیر هغه دعلم او کمال څښتنان چې باید ټولنې ته یې علمي او قلمي خدمت کړی وای هم د جهادي ضرورت له امله مجبور شوي چې قلم او کتاب کیږدي او د باطل په وړاندې مسلحې مبارزې ته وروړاندې شي.

شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم خالد چې په علمي حلقو کې یې په مولوي عبدالحکیم شاولیکوټي سره شهرت درلود هم همداسې یو څوک و، نوموړي ته الله تعالی ستر علمي استعداد ورکړی و، د تصنیف او لیکوالۍ کمال یې هم درلود، خو امریکایي یرغل باعث

شو چې نوموړی خپل علمي خدمت او تدریس پریږدي او د کفر په خلاف وسله واخلي، نوموړي تر هغه مهاله دغه مبارزه جاري وساتله ترڅو په همدې لاره کې یې د شهادت جام وڅښه. راځئ یو شیبه ددې مبارز او مجاهد عالم په ژوند او کارنامو وغږیږو ترڅو مو په ورځني ژوند کې د تنویر او رهنمایي باعث شي.

مولوي عبدالحکیم

مولوي عبدالحکیم خالد دمحمد رحیم زوی د جلال الدین لمسی چې د پښتون قوم له الکوزي قبیلې څخه و په ۱۳۸۱ هـ ق کال کې د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ په شالیزاري کلي کې دنیا ته سترګې وغړولې.

عبدالحکیم خالد په یوه دین دوسته خاندان کې زیږیدلی و، نوځکه د کورنۍ د غړو لخوا په کوچنیوالي دیني زده کړو ته سوق شو، لومړنۍ الفباء او ابتدایي زده

کړې یې د خپل کلي په مسجد او نږدې سیمو کې ترسره کړې، نوموړی لا بیخي کشر و چې شوروي یرغلګرو دافغانستان په پاکه خاوره تیری وکړ او په مقابل کې یې مسلح جهاد زور واخیست، دغه مهال له کم عمره عبدالحکیم څخه هم د ژوند نورې بوختیاوې پاتـه شوې او د جهادي فریضې اداء کولو لپاره یې ټوپک اوږې ته کړ.

په جهاد کې له شمولیته پیاتر مشرتوبه

ملا عبدالوهاب چې د کندهار د مرکز او سیدونکی دی او د شهید مولوي عبدالحکیم صاحب د پخواني جهاد دوخت ملګری دی وایي: د کندهار په شمالي ولسوالیو کې د کمونیستانو او شوروي یرغلګرو په خلاف د جهاد یوه قوي جبهه د شاولیکوټ او نیش په حدودو کې د دره نور جبهه وه، د کمونیستانو خلاف دجهاد له پیل وروسته ددې جبهې بنسټ د شاولیکوټ د کجور سیمې داوسیدونکي تکړه مجاهد ملا عبدالودود آخند لخوا کیښودل شو، د دره نور جبهه چې وروسته دطالبانو په جبهه مشوره شوه په شاولیکوټ، نیش، خاکریز او نورو شاوخوا سیمو کې یوه قوي جبهه وه چې په دښمن یې سخت بریدونه کول او د کندهار – روزګان لاره یې همیشه تړلې ساتله، ملاعبدالوهاب وایي د جهاد په لومړیو کلونو کې مولوي عبدالحکیم صاحب چې عمر به لا شل کاله ته نه و رسیدلی، په همدې جبهه کې د جهاد په نیت شامل شو، نوموړی ډیر کم عمره وخو جهادي جذبه، اخلاص او همت یې خورا لوړ و، دغه مهال چې په سیمه کې کمونیستان وځپل شول او تریوه حده پراخي راغله، دکندهار ولایت مشهور جهادي مشر حافظ عبدالکریم زموږ جبهې ته راغی او له موږ نه یې غوښتنه وکړه چې دعملیاتو لپاره ارغنداب ته ښکته شو، ځکه نور په دې سیمه کې داسې هدف نه و پاته، وروسته فیصله په دې وشوه چې حافظ عبدالکریم له خپلو مجاهدینو سره ارغنداب ته لاړ او موږ په خاکریز عملیات پیل کړل، دا د جهاد ابتدایي وختونه و چې دکندهار ټولې ولسوالۍ پرځای وې او لا کومه ولسوالي نه وه فتحه شوې، دخاکریز ولسوالۍ اکثره سیمې له حکومتي سربازانو او عسکرو ډکې وې، د دره نور جبهې طالبانو په خاکریز عملیات پیل کړل په همدې عملیاتو کې مولوي عبدالحکیم صاحب هم له موږ سره وه، چې هغه مهال کشر طالب وه، ددې عملیاتو په نتیجه کې دخاکریز دمرکز په شمول ټولې سیمې فتحه او له کمونیستي عسکرو تصفیه شوې، مجاهدینو دخاکریز په مرکز کې قرارګاه جوړه کړه، همدلته د ۲۵۰ په شاوخوا کې مجاهدین اوسیدل او نورو سیمو ته به دعملیاتو لپاره تلل، مولوي عبدالحکیم صاحب هم په همدې جبهه کې جهادي خدمت کاوو، ترڅو د ډیرو ستومانیو او جهادي مشقاتو له امله سخت مریض شو او دځیګر تکلیف ورته پیدا شو، او دعلاج لپاره پاکستان ته لاړ.

په پاکستان کې نوموړي له علاج وروسته دیني زده کړې پیل کړې، دبلوچستان د کویټې په شالدره اونورالمدارس مدرسه چې په دوه سیټه مدرسه مشهوره وه دغه راز یې په پیښور کې هم په مختلفو مدارسو کې درسونه وویل ترڅو د ۲ کلونو په اوږدو کې یې دیني علوم پای ته ورسول او د پیښور په امداد العلوم مدرسه کې یې له شیخ الحدیث مولانا حسن جان صاحب څخه ددیني علومو دفراغت سند ترلاسه کړ.

له فراغت وروسته بوځل بیا خپلې سیمې د کندهار شاولیکوټ ته ستون شو او ددره نور په جبهه کې یې جهادي خدمت پیل کړ، دغه مهال مجاهدین په همدې سیمه کې اوسیدل او دعملیاتو لپاره به ارغنداب، پاشمول او دکندهار – هلمند دلارې نورو برخو ته تلل او په کمونیستي عسکرو او شوروي یرغلګرو به یې بریدونه کول، مولوي

عبدالحکیم صاحب په همدا سې یوه جهادي سفر کې په ارغنداب او ژړې کې ۷ میاشتې تیرې کړې ، او چې کله بیرته شاولیکوټ ته ستون شو دغه مهال مجاهدینو د یوې شرعي محکمې د جوړولو ضرورت حس کړ.

دغه وخت دکندهار په سطحه د ټولو مجاهدینو عمومي قاضي او د محکمې مشر په مولوي پاسني مشهور مولوي سید محمد صاحب و، مولوي پاسني صاحب بیا په هره سیمه کې محلي محاکم او قاضیان مقرر کړي و، چې په شاولیکوټ او شاوخوا سیمو کې یې دمحکمې له جوړولو وروسته مولوي عبدالحکیم صاحب چې تکړه عالم او پرهیزګاره شخص و قاضي مقرر کړ.

له دې وروسته مولوي عبدالحکیم صاحب نه یوازې د شاولیکوټ، خاکریز او نیش په سیمو کې دمجاهدینو قاضي شو، بلکې په خپله جبهه کې یې ددیني علومو تدریس هم پیل کړ، تردې چې وروسته یې دتدریس سلسله دنبوي احادیثو او صحاح سته تر تدریس او دقران کریم د تفسیر او ترجمې تر دورو پورې ورسیدله او په دې توګه په شیخ الحدیث سره مشهور شو.

شورویانو په وروستیو کې غوښتل چې د روزګان په ترین کوټ کې محاصره حکومتي کسانو ته اکمالات ورسوي ددې لپاره یې یو لوی کتار جوړ کړ او د روزګان په خوا روان شو له دې قوې سره سخت جنګونه وشول چې په همدې جګړه کې مولوي عبدالحکیم صاحب په ژامه ولګید او ټپي شو.

ملا عبدالوهاب وایي مولوي عبدالحکیم صاحب چې تکړه عالم او مخلص مجاهد و په همدې سیمه کې نه یوازې قاضي و بلکې د وخت په تیریدو سره د مجاهدینو د مشر په حیث وټاکل شو، او په شاولیکوټ او شاوخوا سیمو کې یې ټولو واقعي مجاهدینو اطاعت کاوو، نوموړی ترهغه مهاله په دې سیمه کې د مجاهدینو مشر و چې د طالبانو اسلامي تحریک راپورته شو او مولوي عبدالحکیم صاحب له خپلو ټولو مجاهدینو سره ورسره ملګری شو.

د هرج ومرج په دوره کې

د تنظیمي هرج ومرج په دوره کې مولوي عبدالحکیم صاحب چې د شاولیکوټ ولسوالۍ د خوړ درې په سیمه کې یې مدرسه وه، د سیمې دقاضي او جهادي مشر په حیث یې په شاولیکوټ، خاکریز او نیش ولسوالیو باندې یې امر چلیده، په همدې سیمو کې یې د مجاهدینو، علماء کرامو او قومي مشرانو سره په همآهنګۍ پوره امن راوستی او شریعت تطبیق کړی و، نوموړي په دې دوره کې د ولسي خلکو په ملاتړ دوه ځله د ارغنداب له سربند ځخه بیا د دره نور ترسیمې د لویې لارې څخه د خودسره ټوپکیانو پاټکونه ټول کړل او پاټکماران یې پسې واخیستل، په دې لړ کې د خاکریز د باغکې په سیمه کې د خان په نوم یو قومندان چې دعبدالمنان په نوم د چینار او سیدونکی مجاهد یې شهید کړی و دغه راز یې د روزګان ولایت ځینې مجاهدین د دې په خاطر چې وسلې ترې واخلي شهیدان کړي و او په سیمه کې یې پاټک درلود، د مولوي عبدالحکیم صاحب په مشرۍ مجاهدینو او ولسي خلکو وربانډې برید وکړ، نوموړی یې له شړو ملګرو سره ختم کړ او اولس یې له عذابه خلاص شو.

مولوي عبدالحکیم صاحب چې دشریعت په تطبیق کې ډیر زړور و، د کمونیستانو او هم د تنظیمونو په دوره کې یې په خپله سیمه کې پوره شریعت راوستی و، په دې لړ کې یې هغه کسان چې شرعي حدود وربانډې

ثابت شوي و په حد کړل، مولوي عبدالحکیم صاحب که څه هم د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم غړی و خو ټولو مجاهدینو په درنښت ورته کتل او په قضایي چارو کې یې ورته مراجعه کوله.

د طالبانو په اسلامي تحریک کې خدمت

د شیخ مولوي عبدالحکیم صاحب نږدې ملګری او په اوس وخت کې دنوموړي دجهادي ملګرو مشر ملا اغاجان آخند له اسلامي تحریک سره دنوموړي د وصل کیدو داستان داسې بیانوي.

طالبانو ډنډ او سپین بولدک ولسوالۍ تصفیه کړې وې، خو کندهار ښار یې لا نه و نیولی ، دغه وخت دکندهار یوه مشهور ټوپکي قومندان امیرلالي غوښتل چې په بولدک کې په طالبانو بریدوکړي، امیرلالي دغه وخت د شاولیکوټ ولسوالۍ مرکز هم په ولکه کې و او اصلي ځای یې د دهلې بند سره د کمپنۍ په نامه ځای و.

په همدې وخت کې چې امیرلالي او ملګرو یې په طالبانو دبرید نیت درلود طالبانو غوښتل په نوموړي او نورو ټوپکیانو برید وکړي او کندهار ښار ترې تصفیه کړي، په همدې خاطر د اسلامي تحریک مشر ملامحمد عمر مجاهد دارغنداب دحقاني صاحب په لاس مولوي عبدالحکیم صاحب ته خط راولیږه چې تاسو په شاولیکوټ کې په امیرلالي بریدوکړئ تر څو دی هلته هم مصروف شي او موږ به دلته په کندهار ښار حمله وکړو ، ددې لیک تر رسیدلو وروسته مولوي عبدالحکیم صاحب راغی او له ملامحمد عمر مجاهد او د تحریک له نورو مشرانو سره یې ولیدل، د مشترکو عملیاتو پروګرام یې جوړ کړ، مولوي صاحب له ملامحمدعمر مجاهد نه وغوښتل چې که یو موټر وروسپاري ترڅو له شاوخوا ولسوالیو د طالبانو په راټولولو او انتقال کې ترې استفاده وکړي، ملا صاحب ورته وویل چې فی الحال موږ یوازې پنځه موټر لرو چې هغه د ډنډ او بولدک ترمنځ مجاهدین کار ترې اخلي، ته داسې وکړه چې په پخوانیو مجاهدینو کې دي که څوک شناخته وي له هغوی نه مرسته وغواړه.

مولوي عبدالحکیم صاحب په دې مهال د کندهار له جهادي قومندان ملا نقیب اخند څخه مرسته وغوښته ،ملا نقیب اخند ورسره د یوه هینو موټر ، شل ګونۍ اوړو او پنځه بیلره تیلو مرسته وکړه، مولوي عبدالحکیم صاحب خاکریز ته راستون شو ، په شاولیکوټ او خاکریز کې په ټولو مدرسو وګرځید درسونه یې معطل کړل او له طالبانو یې وغوښتل چې له دوی سره ملګري شي په دې توګه یې تقریبا ۹۰ تنه طالبان برابر او مسلح کړل، او د شاولیکوټ په مرکز کې یې د امیرلالي په کسانو دبرید ترتیب جوړ کړ.

ملا اغاجان وایي دغه مهال طالبانو لا کندهار ښار نه و نیولی او په تخته پل کې و چې له دره نور څخه مولوي عبدالحکیم صاحب سره له ۹۰ تنو طالبانو د شاولیکوټ دمرکز په خوا روان شو ، غرمه مو په باغکه سیمه کې تیره کړه، پوښتنه مو وکړه چې د امیرلالي ټوپکیان په څه وضعیت کې و ، خلکو راته وویل چې هغوی د ولسوالۍ مرکز ته څیرمه د داماني په سیمه کې خزې او مورچې جوړولې، مازدیګر موږ وربانندې حمله وکړه ، خو چې همدې سیمې ته راغلو ومو لیدل چې دوی مورچې جوړې کړې ، ختې یې لا لمدې وې او همداسې ترې پاتې وې حتی هندوانې او ختکي یې څیرلي و مګر خوړلي یې نه و او دشاولیکوټ د مرکز په خوا تښتیدلي و،سهار د چای په وخت طالبان دولسوالۍ په مرکز ورغلل د امیرلالي کسان پرته له جنګه

وتنبتیدل او ددهلې بند په خوا لاړل په دې توګه د شاولیکوټ ولسوالۍ مرکز طالبانو ونیو چې په همدې شپه کندهار ښار هم نیول شوی و، شیخ صاحب سره له څو مجاهدینو کندهار ښار ته لاړ، دکندهار د فرقې له مخې سره دتحریک دعمومي نظامي قومندان حاجي ملا محمدآخند سره مخامخ شو او جریان یې ورسره شریک کړ، همدلته یې فیصله وکړه چې د امیرلالي په وروسته مرکز ددهلې بند په کمپنۍ سیمه به ماسپښین برید کوي.

په دې سیمه کې امیرلالي ګڼ شمیر ټانګونه، توپونه او څهل میلې رایوځای کړې او دکندهار د فرقې او قشله جدید زیاتره درنې وسلې یې همدلته نقل کړې وې، امیرلالي ویلي و چې له طالبانو سره اصلي جنګ به همدلته کوم، مولوي عبدالحکیم صاحب له حاجي ملامحمد اخند سره په ګډه ماسپښین د دهلې بند د کمپنۍ په سیمه ورغلل، له څه جنګ وروسته دامیرلالي کسانو شکست وخوړ او دا سیمه چې لسګونه میلې درنې وسلې هم په کې وې دطالبانو لاس ته ورغله.

له همدې مهاله مولوي عبدالحکیم صاحب د طالبانو په اسلامي تحریک کې دیوه فعال جهادي مشر په حیث دنده پیل کړه د روزګان اوهلمند په نیولو کې یې برخه واخیسته، د موسی کلا او سنګین ولسوالیو مسؤلیت یې ترسره کړ، دفراه په ولایت کې هم څه مهال د مسؤل په حیث پاته شو، د دلارام او آب خرما په سختو جګړو کې یې برخه واخیسته او په همدې جګړو کې یې تکړه پښتاني مجاهد ملګري لکه ملا اغا، ملا عبدالمناف، ملا عبدالحلیم، ملا سفر محمد او داسې نور په شهادت ورسیدل.

نوموړي وروسته بیرته په خپله سیمه کې په تدریس پیل وکړ په همدې موده کې یې دحنفي فقهې په مشهور کتاب هدایه باندې حاشیې ولیکلې او د فوزالدارین په نوم تفسیر یې ولیکه، نوموړي تر هغه مهاله په خپله سیمه کې په تدریس بوخت و ترڅو امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ او نوموړي یوځل بیا جهاد پیل کړ.

دامریکایانو په خلاف جهاد

د مولوي عبدالحکیم صاحب نږدې ملګری ملا اغاجان وایي: دامریکایانو د راتګ شپږ میاشتې لا نه وې تیرې شوې، چې مولوي صاحب د جهادي عملیاتو لپاره لومړني ترتیبات پیل کړل، په لومړي ځل یې دامریکایانو د راتګ په اول پسرلي دکندهار د دامان ولسوالۍ دخوشاب په سیمه کې چې دلته امریکایانو تګ راتګ درلود دوه تنه مجاهدین یې استخدام کړل ترڅو یې همدې امریکایانو ته ماین کیښود او ورباندې پورته یې کړل، ورپسې یې په شاولیکوټ او خاکریز کې علماء کرامو او پښتانیو مجاهدینو ته خفیه دعوت پیل کړ ترڅو ورسره په جهادي خوځښت کې شریک شي یا مرسته ورسره وکړي، ډیرو خلکو د مرستې وعده ورسره وکړه، په دې وخت کې چې ګل اغا شیرزی دکندهار والي و دنوموړي په پروګرام خبر شو، په کندهار کې یې دهمدې سیمې ملکانو او مخورو ته لویه میلمستیا وکړه، یوه اندازه نقدي تحفې یې ورکړې او په پای کې ګل اغا شیرزي ورته وویل چې له مولوي عبدالحکیم څخه لرې ګرځئ او په خبره یې مه کوئ، او که څوک ورسره همکاري کوي نو په دې پوه شي چې دامریکایانو مقابله هیڅوک نه شي کولای هغوی طیارې لري او له طیارو سره مقابله نه شي کیدلای.

له دې غونډې وروسته یوه لویه قوه هم د مولوي عبدالحکیم صاحب

په لتون پسې شاولیکوټ ته راغله او مولوي صاحب د هلمند باغران ته لاړ.

د مولوي صاحب جهادي ملګری ملا محمد اسلم وایي چې له دې پیښې وروسته نوموړي له ملا دادالله اخند سره ولیدل، هغه ورته جهادي وسائل او تجهیزات برابر کړل او مولوي صاحب له ۱۱ تنو ملګرو سره د کندهار او روزګان په لاره د خاکریز مربوط د پیتاوي په کوتل کې دښمن ته کمین ونیو، همدلته په اوله ورځ د دښمن یو قومندان له څلورو عسکرو سره ختم شو او ورپسې یو لوړرتبه غربي چارواکی له موټر سره ژوندی ونیول شو او وروسته ووژل شو.

د دې خارجي کس وژل کیدو په راډیو ګانو کې هم هنګامه راپورته کړه او دښمن یې ډیر په غوسه کړ، نوځکه په ۲۸/۳/۲۰۰۳ م نیټه له کندهار څخه د ګل اغا شیرزي او د روزګان لخوا د معلم رحمت الله او جان محمد په مشرۍ لویې قوې همدې سیمې ته راغلې دوی په عملیاتو کې مجاهدینو ته کوم زیان ونه رساوو خو د ګل اغا کسانو د اسلامي امارت د تجارت پخواني وزیر ملا عبدالرزاق فتاحي چې اوس په کورناست و ونیو امریکایانو ته یې وسپاره او هغوی ګوانتانامو زندان ته ولیږه.

له دې عملیاتو وروسته شیخ صاحب سیمه پریښوده خو ۱۵ ورځې وروسته بیرته همدې سیمې ته راغی او په دښمن بریدونو ته یې دوام ورکړ د کندهار – روزګان په لاره د کاریزګي په سیمه کې یې د دښمن درې پوستې ونیولې.

د امریکایانو د راتګ دریم کال پسرلی و، چې شیخ صاحب او ملګرو یې یو ځل بیا په سیمه کې په نوي روحیه جهادي بریدونه پیل کړل، دوی په لومړني برید کې د میانشین ولسوالي فتحه کړه، ورپسې یې د شاولیکوټ په زومتو سیمه کې له اشغالګرو سره سخت جنګ وکړ او دښمن ته یې درونډ زیان واړاوو، د پیتاوي کوتل په سیمه کې له دښمن سره په یو سخت جنګ کې د اشغالګرو یو لوی مرستندوی قومندان نعمت خان چې د ملا صاحب په کور کې د میشتو امریکایي ځانګړو ځواکونو همکار و ووژل شو، په دې کال په شاوخوا سیمو کې له دښمن سره نورې هم کامیابۍ جګړې وشوې.

په ۲۰۰۴ م کال پسرلي کې شیخ صاحب له تکړه مجاهد ملا شهزاده اخند سره په ګډه د شاولیکوټ ولسوالۍ په مرکز عملیات وکړل چې په نتیجه کې یې ولسوالۍ سقوط وکړ او ګڼ شمیر وسلې او وسائل مجاهدینو ته د غنیمت په حیث په لاس ورغلل، له دې پیښې وروسته شیخ صاحب او ملا شهزاده اخند په ګډه د شاولیکوټ ولسوالۍ د کومبت د توپخانې په سیمه کې هم له اشغالګرو سره خورا سخت جنګ وکړ چې دښمن ته یې درانه تلفات واړول له همدې جنګ څخه وروسته ملا شهزاده آخند شهید شو.

په ۲۰۰۵ م کال کې شیخ صاحب او مجاهدو ملګرو یې لومړی د شاولیکوټ د زومتو په سیمه کې یوه پوسته فتحه کړه، ورپسې یې د دره نور په سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کتار برید وکړ او ډیرغلګرو ګڼ شمیر اکمالاتي ټانکر یې وسوزول، له دې فتحو وروسته شیخ صاحب میانشین ولسوالۍ ته لاړ، هلته د امریکایانو یوه لویه قوه راغله او د مرغانو په کلي کې سخت جنګ ورسره وشو، له دې پیښې څو ورځې بعد په شاولیکوټ کې هم له امریکایانو سره درونډ جنګ وشو او سخت تلفات ورته ورسیدل.

ترديږ وروسته هم د شيخ صاحب په مشرۍ مجاهدينو په شاوليکوټ او شاوخوا سيمو کې په دښمن ګڼ کاري بريدونه ترسره کړل، د ترين کوټ په زره لار د وچ باغتو په سيمه کې د تايګر بهرنۍ کمپنۍ په مرکز بريد دغه راز د ګومبت په سيمه کې له امريکايانو او کاناډايانو سره لوی جنګ ترسره شو، د ګومبت په جنګ کې د کندهار نور جهادي مشران لکه قاري فيض محمد سجاد، ملا عبدالشکور، مولوي باز محمد، ملا حيات الله مشهور په حاجي لالا او نورو ګڼو مجاهدينو شرکت درلود په همدې جنګ کې دښمن ته په درنو تلفاتو اوښتو سربيره مجاهدينو هم خوږ درلود، قاري فيض محمد سجاد په پښه او مولوي عبدالحکيم خالد په غاړه کې ټپي شو.

له جوړيدو وروسته د مولوي صاحب په مشرۍ مجاهدينو د خاکريز په ولسوالۍ بريد وکړ او دښمن يې تيښتې ته اړ کړ، په دې حمله کې مجاهدينو ۱۳ تنه مجاهدين چې د ولسوالۍ په محبس کې بنديان وو آزاد کړل، له دې جنګ څخه ۳ ورځې وروسته مولوي صاحب سره له خپلو ملګرو د نيش ولسوالۍ دره نور سيمې ته لاړ، د ددره نور په سيمه کې له دښمن سره په مخامخ جنګ کې مولوي عبدالحکيم خالد په پښه او تشي کې ولګيد او سخت ټپي شو، نوموړی تر يو ساعت پورې ژوندی و، او وروسته د همدې ټپ له امله د ۱۴۳۷ هـ ق کال د ربيع الثاني مياشتې په ۲۰ مه نېټه د شهادت لوړ مقام ته وصل شو. انا لله وانا اليه راجعون

مولوي صاحب وصيت کړی و چې که شهيد شو نو جسد دې ښکاره ځای نه دفن کيږي، بلکې داسې ځای دې دفن شي چې خلکو ته يې قبر معلوم نه شي، د نوموړي له وصيت سره سم د خاکريز ولسوالۍ د پيتاوي په علاقه کې په يوه ګمنام ځای کې دفن کړای شو، چې تراوسه يې د هماغو دفن کوونکو مجاهدينو نه پرته هيڅا ته قبر معلوم نه دی.

د مولوي عبدالحکيم خالد صاحب تر شا ۴ لوڼې او دری زامن زبيرخالد، محمد يوسف او جابر پاته شول، چې زامن يې په ديني زده کړو بوخت دي.

يادونه او خاطرې

د مولوي عبدالحکيم خالد جهادي ملګری ملامحمد اسلم وايي: شهيد مولوي صاحب د قرانکريم په ډير تلاوت عادت و، حتی په سفر کې به هم ورسره قرانکريم او د صحيح البخاري کوچنۍ نسخه هميشه وه، مجاهدو ملګرو ته يې د جهاد په مهال هم تعليم او تربيت ورکاوو، او چې له جهاد څخه به کورته راستون شو ليکنه يې کوله چې په همدې فرصت کې يې د فوزالدارين په نوم د قرانکريم تفسير وليکه.

ملا نقيب الله اخند وايي: يو وخت مو د کورته ورغلو مولوي صاحب ګڼ کتابونه غوړولي وو، موږ پوښتنه ترې وکړه، ده راته وويل چې د قرانکريم تفسير ليکم، خو فکر کوم چې د تفسير جلالين د لومړني مصنف غوندې په نيمايي به رانه پاته شي، ملا نقيب الله وايي، د مولوي صاحب انګيرنه پرځای وه، نوموړي د فوزالدارين په نوم تفسير مکمل نه کړ، ۱۲ پارې يې وليکه او چاپ شو او د مولوي صاحب په شهادت سره نور پاته شو.

ملا نقيب الله وايي: مولوي عبدالحکيم خالد صاحب به د رمضان په مياشت کې د قرانکريم ترجمه او تفسير کاوو او ډير طالبان به ورته کيناستل، له شهادت څخه يو کال وړاندې حج ته تللی و، په حج کې ورته يوه عالم مشارع الاشواق الی مصارع العشاق کتاب ورکړی و، دا کتاب تردې پخوا دلته چاپ شوی نه و مولوي صاحب هغه کتاب له ځان

غربي تحليلگران چې زياتره دامريكا اوغربي هېوادونو اهداف تبليغوي، دهغوئ له منځه لوی شمير دامريكا او نورو خارجي قواوو له وتلو وروسته دطالبانو دبري امكانات زيات بولي!! هغوئ داهم مني چې طالبان دپخوا په نسبت ښه روزل شوي، چې ځرګنده بېلګه يې دامريكا اوبرتانيې مجهزو ځواكونوته شكست وركول دي،دا داسي نمونه ده چې دطالبانو په ښې پخې جنګي تجربې اوورتيا باندې له پوهيدو سره مرسته كوي اوجوتوي چې طالبان پخپلو عزايمو او برياوو به تردېره حده باور ولري.

او په مقابل كې دكرزي د اردو او پوليسو روزنه سربيره په دې چې بيدريغه لګښتونهورباندې شوي اوورته ګڼې اسانتياوي اسباب هم برابر دي. آن داچې دعياشيو مستيو اوفحشاوو لړ كې يې هم ورته فرصتونه برابر كړي دي، ددې بلوجود دهغوئ جنګي روحيه هغسي تانده نه برېښي ، ځنګه چې دطالب جنګياليوده دكرزي داردو اوپوليسو په ليكو كې زياتره جنګيالي پر نشه يې توكو هم معتاد ګرځيدلي، دهغوئ ترشا چې دامريكا اوناټو ملاتړ نه وي ډېر مقاومت نشي كولی اكثريت كوښښ كوي دجنګ له ګرمو شيبو ځانونه په يوه اوبله بهانه وباسي

سره راوور او په ګڼ تعداد يې چاپ كړ، مولوي صاحب په سيرت كې دالرحيق المختوم كتاب ډير خوښ و او ويل به يې چې پښتو ته يې ژباړم، مولوي صاحب په ژوند كې دوه ځله حج ته تللی و، تر شهادت يو كال وراندې حج ته تللی و او هلته يې د عرفات په غونډۍ او نورو متبركو ځايونو كې د شهادت سوال كړی و، نو چې راغی ويل يې چې سږ كال شهيد كيږم چې همداسې وشول.

ملا نقيب الله چې له مولوي صاحب څخه يې داحاديثو صحاح لوستي وايي مولوي صاحب په ښه علم سربيره د حلم او وفادارۍ غوره صفات هم درلودل.

ملا اغاجان وايي: دامريكايانو تر راتګ وړاندې مې له مولوي صاحب څخه د قرانكريم د تفسير درس وايه، كله چې سورة الانفال او سورة التوبه ته ورسيدو او دجهاد ذكر راغی، نو مولوي صاحب به بيا بيا د كفارو په وړاندې د جهاد ارمان كاوو. په داسې حال كې چې له سترګو به يې اوښكې بهيدلې له الله تعالی څخه يې په جهاد كې دشركت او شهادت سوال كاوو.

نو موړی وايي مولوي صاحب سره له دې چې فقير و خو ډيره استغناء يې درلوده يو وخت په دره نور كې يو سړی ورته راغی او ۵۰۰ روپۍ يې وركړې مولوي صاحب پوښتنه ترې وكړه د څه لپاره دې راكړې هغه ورته وويل: في سبيل الله مې دركړې، ده ورته وويل بل كوم مسكين ته يې وركړه هغه سړي ورته وويل چې مولوي صاحب خو ته مسكين يې ځكه وګوره څپلۍ دې داسې زړې دي، مولوي صاحب ورته وويل چې ظاهرا به مسكين ښكارم خو زړه مې غني دی، او بيا يې دوه تنه مسكين طالبان وروښودل چې پيسې هغوی ته وركړي.

ملا نقيب الله اخند وايي: مولوي صاحب هيڅ قومي تبعيض او تعصب نه درلود، همدا لامل و چې د سيمې په ټولو قومونو كې يې يو شان محبوبيت درلود او دده تر مشرۍ لاندې مجاهدين هم د مختلفو قومونو وو.

رحمه الله تعالی

اسلام او نوي علوم ....

اتل

غربي پوهان ددې لپاره چې داسلام ښکلې اوځلانده څېره بدرنګه کړي پخپل ټول ځواک سره په دې کې لګیاد اومصروف دي، چې په یونه یوډول خامخا اسلام بدنام کړي، داسلام نوم اونښان ونړوي، دهر هغه ګام ملاتړ کوي، اوپکې ونډه اخلي کوم چې داسلام دبدنامۍ باعث ګرځي، ددې لپاره هغوئ هېڅ موقع اوفرصت له لاسو نه ورکوي، په اوس وخت کې دهغوئ ترټولو لویه حربه داده چې دنوي تعلیم په نوم دمسلمانانو په سترګو کې دخاورو شیندلو کوښښ کوي او داسلام په ضد بیا بیا دا پروپاګند کوي، چې ګواکې اسلام دنویو علومو مخالف دی، او اسلام اونوي علوم له یوبل سره تضاد لري، راځئ! تاریخ ته سترګې ورښکاره کړو چې ایا رښتیا هم اسلام دنویو علومو سره تضادلري، که داسلام په برکت دساینس اونویو علومو دروازې پرانیستل شوې؟

داسلام څخه وراندې یوناني حکماوو د علومو لورته پاملرنه وکړه، په هغه زمانه کې سقراط ،افلاطون، تایس بطلیموس، ارسطو اونورو دزمکې دسطحې، ګولایي، اجرام فلکیه او د نورو په اړه دمشاهداتو او تحقیقاتو په مرسته نظریات وړاندې کړل، اودمعلوماتو یوه ګرابېه زخیره یې له ځان وروسته پرېښوده، خو دیونیانو وروسته دعیسویت په دوره کې ساینسي اونوي علوم دزوال ښکار شول، په دغه دوره کې عیسوي علماوو نوي نظریات او علوم لغوه وګرځول، دهغو کتابونه یې وسیزل، اوپه زده کړو یې بندیز ولګاوه، چې په دې سره اروپا اوهغه سیمې چې پکې عیسویانو حکومتونه وو، دجهالت په تیارو کې ډوبې شوې، په داسې زمانه کې چې دعیسایي پادریانو دجبر او استبداد په وجه دعلم و حکمت نوم نښان ورک شو، عین په همدې زمانه کې الله(ﷻ) ددې لپاره چې بشریت دذلت اوخواریو بیرون کړي، رسول الله(ﷺ) دنبي اورسول په توګه راواستاوه، دعلم اوحکمت بې شمېره علوم یې ورته ورکړل، چې دلومړۍ وحی شروع د اقرأ... (ولوله) لفظ نه شوې حال داچې رسول الله(ﷺ) أمي و، بیا رسول الله(ﷺ) وفرمایل: بیشکه زه معلم رالیږل شوی یم، هم داشان یې فرمایلي: بیشکه دحکمت مرغلرله دمومن ورکه متاع ده هرځای چې پیداشوه هغه یې حقدار دی، الله(ﷻ) په رسول الله(ﷺ) باندې دعظیم الشان قرآن پشان کتاب نازل کړی دی، داسې کتاب یې په بل هیڅ نبي ندی نازل کړي په دې کتاب کې الله(ﷻ) ټول بشریت ته په کایناتو کې دغور اوفکر کولو ترغیب او ډېر تاکید شوی دی، په ګڼو ایاتونو کې یې بنی ادم ته حکم کړی دی چې ته دالله

(ﷻ) په مخلوقاتو کې غور او فکر وکړه، دهغه ښنانو ته په غور سره ګوره!

دعظیم الشان قرآن په دې ترغیب مسلمانانو د علم دخورولو او دهغه دترلاسه کولو لپاره نه ستړیدونکې هلې ځلې وکړې، هم دا وجه ده، چې داتمې عیسوي پیړۍ نیولې تر دیارلسمې پیړۍ زمانه دعلم، حکمت او اسلامي دوره وه، په دې دوره کې مسلمانانو فلسفه، طب، اوساینس او هیر کړل شوي علوم نه یواځې ژوندي کړل، بلکې په نویو څېړنو سره یې هغو ته نوی جهت ورکړ، "ابوهاشم خالدبن یزید" چې دکیمیا علم موسس ګڼل کېږي، نوموړی دکیمیا او طب لوی عالم و، هغه په دې اړه څو کتابونه لیکلي، البیروني نوموړی دمسلمانانو لوړی حکیم منلی دی، "جابربن حیان" چې دحضرت د "جعفرصادق "(رحمه الله) شاګرد و، هغه د "ګنده تیزابو" او دوسپنې نرمولو او دګازو جوړولو طریقې منلې دي، "فایرفروف او واټرروف" په نوم کاغذ هم نوموړي ایجاد کړی دی، نوموړي نیږدې سل کتابونه لیکلي دي، ددې مسلمان ساینس پوه کتابونه انګریزي ته ژباړل شوي، یو بل مسلمان ساینس پوه "ابو علی حسن الهشیم" دی، چاته چې اروپایان "ملک الهیزان" وایي، هم داسې څو نور مسلمان سایسدانان تیر شوي چې چې هغوئ دنویو علومو په ایجاد کې ستړې کارنامې کړي دي.

"ابن الهیثم، جابربن حیان، ابن سینا، المقدسي، البیروني او ابن بطوطه" پشان لویو لویو سانیس پوهانو

دنویو څېړنو او تجربو په رڼا کې هغه علوم مندلي چې نن هم دهغو دمثال وړاندې کولو نه نړۍ عاجزه ده داروپا اوسنی پرمختیاوې ددغو مسلمانانو ساینس پوهانو دڅېړنو مرهون منت دي، دهغوئ کتابونه داروپایانو لپاره دلار ښود حیثیت لري، نن هم د "الشفاء او القانون" برخې دهغوئ په نصاب کې لوستل کېږي، ایا داټول دمسلمانانو دمحنت او زیار نتیجه نده، چې د نن په نوې دور کې دهغوئ دکتابونو نه په استفادي خلک ځانونه ساینس پوهان وايي.

اسلام چې دنړۍ نه دجهالت تیارې وشړلې، داسلامي تعلیماتو غرض او منشاء هم داده چې انسان پخپل شاوخوا چاپیریال باندې په غور کولو سره نوي وسایل پیدا کړي، داسلام په راتګ سره په نوي ساینس کې په غور او تدبر سره مونږ ته نوي وسایل په لاس راغلل او هر څومره چې ساینس ترقي کوي، عظیم الشان قرآن خپل معجزانه شان ښکاره کوي، قرآن دخپل اعجاز لپاره دلایل وړاندې کوي، نن که مسلمانان په نویو علومو کې وروسته دي، داد دوئ خپله نیمګړتیا او داسلامي لارښوونو څخه ناخبري ده، داهیڅکله داسلام له وجې نه؛ بلکې پخپله دمسلمانانو دغفلت او لاپرواهی نتیجه ده، چې ددې ټولې څېړنې وروسته دا نتیجه په ښه توګه لاس ته رازي چې داسلام دښمنو قوتونو په دې دعوه کې هیڅ صداقت نشته چې اسلام ګواکې دنویو علومو سره مخالفت لري.



پوښتنې اوځوابونه

پوښتنه:

ددوه شرعي دلايلو ترمنځ دتعارض په صورت کې مجتهد ته رجوع کوم لورته پکارده اوولې؟

ځواب:

داپرېکړه به هغه (مجتهد) پخپله کوي، څمارايه داده چې دهغه په مخکې به دوه دليله وي، دهغه رايه، دهغه ذهن او ضمير چې کوم لوری قانع کړ، هم هغه حکم به کوي، ددې لپاره کومه ځانګړې قاعده نشته بلکې دا انفرادي څېز دی يو اځې سهولت لټول او په اسانۍ پسې تلل، د تل لپاره غوره او ګټورعمل ندی.

پوښتنه:

دمجتهد لپاره داحکامو په استنباط کې کومه طريقه خپلول پکاردي؟

ځواب: ددې لپاره کولی شي داصول فقه کتابونه ولولي، هلته داجتهاد بحث کې څېړل شوي، چې دهرې مسئلې حکم موندلو لپاره ترټولو اول عظيم الشان قرآن ته رجوع پکارده، په قرآن کې دنه موندلو په صورت کې حديث ته رجوع پکارده، په حديث کې دنه موندلو وروسته وړاندې چې کوم فقهاء اومجتهدين تيرشوي

يعنې که په دې اړه اجماع مندل کيده هغې ته رجوع پکارده، که هلته ونه مندل شو، بيا پخپل ذهن. سوچ کول اوداسې حکم مندل چې هغه درايه ورکونکي په نظر زيات قوي او دمنلو وړ وي يعنې دخداى (ﷻ) نه له ډار سره يوځاى دهغه حکم را ويستلو کوښښ پکاردی، دانه چې فلانې صيب ماته د حقوق پوه په توګه فيس راکوي له دې وجې دهغه دخوښې سره سم قانون جوړوم، يوحقوق پوه، وکيل بايد بې له شکه کوښښ وکړي چې دخپل مؤکل دوسيه وګټي، خو هغه بايد هغه څه وړاندې کړي چې هغه دده په رايه حق وي، او دخداى (ﷻ) په وړاندې دقبوليت امکان ولري.

پوښتنه:

امام شافعي د حديثو د تدوين لړ کې د يوه شهادت په قبلولو هم زرور راوړي، خو د اسلامي قانون په زياترو صورتونو کې يو شهادت نه منل کېږي، دا تضاد څنګه حل کيداى شي؟

ځواب:

ځما په نظر د دې ځواب داد ى که د قاضي په وړاندې په يوه قضيه کې د فيصلې په اړه کومه مسئله راشي، هغه به دوه شاهدان غواړي خو د حديثو مسئله جلا ده، که د کوم ثقه راوي نه مونږ ته يو حديث رسيدلى. يعنې خبر واحد دى، امام شافعي وايي: قبول دې شي، خو په هغه صورت کې چې کله محکمې ته عريضه وړاندې شي، بيا د دوه شاهدانو شتون ضروري دى، خو په بعض صورتونو کې يواځې ديو شاهد شاهدي هم کافي ده، مثلاً: د ماشوم د زيږيدو په اړه د دايې ښځې وينا کافي ده "چې د ماشوم د فلانى ميرمنې له خيټې پيدا شو "کافي ګڼل کېږي، ولې هلته نور خلک نه وي، د زنا په قضيه کې څلور شاهدان قرآن پاک ضروري ګرځولي، دوه نه بلکې څلور ضروردي!! انده دا چې حديث قبلول جلا دي، او په محکمه کې د يوې قضيې فيصله کولو په وخت کې د دوه شاهدانو شاهدي جلا څيزدي، معتزله فرقه، په خاصه توګه د هغې د لې مشهور "امام نظام" وايي: هغه حديث مونږ نه قبلوو، کوم چې مونږ ته د دوه روايانو له لارې نه وي رسيدلى، خو ما ته د امام شافعي ځواب معقول بريښي چې د رسول الله (ﷺ) په وخت کې داسې نه کيدل، له دې وجې ضروري نده چې مونږ د و مره زيات اصرار وکړو، کنه په دې سره به د احاديثو د يرې لوې زخيرې نه مونږ محروم شو، چې دا زمونږ لپاره علمي او ديني نقصان دى، دا کوم تضاد ندى چې حلول يې ضروري وي.

پوښتنه:

ايا د شارع د منشاء پرته په احکامو کې تغير کيداى شي، مثلاً په قادسيه جنګ کې سعد بن ابي وقاص له لوري د شرابو په څکلو د "ابو محجن ثقفي" معاف کيدل، يا حضرت عمر (ﷺ) د "مزينه قبيلې" ديو سړي په شکايت "حاطب بن بلتعه" غلامانو ته د هغوئ د لاسونو قطع کولو حکم او رول او بيا منسوخول؟

ځواب:

دلومړى پوښتنې په اړه يواځې ما ته دومره عرض کول پکار دي، چې په نهايتې خصوصي حالاتو کې داسې هم راغلي چې ديوه قانون اطلاق نه وي شوى، يا ځنډول شوى وي، نو په قادسيه جنګ کې يوه عسکر ته د شرابو څکلو په جرم کې د درو وهلو په ځاى په عارضي توګه هغه بندي کړاى شو، له قيد نه د عارضي رخصتى په اخيستو سره هغه لاړ په دومره زرورتيا وجنګيده، چې يو مخ د جنګ لوري يې بل مخ بدل کړ، د دې سره مسلمانانو ته ګټه ورسيده، کله چې سعد بن ابي وقاص (ﷺ) هغه ته دا وويل ورځه معاف مې کړې، هغه خفه شو، سخته صدمه ورته ورسيده، هغه ويل: غوره به وه چې په درو وهل شم، ځو الله (ﷻ) را ته بښنه کړې واى، ما ته د الله (ﷻ) په وړاندې د ځواب ويلو لپاره تيار او سيدل پکار دى، زه توبه کاږم چې بيا به شراب نه څکم! زما په فکر چې دا د سعد بن ابي وقاص فراست و، چې د هغه ضمير يې بيدار کړ، او هغه تدبير داو چې وبښل شي

حضرت عمر(رض) په اړه حدیث کې راغلي چې دا هغه تن و ، کله به چې په کومه لار تلو ، شیطان په هغه نښو تلای ، هغه کې دومره بې نفسي وه چې هیڅکله یې هم د ذاتي خواهش پروا نده کړې ، هغه د الله ، د رسول ، او د اسلام خدمت کاوه ، کله چې قحطي راغله ، حضرت عمر(رض) د قحط په زمانه کې د خوراکي توکیو غلا کوونکو لاسونه قطع کول پرېښودل ، دا د هغه اجتهاد و ، په دې باره کې ممکن یو څوک د منطق او د اصولو له مخې اختلاف ولري ، خو ځما په اند که هغه د منطق ښښتن په دې دور کې واکمن او یا خلیفه شي ، هغه به هم هغه کوي کوم څه چې حضرت عمر(رض) کول ، دا ځما خیال دی ، دانشمند ویلی چې د دې سره به تاسو اتفاق لرئ یا نه

پوښتنه: د اسلامي فقهي د ضمني ماخذ "استحسان" مصالح او عرف که لنډه توضیح وکړې؟

ځواب:

د استحسان څخه مراد دا دی ، په سملاسي توګه کوم مفهوم چې ستا ذهن ته راځي ، د هغه په ځای د هغه عمق او ژورو ته د ښکته تګ کوښښ وکړې ، دیته استحسان وایي ، سملاسي ذهن ته په راغلې خبره نه بلکې په هغه عمیق او ژور ښېز عمل غوره دی ، دا استحسان دی ، مصالح مرسله دیته وایي چې په هغه کې د عامه مفاد مصلحت ته په پام عمل کېږي د منطق په ځای د امت په مصلحت باندې ، اسانتیا ، په هېواد کې د امنیت ټینګولو لپاره کوښښ مصلحت دی ، دیته مرسله مصالح وایي ، د عرف معنی ده د یو هېواد د خلکو رسم ورواج ! دا چې هغه څه جوړ کړي ؟ کله جوړ شوی ؟ مونږ ته په دې اړه علم نشته ، کوم چې قانون ندی منسوخ کړی ، دا عرف په هر هېواد کې شته ، که هندوستان دی که پاکستان ، که د عربو قبایل دي که چین دی ، افریقه ده که اروپا هر ځای ته چې لاړ شي درته به نوي رسمونه ورواجونه ښکاره شي ، دا هغه څه دي چې قرآن ندي منسوخ کړی دی ، مونږ یې قبلولی شو ، خو که زمونږ په نظر هغه معقول وي.

پوښتنه: ایا دا سمه ده چې په عراق کې د حدیثو زخیره کمه وه ، له دې وجې امام ابوحنیفه (رحمه الله) په قیاس سره فقهي مسایل مستنبط کړي او په کې د عجمو د مزاج یې د ډېر خیال ساتلی او له دې وجې ورته عامه قبولیت په برخه شوی دی؟

ځواب:

زه د دې خیال منلو ته تیار نه یم ، امام ابوحنیفه (رحمه الله) د ډېرې وړاندې زمانې فقیه دی ، هغه د هجرت په ۸۰ کال زیږیدلی ، کوم کوښښونه چې د رسول الله(ص) له زمانې څخه تر د غه وخته پیل وو ، هغه لا بشپړ نه وو ، څنګه چې ما وړاندې وویل ، او د اکار د متخصصو خلکو وي ، د ځینې خلکو علاقه د حدیثو سره زیاته وه او د ځینو بیا د فقهي لور ته میلان لاره ، تر د غه مهاله کتابونه لیکل شوي نه وو ، لکه بخاري او د حدیثو نور کتابونه چې نن سبا څنګه یو فقیه په اسانه هغه لوستلي شي ، هغه زمانه کې داسې نه وو ، که امام ابوحنیفه (رحمه الله) د فقهي تدوین ترک کړی وای او د حدیثو په تلاش لګیدلی و نو ټول عمر به لګیاوو ، او فقه به د هغه د قانوني صلاحیت نه محرومه پاته وه ، عراق ته احادیث رسیدلي وو ، لیکن امام ابوحنیفه (رحمه الله) په ځینو صورتونو کې د حدیثو د نشتوالي له وجې اجتهاد کاوه ، یوه رایه یې ورکوله لیکن د امام ابوحنیفه(رحمه الله) نه شپیته او یا کاله وروسته

دحديثو زخيرې دفقهاوو لاس ته ورسيدې، دحنفي مذهب فقهاوو هم د امام ابوحنيفه (رحمه الله) درايې په خلاف رايې ورکړې، او هغه دحنفي مذهب برخه ګرځيدلې، لکه په ډېرو صورتونو کې دصاحبينو په رايه باندې عمل کېږي خو ديته حنفي مذهب ويل کېږي، دا يوه تاريخي واقعه ده چې يو زمانه کې فقهاوو سره دحديثو علم کم وو، داچې هغوئ دحديثونه انکار کړې وي يا داويل چې دا دعجميت او ايرانيت په بنا داسې و، زما په نظر دا رايه قطعاً غلطه ده.

پوښتنه: تاوويل ! دقانون بدلوونکی به يا پخپله قانون جوړونکی وي، يا به دهغه نه لوړشخصيت، حضرت عمر (ﷺ) دقحط په کال دغله لپاره دلاس قطع کولو سزا ځنډول، حال داچې هغه خو نه مقنن و، نه پيغمبرو، اخروجه څه وه؟

ځواب: ځومره چې زه پوهيږم، حضرت عمر(ﷺ) دعظيم الشان قرآن په دې ايت ﴿الامن اضطر﴾ (۲-۱۷۳) باندې استدلال کړی دی، که داضطرار حالت پيدا شي ځنګه چې عامه قاعده ده چې: الضرورات تبيح المحظورات داضطرار په حالت کې ممنوعات هم مباح کېږي، يا داچې ضرورت دکوم قانون پروا نه کوي، حضرت عمر(ﷺ) خيال داو چې دقحط په وخت کې داضطرار حالت پيدا کېږي له دې وجې دومره رعايت ورکول پکار دي که داسې يې نه واې کړي ممکن ډېرزيات خلک به مړه واې، او دهغوئ دځان وژنې وبال په حضرت عمر(ﷺ) پريوت ، ښکاره ده چې دخدايه داريدونکي واکمن لپاره دغسې حالت دزغملو نه وي.

پوښتنه: له اجماع نه مرا دڅه دي، دامت اجماع که دعلماوو اجماع؟ رسول الله (ﷺ) په کوم حديث کې چې داجماع ثبوت راغلی، په هغه کې دامت اجماع راغلې، ايا دا اجماع ممکن ده؟ ولې مسلمانان دنړۍ مختلفو هيوادو ته خواره شوي، په دې صورت کې کومه اجماع قانوني ګرځي، دعراق دخلکو اجماع که دپاکستان دخلکو اجماع؟

ځواب: فکر کوم که پوښتنه کوونکی به زما په هغه وينا پوه وي کومه چې اوس لږ وړاندې ما وکړه چې اجماع څنګه منظم کيدای شي، نو دپوښتنې يو جز هم بې ځوابه ندی پاته، ما ددې ځواب ورکړی دی، چې دامت اجماع او دعلماوو اجماع دواړه يو شی دي، دامت له اجماع نه دامراد ندی چې دهر جاهل تن څخه دې هم رايه واخستل شي، بلکې ددې معنی داده چې دامت دعلماوو رايه واخستل شي، څنګه چې لږ وړاندې مې وويل، که کوم تن په کوم علم پوهه ونلري هغه دلته تنويستل هيڅکله ګټه نلري، او نه دا کار دهغه دپوهې لپاره فايده لري، له دې وجې ددينه مراد علماء دي، او علماء هم هغه علماء کوم چې فقهاء دي، يعنې دقانون او حقوقو دعلم سره اشناوي، او تر څه حده پورې پکې تخصص او تجربه هم ولري، هغوئ ته درايې ورکولو حق شته دی، درايې ورکولو معنی دانده چې رايه به قبلولی هم شي، بلکې هغه رايه ورکوي دويم تن به دهغه په خلاف رايه ورکوي مثلاً ما رايه ورکړه چې هغه ناقصه وه تا په هغه درد کوښښ وکړ، اوس دريم تن به فيصله کوي، چې هغه زما رايه قبلوي، او که دبل شخص ، له دې وجې ماته په رايه ورکولو کې هيڅ بنديز نشته، بلکې درايې په قبلولو کې احتياط پکار دی، ته خپله پريکړه وکړه چې کومه رايه دامت لپا ره په خير او دقبلولو صلاخيت لري

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

گشتن از اسرائیل حمایت از اوباما

لیکوال: محمود احمد نوید

در حالیکه جنگ اسرائیل علیه فلسطینی های ساکن در غزه همچنان به شدت جریان دارد و باشندگان مظلوم فلسطینی، از زمین و هواء آماج حملات ددمنشانهٔ رژیم دژخیم اسرائیل قرار می گیرند؛ متاسفانه دنیای کفر در کنار اسرائیل قرار گرفته و بجای محکومیت کشتار فلسطینی ها توسط اسرائیل، مجاهدین فلسطینی را محکوم کرده که چرا بالای شهرهای اسرائیلی موشک پرانی می کنند؟

در تازه ترین موضع گیری ها نسبت به بحران پیش آمده در غزه، موضع گیری بارک اوباما رئیس جمهوری امریکا بیش از هر چیز دیگری بر زخم مسلمانان نمک پاشید و کینهٔ درونی دشمنان سرسخت اسلام را برملا ساخت و نشان داد که واقعا: "الکفر مله واحده" کفر ملتی یکپارچه است؛ به نقل از منابع خبری، "اوباما در کاخ سفید به خبرنگاران گفت روز جمعه، ۱۸ جولای، با بنیامین نتانیاهو، صدر اعظم اسرائیل تلفنی صحبت کرده و به او اطمینان داده که دفاع از کشور، حق اسرائیل است... به گفتهٔ رییس جمهوری امریکا هیچ کشوری نمی تواند تحمل کند که به داخل مرزهایش موشک انداخت شود ..."

آری! این سخنان شخصی است که برندهٔ جایزهٔ صلح نوبل است و دفاع از بشریت مظلوم و ایجاد صلح و آرامش جهانی در اولویت کاری اش قرار دارد!

این سخنان شخصی است که سنگ دفاع از مظلومان جهان را به سینه می زند و ادعا می کند که کمک همه جانبه به بشریت مظلوم در دستور کارش قرار دارد!

این سخنان شخصی است که رهبران افغان نمای افغانستان، در ماجراجویی های عوام فریب خود، به اسم انتخابات و دیگر پروسه های غربی به حکمیت و فیصلهٔ او رضایت می دهند و او را به اصطلاح منجی کشورشان می دانند!

این سخنان اوباماست شخصی که متاسفانه بسیاری از رهبران جهان اسلام، به دست دادن و همصحبت شدن با وی افتخار می کنند و در کنارش عکس یادگاری می گیرند!

این سخنان اوباماست کسی که سالهاست افغانستان عزیز را در استعمار و استثمار خویش قرار داده و با تبانی چند تن غلام وطن فروش خود در داخل، دم از ایجاد صلح و آرامش و ایجاد فضای پیشرفت و

دیموکراسی در افغانستان می زند و غلامان و فریب خوردگانش را با سخنان شیطان صفتانهٔ خویش خام و رام می کند !

اوباما می گوید در حملات جاری، اسرائیل از خود دفاع می کند و این حق آن کشور است و با نشان دادن این چراغ سبز، بر تمام جرم و جنایت های هولناک اسرائیل مهر تایید می گذارد و به قسمی کشته شدن، آواره و بی سرپناه شدن مردم فلسطینی را هم حق فلسطینی ها می داند و از مرگ صدها فلسطینی و پرپر شدن و بال بال زدن اطفال و بی گناهان فلسطینی لذت می برد !؟!

کشتاری که امروز در غزه فلسطین جریان دارد از نگاه دشمنان خدا و رسول، بخاطر دفاع از یهودی های اسرائیلی حق فلسطینی هاست؛ یعنی مسلمانان در غزه باید کشته شوند تا یهودی های اسرائیل زنده بمانند ؟؟؟

سازمان نام نهاد بین الملل هم در سکوت مطلق و مرگبار به سر می برد و جز نظاره کردن کشتار فلسطینی ها و تجاوز یهودی ها به اراضی مسلمانان در غزه، هیچ کاری نکرده و نمی تواند که انجام بدهد ؛ چون این نهاد نام نهاد هیچ اختیاری از خود ندارد ؛ و وقتی ارباب شان می گوید اسرائیل از خود دفاع می کند و این حقش هست، ملل متحد چارهٔ جز سکوت به نشانهٔ رضایت ندارد !

در حالیکه تا امروز که قریب به دو هفته می شود حملات وحشیانهٔ اسرائیل بالای غزه جریان دارند نتیجهٔ این جنگ نا برابر تا اکنون بس تکان دهنده و ناگوار بوده است؛ شهدای فلسطینی از مرز ۳۵۰ نفر گذشته و زخمی ها و مجروحین بی شماری برجای مانده ، بیش از چهل هزار نفر آواره گشته وصدها خانه تخریب گردیده اند و ... این ارقام بلند قربانی از جانب فلسطینی های مظلوم بخاطر حقی است که اوباما برای اسرائیل به رسمیت می شناسد ؟ !؟

انا لله و انا الیه راجعون... !

چه سخت و طاقت فرسا است شنیدن و تعقیب اخبار لحظه به لحظهٔ که از فلسطین گزارش می شوند ؛ در حالیکه فلسطینی ها فقط بخاطر اسلام، فلسطینی بودن و عزت خواهی و استقلال طلبی قربانی می دهند و دشمنان، هرگز قائل به این حق فلسطینی ها نیستند و در گفتار و کردار زشت خود ، در کنار جنایتکاران بین المللی و دشمنان بشریت می ایستند... !

سخنان اوباما یکبار دیگر چهرهٔ واقعی دشمنان اسلام را روشن ساخت و به دنیا نشان داد که بانی و حامی تروریسم جهانی و بین المللی چه کسانی اند !

آیا اوباما و اسرائیل که به خاطر حفظ منافع دولت و مردم خود دست به هرجنایت بشری می زنند و ز ارتکاب هیچ عمل وحشیانه و ضد انسانی دریغ نمی ورزند تروریسم و حامی آن هستند و یا مردمی که گاه ب آه و ناله و گاه با سنگ و چوب و گاهی با چند موشک که نسبت به تشکیلات نظامی و مورد استفادهٔ دشمن خیلی در سطح پایین قرار داشته؛ دفاع می کنند ؟؟؟

عجیب است در دنیای امروز حملات زمینی و هوایی و استفاده از تشکیلات مدرن نظامی علیه فلسطینی های مظلوم و کشتار فاجعه آمیز و نسل کشی بی سابقه توسط ظالمان اسرائیلی تروریسم جهانی دانسته نمی شود ؛ اما از آنطرف طفلان معصوم فلسطینی که بی خبر از همه چیز در آغوش پدر و مادرهای شان به طرز نهایت فجیع به شهادت می رسند و حتی طفل شش ماهۀ فلسطینی که در گهوارۀ خویش در خواب کودکانه به سر می برد تروریسم دانسته شده و از بین بردن آن حق یهود اسرائیلی خوانده می شود ... !؟!

د افغانستان اسلامي امارت د دعوة او ارشاد، جلب او جذب کمیسیون ویاړي چې هره میاشت یې په هڅو د هیواد په مختلفو ولایتونو کې ګڼ شمیر قوماندانان او افراد دیر غلګرو ځواکونو او دهغوی د ګوډاګي رژیم له لیکو څخه راوزي دغه رنګه د یاد شوي کمیسیون د کار او زیار له برکته په دې وروستیو کې د هیواد په ګڼو ولایتونو کې د بیلابیلو قشرونو له دولتي او غیردولتي کارمندانو سره اړیکي نیول شوي، او د ګران هیواد د ازادۍ لپاره یې همکاري راجلب شوې چې خورانبې پایلې ترې په لاس راغلي دي.

په تېر کال کې چې کوم قوماندانان، قومي مشران او بانفوده اشخاص د کابل د شوریدلي رژیم څخه راجلا شوي او د اسلامي امارت سره یوځای شوي نوموړنه یې په لاندې ډول دي

د ۲۰۱۳ کال د جنوري د میاشتي په بیلا بیلو ورځو کې د دعوة ارشاد، جلب او جذب کمیسیون مسؤلینو د دایکنډي، هرات، فاریاب، غزني، غور، تیمروز او سرپل ولایتونو کې د قومي مشرانو، علماء کرامو، معلمینو، محصلینو او نور خلګو سره دلیدنو په ترڅ کې د اسلامي امارت حقه داعیه وړاندي کړه، او نوموړي یې وهڅول چې د مجاهدینو سره لا ښه همکاري وکړي تر څو هر څه ژر موله ګران هیواد څخه یرغلګر ځواکونه وتښتي، د ظلم، فساد او نا امنیو تغر تول شي او پرځای یې د کونډو، شهیدانو او ځوریدلو هیوادوالو د ارمانونو سره سم یو اسلامي، خپلواک او سوکاله نظام د لوی خدای جل جلاله په نصرت او ستاسي په ملاتړ رامنځته شي. مخاطبینو د اسلامي امارت داعیې ته لبیک وو ایه او د مجاهدینو سره یې د هراړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه.

د جنوري په ۱۱مه د دعوت او ارشاد کمیسیون اړوندو ځانګو په میدان وردګ، هلمند، قندهار، شبرغان، بدخشان، بادغس کې د ۱۰ تنو قوماندانو او یو شمېر عسکرو سره د ارتباط او دعوت په پایله کې ۲۸ نفره د کابل له فاسدي اداري راجلا او د اسلامي امارت سره یوځای شول.

د جنوري په ۲۱مه نیټه د زابل ولایت د نوبهار ولسوالۍ کې قوماندان محمد نعیم له یوه رینجر، یوه میل سقیل، یوه میل کلاشنکوف او یوی غټي مخابرې سره د اسلامي امارت له مجاهدنو سره ملګری شو.

د جنوري پر ۲۳مه د نیمروز ولایت د خاش رود ولسوالۍ کې قوماندان عبدالقدوس او ۲ تنه عسکر له ۱ دهشکې، ۱ راکیټ، ۲ ثقیل، ۲ چرکي هوانونو، ۸ میله کلاشنکوفو او ۱ رینجر موټر سره له ګوډاګي رژیم څخه بیل او د اسلامي امارت سره یوځای شول.

په ۲۰۱۳ کال کې

د اسلامي امارت سره یوځای شوي

قوماندانان

پیوستلات

د اپریل د میاشتي په اوږدو کې د اروزګان، دای کنډي، غزني او هرات ولایتونو د اهل تشیع او هزاره قومونو په استازیتوب په سلهاوو قومي مشرانو او بانفوذه اشخاصو د اسلامي امارت له مسؤلینو سره ملاقاتونه تر سره کړل، دوی وویل چې په هیڅ ډول به د کرزي د اجیر رژیم سره همکاري ونه کړي ځکه دوی چې دا دولس کاله کومي خبرې کولې یوازې او یوازې یې د ولس د غولو په موخه او د خپلو جیبونو د کولو په خاطر تکرارولې. دوی اسلامي امارت ته

دادوركړچي دهيواددخپلواكۍ ترلاسه كولو لپاره به داسلامي امارت له مجاهدينو سره خپلې بشپړې همكارۍ ته ادامه وركړي او ديرغلګرو ځواكونو او دهغوی دافغان ملاترو پرضد به خپل جهاد ته لا پراختيا وركړي ترڅو ژر تر ژره زموږ له ويارلي هيواد څخه داشغال ،فساد او نا امنيو كرغيړن تغر ټول شي او پرځای يې دالله تعالی قانون حاكم شي دوی داسلامي امارت سره وعده وكړه چي دخپلو مجاهدينو ورونو سره به اوږه پر اوږه ديرغلګرو او دهغوی دمزدورانو پرضد جهاد كوي. داسلامي امارت مسؤلينو دوی ته دادوركړچي ستاسي دسر او مال دحفاظت ترڅنګ به دخپلو سرونو په بيه ددين ددښمنانو او دخاوري دغاصبينو په وړاندي اتلواله مبارزه كوي ترڅو موهيواد خپلواك او دشهيدانو دارمانونو سره سم يو داسي نظام رامنځته كړو چي تبعيض او تعصب څخه پاك او دټولو اقوامو او اقشارو نمايندګي وكړي.

دمئ پر۲۲مه دكندهار ولايت غورك ولسوالۍ كي دقوماندان اغامحمد په مشري ۵ تنه عسكر له مجاهدينو سره يوځای شول

دمئ پر۲۷مه داروزګان ولايت دخاص اروزګان ولسوالي دسيرودسيمي دهزاره قوم شپږو نفرو مشرانو او نماينده ګانو له اسلامي امارت څخه مكمل ملاتړ اعلان كړ،نمايندګانو نوموته په دي دول دي ،عبدالعلي ولد ارباب وحيد ،سخي داد ولد حسين ،علي جان ولد غلام حسين ،جمعه خان ولد محمد رضا ، غلام نبي ولد محمد موسی ،محمد عيسی ولد ميرزا حسين دغو مشرانو دخپل قوم مكمل پيوستون له اسلامي امارت سره اعلان كړ او داسلامي دامارت مشرتابه ته يې راغلاست ورته وواييه او له خپله اړخه يې دپوره همكارۍ وعده ورسره وكړه.

دجون پر۳مه دلغمان ولايت د دولت شاه ولسوالۍ كي د اربكيانو مشهور قوماندان سلا جان سره له ۵ تنه ملګرو ، د اسلامي امارت له مجاهدينو سره يوځای شو.

د جون پر۴ مه د ميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ په آقچې سيمه كي دقوماندان نورعالم په مشرۍ ۹ تنه عسكر د اسلامي امارت له مجاهدينو سره يوځای شول.

دجون پر۷مه دد پروان ولايت د سياګرد ولسوالۍ كې د قوماندان عبدالسلام په ګډون ۱۵ تنه عسكر د اسلامي امارت له مجاهدينو سره يوځای شول.

دجون پر۱۱مه د نورستان مركز پارون ته نژدې د يوې پوستې قوماندان (عبدالقادر) د اسلامي امارت مجاهدينو سره يوځای شو.

دجون پر۱۱مه د بدخشان ولايت په كوف اب كي قوماندان عبدالحميد دخپلو ساتونكو په ګډون له مجاهدينو سره يوځای شو.

دجون پر۱۲مه د بدخشان ولايت په جرم ولسوالۍ كي دقوماندان په مشري ۳۵ تنه عسكر د اسلامي امارت مجاهدينو سره يوځای شول.

دجون پر۱۲مه دبغلان ولايت په مركز كي قوماندان ظاهر له ۸ تنو عسكرو سره دامارت دمجاهدينو سره ملګري شو.

دجون پر۲۴مه د كندز دخان اباد ولسوالۍ دملغرې په سيمه كي د قوماندان نظريه مشري ۲۰ پوليس له مجاهدينو سره يوځای شول.

دجولای پر۱۲مه دخوست د ولايت د نادرشاه كوټ ولسوالۍ د قومي شورا غړی شهباز خان له اسلامي امارت سره يوځای شو.

دجولای پر۲۲مه قوماندان ملاميراغا ۲ عسكرو په شمول داسلامي امارت سره ملګر ي شو.

دجولای پر۲۴مه دبدخشان ولايت د كوف آب ولسوالۍ كي يو مشهور قوماندان (محمد عطا) داسلامي امارت سره يوځای شو. نوموړي ۱ پيكا ماشيندار، ۱ راكټ لانچر، ۱ توپ انداز، ۱ كلاشنكوف، ۸ صندوقونه غټي او ورې مرمۍ او ګڼ نور مهمات مجاهدينو ته تسليم كړل.

دجولای پر۲۷مه د لوګرولايت مركز اروند سيمه كي د اردو يو تن قوماندان (محمد آغا) له مجاهدينو سره يوځای شو.

داګست پر۲۰مه دارزګان ولايت دهراود ولسوالۍ كي ۲ تنه قومي مشران (ملك عبدالشكور خان او مير عبدالرازق) له فاسدی اداری راجلا شول او داسلامی امارت ملګری شول.

داګست پر۲۲مه دهرات ولايت دادرسكن ولسوالۍ كي يو قوماندان له يوه عراده رينجر موټر ،يوه ميل سقيل ماشيدار ،پنځه ميله كلاشنكوفوانو رو مهماتو سره مجاهدينو ته تسليم شو.

داګست پر۲۳مه قوماندان شفيع له ۳۰ كسانو سره دميدان وردګ ولايت دجلريز ولسوالۍ دتنګی په كلي كي داسلامي امارت له مجاهدينو سره ملګری شو.

داګست پر ۲۵مه داروزګان ولایت دمرکزترینکوټ ۵تنه عسکر ددوو قوماندانانو په شمول داسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.

دسپتمبر په ۲مه دهلمند دموسی قلعه ولسوالی کې قومي مشرمحمدجان خان چې داربکیانو مشر وو دحقائقو په درک کولو له فاسدی اداري راجلا او دمجاهدینو سره ملګری شو.

دسپتمبر په ۱۸مه نیټه دسرپل ولایت دکوهستاناتو مشهور او بانفوذه قومندان اودولسي جرګې غړی قاضي عبدالحي دخپلو افرادو په ګډون دافغانستان داسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځاي شو ،نوموړي داسلامي امارت سره خپل هراړخیزملاتړاعلان کړاوژمنه یې وکړه چې داسلام اوهیواددخارجي اوداخلي دښمنانو پرضدداسلامي امارت ترمشري لاندي مقدس جهادته ادامه ورکوي.دمجاهدینو سره دقاضي صاحب یوځای کیدلو پردښمن دیرمنفي اغیزوکړ.دنوموړي سره الاماره ویبپاڼي تفصیلي ویدیو یې مرکه کړې چې خوراپه زړه پوري واقعیتونه یې روښانه کړي دي.

دنومبر په ۲۷مه له بدخشان ولایت په یمګان ولسوالی کې قومندان عاشوراو د ۱۲ تنو عسکر په ملتیاداسلامي امارت سره یوځای شو.قومندان محمدعاشور په هغه غونډه کې چې له مجاهدینو سره د ده د یوځای کیدو په ویاړ جوړه شوي وه وویل: زما ایمان نوراجازه رانه کړه چې د یرغلګرو په وړاندي آرام کښېنم، زه وعده کوم چې نور به د اسلامي امارت تر چتر لاندي د یرغلګرو امریکایانو او د هغو له خرڅو شویو غلامانو سره کلکه جهادي مبارزه کوم.د مجاهدینو لخوا هم نوموړي ته د راتګ او نیک احساس له امله ښه راغلاست وویل شو او د هر راز همکاری او اکمالاتو ژمنه ورسره وشوه.

داکتوبرپه لومړی نیټه په پکتیکا ولایت کې دقوماندان عبدالرحمن په مشري ۱۱۰تنه عسکرچې په اردواومحلي پولیسو کي یې کارکاوه د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.

اکتوبرپه ۴مه د پکتیکا ولایت دجاني خیل ولسوالی دشورا غړی شیرخان دمجاهدینو سره یوځای شو.

داکتوبرپه ۵مه دپکتیکاولایت اورمګای کې قوماندان اشرف خان او۱۲تنه پولیس یې له مجاهدینو سره یوځای شول.

داکتوبرپه ۱۳مه د پکتیکا ولایت د جاني خیلو ولسوالی کې ۲ تنه دکابل اداري لوړپوړي کارمندان (حاجي میوه خان) د انکشاف دهات مدیر او (حاجي ستار) د شوري غړي له مجاهدینو سره یوځای شول.

داکتوبرپه ۷مه ننګرهار پچیراګام کې داربکیانو سرګروپ مولاګل له مجاهدینو سره یوځای شو.

داکتوبرپه ۱۸مه دننګرهارولایت پچیراګام اود سپین غره ولسوالیو کې داربکیانو دمشهور قومندان خان محمد په ګډون ۷ تنه عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول.

داکتوبرپه ۹مه دجوزجان ولایت د قوشتیپې ولسوالی کې قوماندان اعظم له مجاهدینو سره ملګری شو.

دډسمبرپه ۲۲مه دفاریاب په ولایت دګرزوان په ولسوالی کې قوماندان ملامحب الله مجاهد له ۲۰ تنو مسلحو ملګرو سره داسلامي امارت له مجاهدین سره ملګري شو.

دډسمبرپه ۲۷مه دوه تنه دکابل اداری لوړ رتبه کارمندان هریو قوماندان خال محمد دفاریاب ولایت دګرزوان ولسوالی ،قوماندان فیروز دشیرین تګاب ولسوالی اوسیدونکی اسلامي امارت ته تسلیم شول.

داسلامي امارت سره یوځای شوو تولو کسانو ته دافغانستان اسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه هرکلي ووایه اوددوی همداکاریې چې دکابل اداري سره یې پریکون وکړډیروستایه ،دکابل رژیم څخه راوتلي بااحساسه هیوادوال په جایزو اوانعامونوسره ونازول شول اودسراومال دساتني تضمین ورکړل شو.

تأسیس حکومت الهی

علامه شبلی نعمانی

سپیده ی صبح پس از تاریکی شب نمودار می شود و هنگامی که ابر سیاه و تاریک کنار می رود، خورشید تابان به همه جا نور افشانی می کند.

جهان آکنده از ظلمتها و تاریکی های ظلم و ستم بود که ناگهان صبح سعادت طلوع کرد و آفتاب حق و صداقت پر تو افکنی را اغاز نمود وملت عرب که پرستش خدای یگانه را شروع کرده بود، تحت حاکمیت یک حکومت قرار گرفت. خداوند متعال هم وعده فرموده است)). وعد الله الذین آمنوا منکم و عملوا الصالحات لیستخلفنهم فی الارض کما استخلف الذین من قبلهم و لیمکنن لهم دینهم الذی ارتضی لهم و لیبدلنهم من بعد خوفهم امنا یعبدوننی لایشرکون بی شیئا و من کفر بعد ذلک فاولئک هم الفاسقون))(نور: ۵۵). خداوند به مؤمنان و نیکو کاران شما وعده داده است که آنان را جانشین سازد در زمین همچنان که جانشین قرار داد آنان را که پیش از آنها بودندو دینی را که برای آنان

بر گزیده سیطره دهد و ترس آنان را به امنیت تبدیل کند. آنان فقط مرا می پرستند و چیزی را با من شریک قرار نمی دهند و هر کس بعد از این ناسپاسی کند پس آنان از گروه فاسقان اند. حکومت الهی و استخلاف در زمین، از لوازم ضروری نبوت نیست، ولی هنگامی که دعوت الهی با دیوارهای سیاست کشوری اصطکاک پیدا می کند و یا وقتی اصلاحات و امنیت کشور در محاصره ی فساد و نا امنی، هرج و مرج قرار می گیرد، پیامبر الهی در هیبت ابراهیم و موسی نمودار می شود، و ملت و مملکت را از بردگی و غلامی نمرودها و فرعونها رهایی می بخشد.

درمیان پیامبران، عیسی و یحیی نیز بوده اند که هیچگونه سهمی از حکومت نداشتند. موسی، داود و سلیمان نیز بودند که سرنوشت ملتها و مملکتها در اختیار آنان قرار داشت. ولی پیامبر گرامی اسلام حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم با هر دو گروه مشابهت کامل داشت. خزانه های عرب در اختیار و تصرف ایشان بود. اما در کاشانه ی نبوت نه بستر نرمی و نه غذای چربی وجود داشت و نه بر بدن مبارک ایشان خلعت شاهانه ای و نه در جیب و صندوقهای ایشان درهم و دیناری بود. در حالی که عظمت و ابهت دربار ((قیصر)) و ((کسرا)) در بار گاهش نمایان بود، وی به عنوان یتیم مکه، شخصیتی ساده پوش و مانند فرشته ی معصوم آسمان به نظر می رسید. خداوند متعال هدف و مقصود اصلی از حکومت اسلامی را در قرآن کریم چنین بیان می فرماید:

((اذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا و ان الله علی نصرهم لقدیر، الذین اخرجوا من دیارهم بغیر حق الا ان یقولوا ربنا الله و لولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع و بیع و صلوات و مساجد یذکر فیها اسم الله کثیرا و لینصرن الله من ینصره ان الله لقوی عزیز، الذین ان مکنهم فی الارض اقاموا الصلوة و اتوا الزکوة و امروا بالمعروف و نهوا عن المنکر و لله عاقبة الامور))(حج: ۴۱-۴۰-۳۹) فرمان جهاد داده شد به کسانی که کفار با آنان وارد جنگ شدند چون مورد ظلم قرار گرفتند و همانا خداوند بر یاری آنان تواناست. این فرمان به آنان داده شد که به ناحق از خانه هایشان بیرون رانده شدند صرف به این جرم که می گفتند پروردگار ما الله است و اگر خداوند شر بعضی از انسانها را توسط بعضی دیگر دفع نمی کرد، البته معابد، کلیساها، کنشت ها و مساجد زیادی که نام الله در آنها یاد می شد، تخریب می گردید و خداوند اکیدا یاری خواهد کرد کسی را که دین او را یاری کند همانا خداوند توانا و غالب است. [آن مؤمنانی که خدا بدیشان وعده ی یار و پیروزی داده است] کسانی هستند که هر گاه در زمین ایشان را قدرت بخشیم، نماز را بر پا میدارند و زکات را می بردازند و امر به معروف و نهی از منکر می نمایند و سرانجام همه کارها به خدا بر می گردد. در این آیات به طور اجمال گفته شده که جنگها در اسلام

چگونه و به چه منظوری آغاز شد؟ اهداف و مقاصد حکومت اسلامی چه بود؟ وظایف استخلاف فی الارض چیست و با سایر حکومت های دنیوی در چه اموری فرق دارد؟سر انجام، امنیت و آرامش در تمام سرزمین جزیرة العرب حاکم شد. معضلات سیاسی ونابسامانی های اجتماعی از بین رفت. در اکناف و اطراف مملکت، داعیان و مبلغان اسلام منتشر شدند. هیاتهای نماینده گی قبایل از مناطق و سرزمین های دور به بار گاه نبوت حضور می یافتند. فتح مکه، روز عظمت و اقتدار اسلام بود که در رمضان سال هشتم هجری به وقوع پیوست. بعد از آن، رسول الله صلی الله علیه وسلم در میان قبایل، افرادی را تعیین فرمودند تا زکات و صدقات را گرداوری کنند. ولی ارکان و پایه های خلافت الهی در اواخر سال دهم هجری، نزدیک به زمان حجة الوداع، تکمیل و مستحکم شد.

گر چه از دید ناقص و ناآشنای اروپا، این دوران از زندگی رسول الله صلی الله علیه وسلم دوران ریاست و سلطنت ایشان و مظهر یک زندگی سلطنتی به نظر می رسد، لیکن برای آشنایان و واقع بینان، حقیقت واضح و روشن است که سید الاولین و الآخرین، چه گونه در لباسهای کهنه و پاره، در کوچه های مدینه در صف فقرا و مساکین و غلامان پدیدار می شد و در حالی که بی نیاز از تاج و تخت، مستغنی از قصر و ایوان، بی پروا از حاجب و دربان، دور از خدم و حشم و مال و منال بود، بر دلها حکومت می کند. در حکومت ایشان نه پلیسی بود و نه مراکز و دفاتر سازمان یافته ای، و نه پست های حکومتی زیادی و نه هیات وزیران ونه امرا و قضات جداگانه. مسوولیت همه کارها با خود ایشان بود با وجود این، وی میان خود و عامه ی مسلمین به اندازه ی یک مو فرق و امتیاز قایل نمی شد. در دادگاه عدالت وی، فاطمة الزهرا رضی الله عنها جگر گوشه ی نبوت و یک مجرم عادی، برابر بودند.(۳)مقصود اصلی از بعثت پیامبر گرامی صلی الله علیه وسلم دعوت الی الله، اصلاح اخلاق و تزکیه ی نفوس بود. سایر مسئولیتها ضمنی و جنبی بودند. روی این اساس، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تا حدی به برپایی تشکیلات حکومتی پرداختند تا امنیت لازم برای دعوت توحید فراهم شود و موانع و مشکلات رفع شود.

نظم و مقررات حکومت اسلامی: رسول الله صلی الله علیه وسلم به سن شصت سالگی رسیده بودند، با این وصف، تمام امور حکومت را در آن سن بالای خودشان انجام می دادند و بر آنها نظارت داشتند مانند: تعیین والیان وعاملان، تعیین مؤذنان و ائمه جمعه و جماعات، تعیین نماینده گان برای جمع آوری اموال زکات و مالیات، انعقاد پیمان صلح با اجانب، تقسیم اموال میان قبایل مسلمان، ترتیب و نظم سپاهیان اسلام، رسیده گی به دعاوی، رفع اختلافات و جلوگیری از جنگهای داخلی، پذیرایی از هیاتهای نماینده گان و مذاکره با آنان، صدور فرامین لازم، ترتیب و انتظام امور افراد نو مسلمان، افتا در مسایل شرعی، اجرای تعزیرات در جرائم، نظارت بر مناصب و عهده داران بزرگ مملکتی و کسب اطلاع و حساب رسی از آنان. افراد متعددی از صحابه به عنوان والی به ولایات دور دست تعیین و اعزام شده بودند ولی وظایف و مسئولیتهای مدینه و اطراف آن شخصاً بر عهده آن حضرت صلی الله علیه وسلم بود. بار بزرگ وظایف و مسوولیتهای خلافت الهی بر دوش آن حضرت سنگینی می کرد و ایشان به لحاظ جسمی بسیار ضعیف شده بودند. در روایات مذکور است که ایشان در اواخر زندگی نماز تهجد را در حالت نشسته می خواندند و این از عوارض ضعف جسمی بود. این ضعف جسمی نتیجه ی چه امری بود؟ پاسخ این سوال را از زبان مبارک امیر مؤمنین حضرت عایشه رضی الله عنها بشنویم زیرا وی بزرگ ترین تصویر گر و ترجمان اعمال و زندگی آن حضرت محمد صلی الله علیه وسلم است: ((ان عبدالله بن شقیق قال سالت عائشة افکان یصلی قاعدا؟ قالت حین حطمه الناس(۴))) عبدالله بن شقیق می گوید: از حضرت عایشه پرسیدم: آیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم در حال نشسته نماز می خواندند؟وی اظهار داشت: آری! هنگامی که مردم ایشان را خسته و نحیف کرده بودند. فرماندهی در جهادامیر و فرمانده سپاهیان اسلام در غزوه ها و سرایای کوچک از بزرگان صحابه تعیین می شد، اما در جنگ های بزرگ، قیادت و فرماندهی سپاه را آن حضرت صلی الله علیه وسلم شخصا بر عهده می گرفتند. چنانکه در غزوه ی بدر، احد، خیبر، فتح مکه، و تبوک خود ایشان فرماندهی را بر عهده داشتند. دلیل این کار، جنگ، فتح و پیروزی نبود بلکه نظارت بر نظم و انضباط و مسائل اخلاقی و روحی سپاهیان بود. چنانکه در مسایل بسیار جزیی به سربازان اسلام تذکر می دادند که موارد تذکرات صریحا در کتب احادیث مذکور است و قوانین جنگی اسلام در پرتو همین موارد، تدوین گردیده است.

پرغزې داسرائیلو وحشي یرغل

اودنړۍ دشرم نه ډک دریځ

حسن مومند

پرغزې داسرائیلو د کابودوه اوونیو راهیسې دروانو وحشي بمباریواوځمکنو حملو په ترڅ کې نن دجولای په ۲۴ مې نېټې دملګرو ملتونو پر یوښوونځي داسرائیلي فوځونو دحملې په نتیجه کې ۱۵ نور مظلوم فلسطینیان هم شهیدان شول چې پدې سره دشهیدانو شویو فلسطیني مسلمانانو شمېر له ۷۲۰ واوښت.

دوحشي بمباریونه پس دځمکنیوبریدونوپه لړکې دجولاي د۲۰مې نېټي ځمکنۍ حملهډېره خونړۍوه چې دکوچنیانو او مېرمنوپه شمول پکې ۹۰ مظلوم فلسطینیان شهېدان اوګڼ شمېر ټپیان شوي وو ؛ددې حملې نه پس داسرائیلو دروانو هوایې اوځمکنو بریدونوپه ترڅ کې دشهیدانو شویو شمېر ۴۲۵ اودټپیانو شمېر له ۲ زرونه اوښتی و ؛ دملګرو ملتونو سرمنشي چې منځني ختیځ ته په سفرو دقطرپه پالازمېنې دوحه کې یې داحمله وغندله اودایې یوبې رحمانه عمل وګڼلو.

اسرائیلي دولت منلی ده چې پدې برید کې یې ۱۳ عسکر وژل شویدي نوځکه دامریکا ولسمشر بارک اوباما دسکوت روژه ماته شوه اوداسرائیلي عسکروتر څنګ یې دفلسطینیانو په وژل کېدوهم خواشیني څرګنده کړه ؛ داسرائیلو لومړي وزیربن یامین نتن یاهوسره یې ټیلفوني تماس ټینګ کړاو ورته یې داډ ورکړچې د دواړو اړخونوترمنځ داوربند درامنځته کولو لپاره به ډېر ژردباندنیوچارو وزیر جان کیري مصرته واستوي .

داسرائیلي فوځ لوی درستیز ددې عملیاتو نه پس وویل ،، دادسختو عملیاتو پیل دی ؛ پر اسرئیلو دحماس دراکټي بریدونو ترودرولو اودحماس دظرفیتونو دله منځه وړلو پورې به دا عملیات دوام ولري ؛ شاید اسرائیلي فوځیان مخې ته سختې شېبې ولري ،،

کوچنۍ عزه چې ایله د۷ نه تر۱۲ کیلومترو پورې پلنوالی اوتر ۴۲ کیلومترو پورې اوږدوالی لري دروژې پدې مبارکې میاشت کې داسرائیلو اوسنو وحشي بریدونوپکې قیامت ته ورته فضا جوړه کړېده ؛دهستوګنې په ټولوسیمو یې اسرائیلی طیارې په پرله پسې توګه درانده بمونه غورځوي اود دروژه ماتي پرمهال له ټانکونواوسمندري جازونو نه په توغندو ویشتل کېږي ، د دولتي ودانیوواوتجارتي مرکزونوترڅنګ بې شمېره کورونه دځمکې سره هوار شویدي ، ددې کرښودلیکلو تر دمه داسرائیلو اوسني روان خونړي یرغل کې دمېرمنو ، کوچنیانواو بوډاګانو په شمول ۷۲۰ نه زیات مظلوم فلسطینیان شهېدان شوي او دسختوټپیانو شمېر د ۲ زرونه اوښتی ، دغزې

روغتونونـه دتپیانونـه ډک دي او دطبـي مرسـتو د نـه رسېدو شکایتونه مخ په ډېرېدو دي.

غزه چې دتېرو کـابو ۹ کلونـو راهیسـې داسـرائیلو تـر محاصره لاندی وه او دغزې ټولې لارې اسرائیلو تړلې وې اوسـخته ځارنـه یـې کولـه پکـې هسـې هـم د خـوراکي مـوادو، دواګـانو او دارتیـاوړ نوروشیزونوسـخت قلت و ،دمحمد مرسي دواکمنۍ پرمهال مصر دغزې مسلمانانو پرواندې خپلې څمکنۍ لارې پرانستې وې چې له امله یې په غزې کې دهر څه فراخي وه خو پرمصر دکودتایي نظـام دمسـلط کېـدو نـه پـس دسیسـي لـه لـورې دالارې داسرئیلو دخوشالولو په موخه بیا کللکې وتړل شوې چې اوس دغزې نېږدې دوه میلونه اوسېدونکي ټول دارتیا ورڅیزونـه دمصـر درفح ښـارنه دهغـه تونلونـو لـه لارې راوړي کوم چې دمصر او غزې ترمنځ دکانکریټي دېوال لاندې په پټه یو اوبل لورته تېرشویدي.

ددې ترڅنـګ چـې دغـزې داوسـېدونکو پـرمخ ټـولې سـرحدي لارې تړلـې شـوي دي دبهـرون نـه پـه رتلونکـو کومکونو هم اسرئیلو بندیز لګولی اویوه حبه هم غزې ته نه پرېږدي څکه خو په ۲۰۱۰م کې چې دترکې ترقیـادت لاندې دخوراکي موادو او دواګانونه ډکه فلوټیلا دغـزې پرلـور روانـه وه سـاحل تـه درسـېدونه وړانـدی پـرې اسـرائیلوهوایې برید وکړچې غزې ته دبشـري مرستو رسولو په هوډ په فلوټیلا کې دسپرو دډلې نه یې ۱۸ تنان ووژل شول.

لنـډه دا چـې داوسـني بریدنـه لا دمخـه غـره د اوږدې محاصرې له امله د دواګانو اوخوراکي موادو دقلت سره مخامخ وه چې د اوسني یرغل په نتیجه کې داقلت نورهم زیات شو اولاپسې زیاتېږي.

داسـرائیلو داوسـني یرغـل پـه اړه دهـر وژدان لرونکـي انسـان لپـاره یـوه دردونکـې اودتأسف وړخبـره داده چـې ددې خونړي یرغل په پیلولو اسرائیل له یوې خوا دغزې په اوسېدونکودومره سترظلمونه کوي اوله بلې خوا په ډېرې سپین سترګۍ پړه پرحماس وراچوي او وایې چې دایرغـل یـې دحمـاس لـه لـورې پراسـرائیلو د راکټـي بریدونو د ودرولولپاره کړیدی.

خوحماس داسرائیلو ددې خبرې تردید کړی او ویلي یې دي چې ،،ټوله نړۍ پوهېږي چې اسرائیل دروغ وایې او دخلکوپه سترګو کې خاورې وراچوي،،

اسـرائیل چې پرغـزې داوسـني ستروحشـي یرغـل لپـاره پراسرائیلو دحماس راکټي بریدونه پلمه کړي داڅه نوې خبره نده ددې نه وړاندې یې په ۲۰۱۲ کې دخپل ۸ ورځني وحشي یرغل چې پکې څه کم ۲سوه دغزې اوسېدونکي شـهیدان او پـه سـونو نـور ټپیـان شـوي وو اولـه هغـې وړاندې د۲۰۰۸ د دسمبرنه پیل او د ۲۰۰۹ دجنورۍ پورې دغزیدلی خوراسترې هغې حملې لپاره هم همدا راکټي بریدونـه پلمـه کـړي وو پـه کـومې کـې چـې د ۳ سـوو کوچینیانوپه شمول د ۱۴سوو فلسطینیانو قتل عام شوی و، هغـه مهـال دبشـر دحقوقو دنړیـوالې اداري اسـتول شوې پلاوي داسرائیلو داعمل ستر جارحیت اوقتل عام ګڼلی و خوخبره په همدې پای ته رسېدلې وه

هــر څــوک پــوهېږي چـې غـرب دبشراوخصوصــا دمېرمنود حقوقــو، درایـــودازادۍ، ددیموکراســۍ اونـورې نـارې یـواځې اویـواځې دمسـلمانانو دځپلـو، محکومولـو اودخپلوګټودترلاسـه کولولپـاره وهـي؛ دبشردوسته امریکا په شمول دټولې غربي نړۍ دولتونه ، دملګرو ملتونو اداره او دامنیت شورې خو مسلمانانو ته د ډېرکوچني بشري تخلف په مقابل کې هم سزاورکول ضروري ګڼي اوکه کوم دولت یااسلامي غورځنګ هغـه څه کوي چې دوئ یې بشري ضد اعمال ګڼي نوبیا خود دارایـې کنګـل کولو او اقتصـادي بندیزونونـه نیـولی ترحملې کولو اود دولت ړنګولو پورې خبره رسوي او په ورځ کې دننه دننه پرېکړې رامنځته کېږي؛ خو همدې

امریکا ، نورو غربي دولتونو، دبشر دحقوقو نړیوالو ادارو، دملګروملتونو اداري او دامنیت شورى داسرائیلو په دې دومره ستر وحشت اوبشري جنایت سترګې پټې کړې وې، داسرائیلو پرضد کوم اقدام یا یې ددې وحشي عمل غندنه خولرى خبره وه دوحشت نه ډک دې عمل ته یې دبشریت ضد عمل ویلو جرأت هم ونکړ ځکه چې ۱۴ سوه وژل شوي بې ګناه انسانان مسلمانان وو.

اوس به هم همداسې وشي کله چې دیولوي شمېر فلسطیني مسلمانانو د وژلواوټپي کولونه پس اسرائیل روان عملیات ودروي (الله تعالى دې وکړي چې ژربندشي) نويوځو پلاوي به غزې ته راشي دمړو اوټپیانو ارقام به خپاره او افسوس به ښکاره کړي او داستربشري جنایت به هم همدلته هېراوپرې به خاورې واړول شي.

بس همدا دامریکا ،نورې غربي نړۍ دملګروملتونو او دامنیت دشورى دمنافقت نه ډکه اصل څېره ده ، همدا یې انصاف دى اوهمدا یې بشردوستي ده.

افسوس دهغه خلکو په حال دى چې اوس هم د لویدیځ اوخصوصاً دامریکا په منافقت ، اسلام اومسلمان دښمنۍ کې شک کوي اودالانه مني چې مسلمانان دوئ بشرنه ګڼي.

له بده مرغه چې داځل داسرائیلو یرغل په داسې وخت کې دى چې دفلسطینیانو لپاره په ټولیزه توګه اسلامي نړۍ په خورا خراب حالت کې ده ، دفلسطین مسلمانان په نړۍ کې تربل هروخت د دولتونو په سطحه خپل حامیان کمویني اوتمه نه کېږي چې په درد کې به یې د ېر حاکمان ځانونه شریک اوپه حق کې به یې اواز پورته کړي ، نوځکه به داسلامي نړۍ له لورې دخپل ځان دحمایت په اړه تر بل هر وخت زیات ناهیلي وي ؛ قذافي اوصدام حسین چې دفلسطینیانو لپاره به یې غږپورته کاوه هر یو وژل شوى او اداري یې ړنګې دي ،عمرالبشیر پخپله داسرائیلو د ګوابښونو او ګوزارونو اودغربي نړۍ دفشارونو لاندې دى اوستر سوډان یې تجزیه شویدى ، ایران له یوې خوا دخپل لانجمن اتومي پروګرام دحل لپاره دنړۍ دسترو قدرتونو سره په خبرو بوخت اوله بل لورې په عراق دداعش پرمختګ دسخت تشویش سره مخامخ کړیدى ؛ ټوله توجویې عراق ته اوښتې دمالکي ددولت بقا لپاره هلې ځلې کوي اوداعش چې شاید داسرائیلو نه به ورته دستر دښمن په نظر ګوري دپرمختګ دمخنیوي لپاره یې په عملي اقداماتو بوخت دى نوغزې دټولو اوسېدونکو اوپه ځانګړې توګه دحماس (چې سني مجاهدین دي) نه ددفاع یاحمایت ددریځ غوره کولو تمه ترې نه شي کېداى.

اوکوم شام چې دفلسطین دجهاد ښکاره حمایت به یې کاوه او د حماس د دوه مخکښانو قائدینو اسماعیل هانیه اوخالد مشعل دپناه ځاى و اوس پکې ستر کورني جنګ روان دى اوله بده مرغه چې بشارالاسد دخپل قدرت دساتلو لپاره دمسلمانانو دهرکلي نه غزه جوړه کړې ده.

اوله بده مرغه چې یوشمېر مهمو عربي هېوادونو خو لا له وړاندې دلویدیځ دفشار په نتیجه کې دحماس تنظیم تروریست غورځنګ ګرځولى چې ددې هېوادونو نه خو بیخي داتمه نه کېږي چې دغزې دمسلمانانو په حق کې به موأثر اواز پورته کړي.

اوډېر دافسوس ځاى دادى چې دګاونډي هېواد مصرهغه حالت ندى کوم چې یې له دې وړاندې په ۲۰۱۲ کې پر غزې داسرائیلو دحملې پر مهال وبلکې په ۲۰۰۸ - ۲۰۰۹ کې چې پرغزې داسرائیلو خونړۍ حملې رواني وې هغه مهال چې دمصر دحکومت کوم دریځ و نن یې هم هغې ته ورته دریځ غوره کړیدى

په ۲۰۱۲ کې چې اسرائیلو پر غزې اوږده خونړۍ حمله وکړه پرهېواد دامریکا او اسرائیلو هغه لاسپوڅی اداره چې مشري یې حسن مبارک کوله ، له منځه تللې اوپرځای یې دحماس دنظرحامي ولسمشرمحمد مرسي واکمن ودمحمد مرسي اداری دمظلومو فلسطیني مسلمانانو سره عملًا خواخوږي ښکاره کړه اوداسرائیلو دروان وحشي یرغل د ودرولو لپاره یې هم یولړ عملي گامونه پورته کړل ، داسرائیلو نه یې سفیر راوغوښت ؛ په قاهره کې یې داسرائیلو سفیردباندینیو چارو وزارت ته احضار کړ ، ورته یې احتجاج وکړ ، دامنیت شوری اوعرب لیگ نه یې په کلکه وغوښتل چې داسرائیلو دیرغل د ودرولو لپاره دي معقول اقدام وکړي ، ولسمشرمحمد مرسي خپل رومبی وزیرهشام قندیل غزې ته ولېږلو ؛ هشام قندیل غزې ته په رسېدو د الشفاء روغتون نه لیدنه وکړه ، هوري یې په ۲ شهېدانو کې د ۴ کلن محمد یاسر جسد غېږته راپورته کولو نه پس ښکل کړ ، له سترگویې اوښکې رواني شوې او ویې ویل ،، داناورین دمنلوړنه دی ، دنړیوالو مسئولیت دی چې مخه یې ونیسي اومصربه یې دمخنیوي لپاره هرډول قرباني ورکړي ،،

خوبرعکس په ۲۰۰۸ـ۲۰۰۹ کې پرغزې داسرائیلو خونړۍ حملې رواني وې خو دحسن مبارک اداري دغزې دمسلمانانو په وړاندې دمصر ټولې دروازې تړلې وې نه یې کوم مسلمان ته عارضي پناه ورکوله اونه یې هم خوراکي مواد او دوا غزې ته ورپرېښوده.

لنډه داچې داسلامي نړۍ د۵۷هېوادونو د دولتونو په اړه حالت په مجموعي لحاظ مایوسه کوونکې دی ، پردې هېوادونو مسلطو حاکمانو او ددوئ شریک تنظیم اسلامي کانفرانس دفلسطیني مسلمانانو سره دخواخوږۍ او دوحشي اسرائیلو دحملو ودرولو لپاره هیڅ عملي اقدام ونکړاو نه یې د شرم نه ډک سکوت روژه ماته کړه ؛ په نړۍ کې دعامو پېښو دراپېښېدو پر مهال درسمي عادي غبرگونونو په څېر په غزې کې دروان ستر بشري ناورین په اړه هم داسلا مي هېوادونو دمشرانو له لوري په جلا جلا ډول غبرگونونه رامخې ته شول چې هیڅ گټه یې ونه رسوله ؛ پکار دا وه چې دحملې په هماغه رومبۍ ورځ داسلامي کانفرانس ترمشرۍ لاندي بېړنۍ ناسته کړی اوپه ۲۴ ساعتونو کې دننه یې داسرائیلو دحملو دودرولو غوښتنه کړی وای ؛که دنه منل کېدو په صورت کې یې په نړیواله سطحه داحتجاج ورځ ، دملگرو ملتونو له رکنیت نه اجتماعي استعفا ،داروپا او امریکا سره تجارتي پرېکون اوداگډ جوابي دریځ غوره کولو اعلان کړی وای نو څه په کامل باور داوایم چې له ۲۴ ساعتونو نه به وړاندې هم داسرائیلو بریدونه ودرېدلي وای اوهم به د تل لپاره داسرائیلو دداسې وحشت مخنیوی شوی وای خو افسوس چې داسې ونه شول.

داهم د درد نه ډکه خبره ده چې داسلامي هېوادونو درسنیو حالت هم ددې هېوادونو حاکمانو له حالت نه بدل ندی ؛ په نایجیریا کې ۳میاشتې وړاندې دیو مکتب نه عیسوي انجونې وتښتول شوې اوپه دمسلمانانو په بوکوحرام نومي تنظیم وروا چول شوه نودکفري نړۍ ترڅنگ داسلامي نړۍ رسنیو هم دنیا په سر راخستی وه اونن چې ددې پېښې کابو ۱۰۰ ورځې تېرې شویدي لایې هم له یاده نه باسي اوښه په شدومد یې نړیوالو ته دوریادولو اودعاملینو دغندلو اوورته دسزا ورکولو غوښتنې رواني دي ؛ اوباید چې همداسې وکړي خودلته چې زمونږ په فلسطین کې یو ستربشري ناورین رامنځته شویدی ؛دانسانانو(چې اکثریت یې کوچنیان اومېرمنې دي) قتل عام دی نود اسلامي نړۍ رسنۍ خپل یو فیصد مسئولیت هم نه اداکوي ؛ نن په

نړۍ د رمزي کلارک ؛ جارج ګيلو اوټوني بل په څېر نامسلمانو پوهانو هم دفلسطينيانو په حق کې غږپورته کړی اوپه اسرائيلي وحشت سخت تنقيدونه کوي ؛

امريکايي جورنالسته ايبي مارټن روسي تلويزون ته په غزې کې داسرائيلو داوسني وحشت په اړه دراپور ورکولو پرمهال دېته مجبوره ېږي چې ووايي IT IS TOO MUCH

عيسوي جورنالست ايلن سورن سين په خپل راپورکې ويلي چې دسيروت په غونډۍ مې ګڼ اسرائيليان وليدل چې په چوکيو اوقالينوناست وو ؛ بيراوشراب يې څښل اوپرغزې دهر بم په پرېوتوبه يې دخوښۍ چغې پورته کولې.

دبرتانې دولسي جرګې غړي جيرالډ کافمين چې پخپله هم يهودي دی وايي چې پرفلسطينيانو داسرائيلو وحشت داسې دی لکه پريهودانو چې دنازيانو له لورې کېدل.

دبي بي سي په څېر متعصبه اداره هم مجبوره ېږي چې ووايي: دجرمني نازيانو په ظلمونو چې کومويهودانو نړۍ په سر راخستې همغوئ دفلسطيني ولسي وګروپه وژلو جشنونه لمانځي ؛ فلسطينيانو ته انسان ويلو باندې يهودان خفه کېږي ؛ دسزا ورکولو په کمپونوکې به چې نازيانو دکومويهودانوپسې چکې وهلې نن دهمغوئ څلورم نسل دشپې پرمهال غونډيو ته پورته کېږي اوپر غزې دغورځېدونکو بمونو نه دآتش بازۍ په څېر خوندونه اخلي ، ،

نوپه داسې حال کې چې ګڼ شمېر دنامسلمانو رسنئ دغزې داوسني وحشت په اړه چوپه خوله ندي پاتې شوي داسلامي هېوادونوزياتره رسنئ پدې اړه بيخي چوپه خوله دي اويوازې هغه څه خپروي کوم چې ددې هېوادونو دحاکمانو اوددوئ دتمويلونکوبادارانو په مزاج برابروي.

په اسلامي نړۍ کې دمال اوبشري ځواک هيڅ کمی نشته خومتاسفا نه چې حاکمانو کې يې لوړعزم ،کلکه اراده ، همت اوجرأت نشته ، د مسلمانو ځوانانو عزئم لوړ دي ، ارادې يې کلکې دي ، جرأت اوهمت ته يې عالم حيران دی ، قرباني ورکوي ، احتجاج کوي ، داسلام اومسلمانانو دښمنانو ته اخطارونه ورکوي خو چې په واک کې لاسپوڅي دي نو دا ځوانان دحکمت اوجرأت نه په ډکې پاليسی نه اسلامي نړۍ راټولولای شي اونه داسلامي نړۍ نه هغسې دفاع کولی شي څنګه چې يې غواړي ،غزې ته ګوري چې پرې ددرندو بمونو اوتوغندو باران دی ، لوخړې ترې پورته کېږي ، هره ورځ په لسګونو کوچنيان ، مېرمنې او بوډاګان وژل کېږي ، قيامت ته ورته فضا ويني خو هيڅ نه شي کولای.

هو ! دامريکا په نوم هغه زبرځواک چې په نړۍ کې داسرائيلوترټولو سترتمويلونکی هېواد دی؛ په هر حالت کې يې ترشا کلک ولاړدی؛ نه يوازې دا چې تمويلوي يې بلکې په پراخه پيمانه هرډول پر مختللې وسلې ورکوي ؛ دفلسطيني مسلمانانو قتل عام داسرائيلو دفاع او پر ځای عمل بولي ؛ دې قتل عام اوپه فلسطيني خاوره کې يې ديهودانو لپاره نويو مېشت ځايونو جوړولو ته هڅوي ؛ داسرائيلو دجبر پر ضد دهر راپورته شوي غږ سره مخالفت ښايي اودملګرو ملتونو په اداره کې داسرائيلي وحشت پرضد هررامخې ته شوی پرېکړه ليک ويټو کوي ددې زبرځواک او دنورو متحدينو دټکولو او ورنه دمسلمانانو دانتقا م اخستلو موکه الله تعالی دی ځوانانو ته په افغانستان کې ورکړيده نودا اوس په دوئ ده چې ددې موکې نه څومره ګټه پورته کوي اوعملاً دفلسطيني وروڼو سره په درد کې څانونه څومره شريکوي؟

مارگریت چگونه مریم شد؟

داستان اسلام آوردن

چه زیباست هنگامی که انسان چشمانش به سوی حق روشن می‌شود وحقیقت را بعد از گمراهی می‌یابد. چه زیباست هنگامی که شخص با احساساتی روحانی مواجه می‌شود وتمام بدنش را در برمی گیرد. مارگریت که اسمش را به مریم تغییر داده است یکی از زنانی است که در جستجوی حقیقت بوده است که آن را یافته است...

مارگریت مارکوس او در یکی از حومه‌های نیویورک در سال ۱۹۳۴ از پدر ومادری یهودی متولد شده است. تعلیمات ابتدایی را در منطقه "ویستشیر" که یکی از مناطق شلوغ نیویورک محسوب می‌شود گذرانده است. طرز فکر او وروش زندگی‌اش از همان ابتدا نشان می‌داد که زلزله‌ای در درون او در حال شکل گیری است که باعث تغییر در زندگی او می‌شود. او هنگامی که نوجوانی بیش نبود به کتاب وکتاب خواندن علاقه وافری داشت. از همان ابتدا با سینما ورقص وموسیقی پاپ مخالف بود وهیچگاه در جلسات مختلط شبانه شرکت نداشته است.

مریم می‌گوید: وقتی ده ساله بودم بسیار به کتاب خواندن علاقه داشتم مخصوصاً کتبی که در مورد عربها سخن می‌گفت. آنجا بود که فهمیدم این اعراب نبودند که اسلام را ساختند بلکه اسلام بود که این قبایل بدوی وابتدایی را سروران عالم ساخت.

بعد از موفقیت در دبیرستان در سال ۱۹۵۲ به قسم پژوهشهای ادبی دانشگاه نیویورک ملحق شد؛ ولی به علت بیماری که در سال دوم تحصیل به آن دچار شد مجبور شد به مدت دو سال از درس وتحصیل دور باشد اما در این مدت او بیکار ننشست بلکه به تحقیق در مورد دین اسلام پرداخت؛ وقتی که به تحصیل برگشت سؤالات زیادی را در ذهن داشت که به دنبال آن احساس عاطفی نیز نسبت به اعراب پیدا کرده بود. در دانشگاه با یک یهودی دیگر آشنا شد که او مصمم به دخول به اسلام بود؛ او نیز یک احساس عاطفی نسبت به اعراب داشت وتوسط او با دوستان عرب بسیاری آشنا شد. او ودوستانش در جلسات سخنرانی یک حاخام یهودی به عنوان "تعالیم یهود دردین اسلام" شرکت می‌کردند. این حاخام یهودی سعی می‌کرد ثابت کند که تعالیم اسلام تماماً وبه طور مستقیم از کتاب تلمود (که تفسیر تورات درنزد یهود بود) گرفته شده است. او در این زمینه از روی کتابی که خود تألیف کرده بود به توضیح اصول دین اسلام می‌پرداخت وبا ذکر آیاتی از قرآن مجید آن را به کتاب تلمود دربط می‌داد.

تناقض وادعاهای باطل در آمریکا صهیونیستها با آزادی کامل به ترویج افکار خود می‌پردازند، آنها از طریق تبلیغات وهمچنین تولید فیلم به تمجید دولت صهیونیست می‌پردازند؛ ولی برای او این امر متفاوت بود زیرا او این امور را ناشی از برتری دین اسلام نسبت به یهودیت می‌دانست؛ جالب این جاست که نخست وزیر سابق اسرائیل "بن گوریون" که صهیونیستها او را از

بزرگان یهود می‌شمارند نه تنها به خدایی که برتر از سایر موجودات بود اعتقادی نداشت بلکه به معابد یهودی‌ها نیز داخل نمی‌شد و پایبند شریعت یهودی نیز نبود، در عصر حاضر نیز همین طور است به طوری که بسیاری از صهیونیست‌ها می‌پندارند خداوند نماینده املاک جهانی است که هرکجا که دلشان بخواهد به آن‌ها زمین اختصاص می‌دهد بدون اینکه به سایر بندگانش تخصیص دهد!.

هرچه بیشتر مریم به این افکار می‌اندیشید متوجه پوچی عقاید یهود وتتناقضات عجیب در دین آن‌ها می‌شد؛ او به این نکته پی برده بود که علمای یهود به شدت از اسلام و پیامبر اسلام متنفر بودند و این تفکرات باعث شده بود که مریم بیش از پیش از آن‌ها فاصله بگیرد. روزی که او به قرائت ترجمه قرآن کریم پرداخت برای او یقین حاصل شد که این کتاب از جانب خداوند علیم نازل شده است که در آن تمام امور بیان شده است. او تقریباً روزانه به کتابخانه بزرگ نیویورک مراجعه می‌کرد وبیشتر اوقات را با ترجمه کتاب سترگ "مشکاة المصابیح" که در چهار جلد نگاشته شده است می‌پرداخت. در این مدت او توانست جوابهای قانع کننده‌ای درمورد اموری که در این زندگی برایش بدون جواب مانده بود دست پیدا کند. او در این مدت پی برده بود که اسیر شهوتهای نفسانی گشتن برابر است با غرق شدن در لذتهای فانی این دنیا که نتیجه‌اش جز افسردگی وکژی در مسیر زندگی چیز دیگری عایدش نمی‌شد.

و... سرانجام تولدی دیگر

در یکی از روزهای سال ۱۹۶۱ او تصمیم خود را گرفت وبه مقر بعثه اسلامی در بروکلین مراجعه کرد وبه دست داعیه اسلامی (داوود فیصل) مسلمان شد واسمش را به مریم تغییر داد وبه دعوت شیخ (ابو الأعلی مودودی) به پاکستان مهاجرت کرد وبا (محمد یوسف خان) ازدواج کرد که از او چهار فرزند دارد. مریم در این مورد می‌گوید: علی رغم اینکه پاکستان نیز مانند هر کشور مسلمان دیگری است که از آفتهای انگلیس وآمریکا در امور مختلف در امان نمانده است اما شخص می‌تواند با دینش یعنی اسلام زندگی کند هرچند که درراه پیاده کردن دین در این کشورها نیز با مشکلاتی مواجه می‌شود اما زود می‌تواند آن را تصحیح کند.

نامه‌ای به عموم مسلمین از قرآن وسنت پیروی کنید نه فقط در شعار که در سیره عملی زندگیتان نیز این دستورات را پیاده کنید؛ از اختلاف بپرهیزید ووقتتان را در امور بی مورد تلف نکنید [اگر این دستورات وفرامین را پیاده کنید] به مشیت خداوند او شما را به سعادت بزرگ در این زندگی وجایزه بزرگتر در آخرت که همانا [بهشت [است می‌رساند....

نامه‌ای متفاوت مریم دراین مدت والدینش را نیز فراموش نکرد؛ در سال ۱۹۸۳ نامه‌ای خطاب به والدینش در امریکا به این مضمون نوشت: "باید بدانید که جامعه‌ای که ما در آن رشد ونمو کرده‌ایم دچار ازهم گسیختگی است وهر لحظه متلاشی شدن آن را شاهد خواهیم بود؛ آمریکای کنونی دنباله امپراطوری روم قدیم است که در مراحل آخر به سقوط انجامید، این امر را نه فقط در آمریکا که در کشورهای اروپایی وهر کشوری که دارای فرهنگ غربی است را شاهد خواهیم بود. تجربه ثابت کرده است که هر کشوری که براساس نظام سرمایه داری ولائیک تشکیل شده باشد نمی‌تواند الگویی مناسب برای یک نظام اجتماعی موفق تلقی شود"

داروپا د بشري حقوقو محکمې

تور پرېکړه!

فرهاد

دفرانسې دحکومت لخوا داپرېکړه چې په دغه هېواد کې په مسلمانې میرمنې له کوره په پرده کې بیرون نشي وتلی!! په وروستیو کې داروپا دبشرحقوقو دمحکمې د لورې هم توثیق شوه، محکمې دغه پرېکړه دیوې مسلمانې فرانسوي میرمنې دعریضې په ځواب کې ورکړې ده، هغې محکمې ته په عریضه کې ویلي وچې دخلکو دګنې ګونې ځایونو کې لوڅ مخ ګرځیدو سره یې مذهبي ازادی ته زیان رسي!په ۲۰۱۰ز کې فرانسې دخلکو په عامه ځایونو کې دمیرمنو لپاره په مخ پټولو او نقاب اغوستلو بندیز ولګا و،او دابندیز دفرانسې دپخواني ولسمشر سرکوزي لګولی و، څوک چې نن سبا په بد اخلاقیو کې دښکېلتیا له امله ترنیوکو لاندې دی او دمحکمې لخوا له پوښتنو او ګرويږونو سره مخ دی.

داروپا دبشري حقوقو محکمې دعریضه کوونکې میرمنې عریضه په دې رد کړې چې دګنې ګونې په ځایونو کې خلک شاید دفسې رویه او عادت خوښ نکړي، ددې معنی داده چې دوتنه له یوبل سره خلاصې خبرې نشي کولی،بي بي سي چې په دغه ډول دوسیو کې دلویدیځ مدافع وکالت کوي، دا سپیناوی هم کړی: چې په لویدیځ کې په دې خبره اتفاق دی، چې دوګړوترمنځ له یوبل سره یوځای کیدل،دټولنیز ژوند لازمي جزدی، په داسې ټولنه کې له یوبل نه په مخ پټولو نیو کې کولی شي،پورته تفصیل بي بي سي ورکړی دی، اوپه دې یې کوم طنزیه احتجاج هم ندی کړی، بلکې تري بشپړ ملاتړیې کړی دی، اوکه دمیرمنو خلاف داسې کومه پرېکړه په کوم اسلامي هېواد کې شوې وای چې هغې څه نه څه دیني رنګ درلودای،نوبیا به دبي بي سي طنزیه جملې لیدلی شوې وي، دبي بي سي نومیالیو کتونکو اوبلاګرز به خپله ټوله ورتیا نه وه سپمولې اویو توپان به یې پورته کړی و، داعریضه چې یوې میرمنې کړې وه«چې دخلکو دګنې ګونې په ځایونو کې دنارینه وو په مخ کې دخپل مخ په لوڅولو اندیښمنه ده»، هغې غوښتل که کومه میرمن خپل مخ نه لوڅوي دا باید دهغې حق وګڼل شي.

که په واقعي توګه دراییې اظهار او دشخصي معاملاتو په اړه داروپا یانو اندونه ولیدل شي، نومیرمنولپاره په ریښتیا هم داحق ورکول پکاردي چې هغوئ له نارینه وونه خپل مخ پټ کړي، ځنګه چې دګنې ګونې په ځایونو کې مغربي میرمنوته دهرډول لباس اغوستلو اجازت دی، حتی چې دېر لباسونه داسې هم دي، چې ورته دلغت له پلوه لباس ویل ګران دي، یعنې دصفر په مقدار لباس؛ په اروپا کې دګنې ګونې په ځایونو هرډول بیهودګی اوبد اخلاقی نه دګ حرکتونه زغمل کېږي، البته په پرده کې ورته دمیرمنې لیدل له زغمه بیرون دي،په اصل کې

هلته دمعیارونو سره سمه چې کومه ازادي ده هغه دبداخلاقۍ اوبیهودګۍ ازادي ده، دهغې ازادۍ په دایره کې شرافت او اخلاقوته درناوی درلودل ځای نلري.

داروپا لکونه میرمنې دلباس پرته لوڅې لغړې ګرزي، اوس که هلته یوه نیمه مسلمانه میرمن نقاب واغوندي نو هغوئ لوڅې تولنې ته ترې کوم خطر کیدای شي؟ دایوه پوښتنه ده، خو داروپا اوباش داریږي چې هسې نه نقاب عام شي، اوپه میرمنو کې مقبول شي اوکه داسې وشول نوبیا به په هره دوه لارې، هردوا کان، پارک، دفتراودسرک په سر په وړیا توګه میرمنې مندل ورته ګران شي، اروپا میرمن یوه عوامي اثاثه ګرځولې، چې دهغې نه خدمتونه اخستل، او دهغې په جسم باندې دټولې ټولنې حق منې، دغه وجه ده چې اروپا او امریکا په هیڅ صورت له خپلې اجتماعي اثاثې نه لاس په سر کیږي،

دفرانسې په ګډون په نورو اروپایي هېوادو کې هم دمیرمنو لپاره دنقاب په اغوستلو بندیز دی، مسلماني میرمې دډول ډول ستونزو سره مخ دي. بلکې په دې اړه دیوه مخصوص لوري نه دمنافرت ښکاردي، چې پایلې یې ترمر ګونو پورې ښکاره شوې دي، دوه کاله وړاندې دجرمنې به یوه محکمه کې دننه یوه مسلمانه میرمن "مروه الشربیني" یوه جنوني سړي په خنجرونو ووهله اوشهیده یې کړه، هغه هم محکمې ته دنقاب لپاره عارضه شوې وه، اوس یوڅو ورزې مخکې یوه سعودۍ میرمن ووژل شوه، چې دهغې په اړه هم دکتونکو په وینا :هم داسې دنقاب کوم مخالف په شهادت رسولې

دپردې حق مندلو لپاره په اروپا کې میشت مسلمانان دسختو مشکلاتو سره مخ دي، دادهغو ازادخیالو او دغرب دغلامانو لپاره بس ده چې هغوئ شور اوغوغا پیل کړې چې مسلمانان په جبر سره میرمنې پردې کولوته اړیستلې، په اروپا کې څوک په یوه ماشومه باندې هم جبر نشي کولی هغه پخپله خوښه لباس اغوندي ، خو دمیرمنو لخوا دغوښتنو سربیره هغوئ ته پردې حق نه ورکول کیږي، بلکې جبراً هغوئ بې پرده ګۍ ته اړیستل کیږي اوپرده ترې تروړلی شي.

که وکتل شي نو جبر په اروپایي ټولنه کې له میرمنو سره کیږي، بلکې که دسمې زوایې نه حالت وکتل شي، نو اروپا کې هره میرمن دجبر لاندې ازاد ژوند نه اړیستلې، په ټولنه کې یې ګنې کارونه ددې لپاره ضروري ګرځولي، چې په هغو کې دښځو بې پرده کول دي، بلکې اروپایي میرمنې مجبوردي چې خامخا به له نارینه وو سره ناروا اړیکې جوړوي، ولې چاپیریال داسې دی چې کوم نارینه دمیرمنو سره یوځای ځان نه خلط کوي، هغه ناروغ ګڼل کیږي، خلک هغه پورې توکې ټکالې کوي، هغه ته په حقارت کتل کیږي، له دې وجې اروپا کې میرمن مجبوره ده چې دنارینه وو سره به ناروا اړیکې جوړوي، چې دا په حقیقت کې ازادي نده، یوټولنیز جبر دی، چې میرمن هرځای استعمالوي.

نومسلماني میرمنې دې پخپلو ټولنو کې دخپلو کالیو او داسلامي اقدارو درناوې وکړي، دپردې قدر دې وکړي، اوفکر دې وکړي چې په کومو ټولنو کې میرمنوته دنقاب اجازه نه ورکول کیږي، هغه میرمنې به له څومره ستونزو او مشکلاتو سره مخ وي، حال داچې نړۍ کې تاثر دادی چې په اسلامي هېوادو کې له میرمنو سره ناروا سلوک کیږي، هرکله چېکومه واقعه رامنځته شي چې هغه دلویدځ دمعیارونو سره سمه نه وي نو دهغوئ حکومتونه غوغاجوړه کړي، اوغوښتنه کوي چې هغې دمخنیوي لپاره ګامونه پورته کړئ، خو افسوس چې داسلامي هېوادو حکومتونه له سیاسي پلوه دومره حقیر او کمزوریدي چې دپردې پښان دشرافت په نښه دبندیز لګولو خلاف یوه هم غږ پورته نکړای شوا وهرچې امریکا او اروپا ده هغوئ دخپلو معیارونو یوه ادنی سرغړونه هم نه زغمي .

دشهامت فقهي مسايل

زكات فريضه څنګه اداء كيږي؟

زكات په كومو خلكو او د كومو خلكو لپاره

سجاد

نړۍ كې ټول ميشت خلك په درې ډلو ويشل كيږي:

١:.... شتمن خلك، په چا چې دخاصو شرايطو وروسته زكات فرض كيږي.

٢:.... غريب خلك، چې ور باندې زكات فرض ندى او رواده چې له بل نه زكات واخلي.

٣:.... دريم منځني درجه خلك دي چې په هغوئ نه زكات فرض دى اونه دهغوئ لپاره زكات اخيستل جوازلري.

دلته ددې درې ډلو دپيژندلو لپاره هغه معيارونه ښودل كيږي چې له مخې يې هره ډله بايد دخپل حال او كيفيت پيژندلو سره سم په ځان دخداى (ﷻ) لازم حكمونه سرته ورسوي. ددې لپاره دوه شيان پيژندل ضروري دي: يو داچې هغه كوم څيزونه اومالونه دي، چې دهغو په شتون كې زكات فرض دى؟اودويم دهغو څيزونو او مالونو مقدار به څومره وي چې دهغو په ترڅ كې يوتن زكات وركولى شي يا زكات اخيستلى شي؟لومړى څيز "د زكات مالونو "او دويم څيزد "زكات د نصاب" په اړه دعلم په حاصلولو سره پيژندل كيداى شي.لاندې دزكات مالونه اوزكات نصاب په تفصيل سره راوړل كيږي:

دزكات مالونه:

دزكات له مالونو څخه مراد هغه هغه شيان او توكي دي چې دهغو (مخصوص مقدار) په مالك كرځيدو زكات فرض كيږي، هغه ټول څلور ډوله (شيان يا مالونه دي) دي:

١:.... سره زر، كه دزيور يا ګاڼې په شكل وي ،دخښتې، يا دلوښي په شكل وي، استعمالولى شي يا نه، خالص وي يا ور سره ملاوټ شوى وي، په هر صورت سره زر دزكات مال دى.

٢:... سپين زر، دګاڼې اوزيور په شكل وي، يادغسې وي، دخښتې يالوښي په شكل وي، استعمالولى شي او كه نه، خالص وي او كه ګډ كړل شوي په هر صورت دا(سپين زر) دزكات مال دى.

٣:... نغده، پخپل ملك كې وي، يادكوم بل چا په ملك كې، ځان سره وي ،يا په بانک كې، چيک وي، يا ډرافټ، نوټ وي يا سكه، چاته يې قرض وركړې وي (په دې شرط چې دترلاسه كيدو اميدوي) په دې ټولو صورتونو كې نغده د زكات مال دى.

۴:..... دتجارت مال، يعني تاجر ددوكان هرهغه سامان چې دپلورلو په نيت يې پيرلى وي، او تراوسه دپلورلو نيت ولري نودا (دتجارت مال) دزكات مال دى، (اوكه ياد مال يعني دتجارت مال دكور داستعمال لپاره يې ساتلى و، يا يې خوى اودوست ته دهديې په توگه وركړي، يا يې په اړه دپلورلو نيت پريښود نو دا مال دزكات مال ندى(بدايع الصنايع كتاب الزكات. ۲ټوک ۱۰۰مخ، دار احياء التراث العربى)

دا ټول څلور ډوله مالونه دي، چې ورباندې (مخصوص مقدار ته په رسيدو) زكات فرض كيږي، البته كه يوتن پوروړى و، نو دپور اداء كولو وروسته دي دپاته مال زكات وركړي.

دزكات نصاب:

په پورته كرښو كې درې دلي وښودل شوې، چې دهغو تيمز دنصاب په مالك كيدو موقوف دى، ددې تيمز پيژندلو لپاره ضروري ده، چې نصاب دوه ډوله وي، يو نصاب تر زكات وركونكي پورې اړه لري، بل ترزكات اخيستونكي پورې اړه لري، په دواړو نصابونو كې يوڅه توپير دى، چې په لاندې ډول ليكل كيږي:

لومړى ډول نصاب(دزكات وركونكي لپاره)

الله (ﷻ) دخپلو غريبو بنده گانو لپاره په شتمنو باندې دهغوئ په مالونو كې پر يو مخصوص مقدار زكات فرض كړى دى، كوم ته چې نصاب ويل كيږي، كه هر سړى ددغه نصاب څښتن شو، په هغه باندې زكات فرض دى، اوكه دهر سړي سره دهغه نصاب نه كم مال وي په هغه زكات فرض ندى، په دې نصاب كې يواځې هغه څلور دزكات مالونه راځي، كوم چې پره ذكر شول، دڅلور ډوله زكات مالونو هغه مخصوص مقدار چې په هغه زكات فرض كيږي، په لاندې ډول ليكل كيږي:

۱:..... كه دچا سره يواځې سره زرو، بل كوم (مثلاً:سپين زر، نغده پيسې، يا دتجارت مال) ورسره نه و، نو څو چې شته سره زر اووه نيمې تولې (۸۷.۴۷۹گرامه) نه وي شوي ترهغه زكات فرض كيږي نه اوكه سره زر ياد وزن ته ورسي، نوزكات فرض كيږي (بدائع الصنايع، كتاب الزكاة، صفة الزكاة، ۲ټوک ۱۰۵مخ، دار احياء التراث العربى)

۲:..... كه دكوم سړي سره يواځې سپين زروي، بل كوم مال (سره زر، نغدې پيسې، يا دتجارت مال) ورسره نه وي، ترڅو چې سپين زر دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵گرامه) نه وي شوي ترهغه وخته پورې زكات فرض ندى ،اوكه دسپينو زرو وزن پور ته وزن ته رسي نوزكات فرض دى (بدائع الصنايع، كتاب الزكات، أموال الزكاة، ۲ټوک، ۱۰۰مخ، دار احياء التراث العربى)

۳:... كه ديو سړي سره يواځې نغدې پيسې وي، بل كوم مال (مثلاً: سره زر، سپين زر، ياد تجارت مال) نه وي، نو ترڅو چې نغدې پيسې دومره نه وي شوي چې په هغو دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵گرامه) سپين زر وپيرل شي، ترهغه وخت پورې زكات فرض ندى اوكه ورباندې دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵گرامه) سپين زر كيدل نوزكات فرض كيږي(بدائع الصنايع، كتاب الزكاة،أموال لزكاة، ۲ټوک، ۱۰۳مخ، دار احياء التراث العربى)

۴:..... كه دكوم سړي سره زر اوسپين زر وي، (هرڅومره چې وي) يا سره زر، نغدې پيسې وي، يا سره زر او دتجارت مال وي، يا سپين زر، نغدې پيسې وي، يا سپين زر ياد تجارت مال وي، (ددريواړو مالونو) سره زر، سپين زر، اونغدې پيسې وي، يا سره زر، سپين زر، اودتجارت مال وي، يا څلور واړه مالونه) سره زر، سپين زر، نغدې پيسې، او دتجارت مال وي، نو په دې ټولو صورتونو كې هغه مالونه بيه كيږي، كه دهغو بيه ددوه پنځوس نيمو تولو(۶۱۲.۳۵گرامه) سره برابر شوه، نوزكات واجب دى، اوكه كمه شوه زكات واجب ندى.(بدايع الصنايع، كتاب الزكاة، صفة الزكاة، ۲ټوک، ۱۰۵ - ۱۰۶مخ، دار احياء التراث العربى)

د نصاب دويم ډول (يعني دزكات اخيستونكي لپاره)

په دې نصاب كې ياد نصاب (يعني دلومړي ډول نصاب ټولو صورتونو) سره له اړتيا څخه زيات سامان هم شمارلى

شي. اودنصاب په دې دويم ډول کې هم هغه ټول صور تونه جوړيږي، کوم چې په لومړي ډول نصاب کې هم جوړيدل. مثلاً:

۱:.... که دکوم چا سره يواځې سره زر او له ارتيانه زيات سامان وو، نو دواړه ډوله سامان به يو بل سره کولی شي، که دهغو بيه دومره کيده چې په هغه دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵) سپين زر پيرل کيدل، نو ددومره مقدار مال څښتن لپاره زکات اخستل جايزندی او په داسې سړي باندې سرسايه (صدقه فطر) ور کول او قرباني واجب دي.

۲:.... که يو سړی يواځې سپين زر ولري، او دضرورت نه سيوا سامان هم ولري، ددينه علاوه نور مال (لکه سره زر، نغدې پيسې، اودتجارت مال) ورسره نه وي، نو دغه ډول مالونه به بيه کولی شي، که دهغو قيمت دومره وچې ورباندې دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵ گرامه) سپين زر کيدل، نو ددومره مقدار مال څښتن لپاره زکات اخستل روا ندی او په داسې سړي باندې سرسايه (دفطر صدقه) ور کول او قرباني کول واجب دي.

۳:... که له يو سړي سره نغدې پيسې او دضرورت نه زيات سامان وو اونور مال (مثلاً: سره زر، سپين زر، او دتجارت مال) ور سره نه و هر کله چې دهغه قيمت دومره شو، چې په هغه باندې دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵ گرامه) سپين زر کيدل نوددغه مقدار مال څښتن لپاره زکات اخستل ناروادي او وربانډې سرسايه (دفطر صدقه) ور کول او قرباني کول واجب دي. که ددې دواړو قيمت دومره نه و، چې ورباندې دوه پنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵ گرامه) سپين زر و شي، نوبيا ورته زکات اخستل روادی.

۴:.... که يو سړي سره (پنځه واړه مالونه) سره زر، سپين زر، نغدې پيسې، دتجارت مال، اوله ضرورت نه زيات سامان وو، په دې ټولو صور تونو کې به دا ټول مالونو بيه کولی شي، که په هغه باندې دوپنځوس نيمې تولې (۶۱۲.۳۵ گرامه) سپين زر کيدل، نو دغه سړي لپاره زکات اخستل روا ندی او وربانډې سرسايه (دفطر صدقه) ور کول او قرباني کول واجب دي. که ددې پور ته يادو صور تونو څخه يو صورت هم نه وو، نودغسې سړي ته په شريعت کې صاحب نصاب نشي ويل کيدای، يعنې ددغه سړي لپاره هر ډول واجبه صدقات اخستل روا دي. (بدايع الصنايع، کتاب لزکاة، مصارف الزکاة، ۲ټوک، ۱۵۸مخ، داراحياء التراث العربي)

له ضرورت نه زياتي سامان:

هغه ټول څيزونه دي، کوم چې په کورونو کې ساتل کيږي، کومو ته چې کلونه، کلونه ضرورت نه راځي،

الف: وي سي آر، ډش، دناروا مضامينو آډيو او ويډيو کيسټونو پشان څيزونه په ضروروتونو کې نه راځي، بلکې لغويات دي، ياد شيان دضرورت نه علاوه دي، له دې وجې دا ټول به بيه او حسابولی به شي.

ب:.... داستوګنې کور، داغوستلو کالي، دځملاستو بسترې، دضرورت سورلی، دکاله عام ضروري سامان چې کوم په عامه توګه استعماليږي، دا ټول دضرورت په سامان کې راځي، په دې سره انسان شرعاً شتمن نه ګڼل کيږي، دا دنصاب په حساب کې نشي شمارلی (الفتاوی الهنديه، کتاب الزکات، الباب الاول فی تفسير الزکاة، ۱ټوک، ۱۲۶مخ، رشيديه)

ج:... صنعتي آلات، ماشينونه، او نور دروزي ګټلو وسايل (په کومو سره چې خلک روزي ګټي) هم په ضرورتونو کې راځي، هغه به نشي حسابولی، لکه، دخياط کاليو ګنډلو ماشين، د ترکاڼ، آهنګر د بزګر اونورو کاري وسايل، دسبزې اوميوې پلور لوريړۍ، بايسکيل اونور... (الفتاوی الهنديه، کتاب الزکاة، الباب الاول فی تفسير الزکاة، ۱ټوک، ۱۷۶مخ)

د:... که دچا سره دضرورتونو پوره کولو سامان وو، خو هغه ددينه علاوه څه نور سامان دضرورت نه سيوا ساتلی وو، مثلاً: دچا ضرورت په يوه موټرپوره کيده، ورسره دوه موټر وو، يا دهغه ضرورت په يوه کور کې پوره کيږي، خو دوه کوره لري، يا ددينه هم زيات کورونه ولري، ددې زيات موټر او کور قيمت به په نصاب کې حسابوي (بدايع الصنايع، کتاب الزکاة، مصارف الزکاة، ۲ټوک، ۱۵۸مخ، دار احياء التراث العربي)

دزکات واجب کیدو نیټه:

په ژوند کې ترټولو لومړی ځل چې دچا په ملکیت کې دلومړي ځل نصاب سره سم مال راشي، نو هغه دې وګوري چې په دغه ورځ دقمري کال (سپوږمیز) کال کومه نیټه ده؟ هغه نیټه دې یاداښت کړي، همدا نیټه ددغه تن لپاره دزکات ور کولو دنیټې په توګه تعین شو.ه ښکاره ده چې دزکات دوجوب او ادا کولو لپاره قمري کال ضروري دی، که چاته دقمري کال نیټه نه وي یاده، نوهغه دي دښه غور اوفکر وروسته یوه قمري نیټه تعین کړي، راتلونکي کې دي دهمغې سره سم دحساب کتاب کولو وروسته دلمریز کال په تاریخ زکات ادا کول جایز دي.

دزکات لپاره دحساب کولو طریقه:

په کومه سپوږمیزه نیټه چې چاته دنصاب په اندازه مال راغی، دهم هغه نیټې نه به راتلونکی کال په همدې نیټه دخپل مال حساب کوي، که دنصاب په مقدار مال وو، نو دټول مال دوه نیم سلنه (٪۲.۵) به زکات ور کوي (العالمګیریه، کتاب الزکاة، ۱ټوک، ۱۵۷مخ)

مال باندې د کال تیریدو مطلب:

په کوم تاریخ چې زکات واجب کیږي، دهغه نه یو کال وروسته دي زکات ور کړای شي، ددې یو کال تیریدو مطلب دادی چې په دې لومړۍ نیټه اوپه یو کال وروسته نیټه دنصاب مال په اندازه چې ددغه تن په ملکیت کې و، ددې دواړو نیټو ترمنځ په مال کې چې څومره کموالی اوزیاتوالی راځي، په هغه سره کوم اثر نه پریوزي،بس شرط داده چې مال ټول نه وي ختم،یعنې دمال په هر جز باندې د کال تیریدل شرط ندي،بلکې دواجب کیدو وروسته راتلونکي کال ته په همدې نیټه دنصاب باقي پاته کیدل ضروري دي، که نصاب باقي پاته و، نو دزکات اداکول لازم دي، اوکه نه و، ندی واجب،(بدایع الصنایع، کتاب الزکاة، اموال الزکاة، ۲ټوک ۹۶مخ)

دتجارت په مال کې دزکات احکام:

دتجارت مال ورإندې تعریف شوی دی، ځیني کسان دناسم پوهاوي په وجه دتجارت مال یوازې هغه مال بولي، دکوم چې انسان سوداګري کوي، او دګټې په نیت یې پیرې اوپلوري، حال داچې شرعاً دتجارت مال ګرځیدو لپاره دیاد قید شتون ضروري ندی، بلکې هر هغه شی چې انسان تجارت په نیت باندې واخلي، هغه دتجارت په مال کې راځي، البته دپیرلو په وخت کې یې دپلورلو نیت نه وو وروسته دپلورلو په نیت دتجارت مال نه ګرځي، بل پلو هغه څېز چې دتجارت په نوم اخستل شوی که وروسته دتجارت نیت بدل شي دتجارت مال نه وزي، سره زر، سپین زر، اونقده پیسې ددې تعریف نه بیرون دي، یعنې دهغه لپاره دکوم خاص نیت ضرورت نشته، داپه هر حال کې دزکات مال دي(ردالمختار، کتاب الزکات، ټوک، ۲۶۷مخ)

دتجارتي مالونو په اړه ځیني مسایل:

۱:... دکومو څیزونو پلورل چې مقصود نه وي، بلکې دهغو دذات په باقي پریښودو دهغو دلارې کرایه اونور ترلاسه کول یا په کوم بل شکل کې ګټه ترلاسه کول هدف وي، نو هغه څېزونه دتجارت په مال کې نه راځي، مثلاً: دپابریکو کې کنګل شوې پانګه، دچاپ او پابریکو ماشینونه، ددوکان فرنیچر .داستعمال موټر، تیک ټر، داوبو کوهې، دکرایې اوچلولو په نیت اخیستې موټر، رکشه،اونور دکرایې په نیت جوړ کړی کور،، سالجه، دکالیو ګنډلو ماشین،داستعمال لوښي، دکالیو وینځلو ماشین، دکالیو وینځلو کارخانه اونور دغسې شیان دپلورلو په نیت ندي اخیستل شوي، بلکې دهغو په باقي پریښودوله هغو نه ګټه پورته کول غرض ده. له دې وجې داشیان دتجارت په مال کې نه راځي، اوپکې زکات نشته، هو! که داڅېزونه دتجارت په نیت اخیستي وي نودا دتجارت مال دی، هم داسې نن سبا ځیني میخانیکي کار مندان ځیني ځیني توکي د دې لپاره ځان سره ساتي چې هغه دضرورت په وخت کې په ګاهک باندې وپلوري اوله هغوئنه قیمت وصول کړي، نو دامال دتجارت په مال کې شمار دی(ردالمختار، کتاب الزکاة، ۲ټوک، ۲۶۷مخ)

۲.... كه كوم څاروي دپلور لپاره واخيستل شو، نوهغه دتجارت په مال كې راځي، په هغه كې دتجارت مالونو پشان تجارت واجب دی.(احسن الفتاوی ۴ټوک، ۲۸۶مخ)

قصاب چې كوم څاروي ذبحه كړي، او دهغه غوښه پلوري، نودغه څاروي هم دتجارت په مال كې داخل دی، كوم څاروي چې دشيدو لپاره واخيستل شي، هغه دتجارت مال كې ندي داخل، البته دهغه دپيو نه چې كومه ګټه ترلاسه كېږي هغه به دنقدو پسو سره حسابولی شي او دزكات وركولو په نصاب كې راځي.(احسن الفتاوی ۴ټوک، ۲۸۷مخ)

دتجارت مال دبيه كولو طريقه:

لومړی دول نصاب او دويم دول نصاب، دپيژندلو په طريقه كې دا يادونه وشوه چې په دويم دول نصاب كې به دضرورت نه دزيات سامان بيه كولی شي، نو ددې بيې نه مراد دسامان دپلورلو بيه ده، نه دپيرلو، يعنې دحساب كولو په نيټه به دغه سامان په هغه نرخ باندې بيه كولی شي په كوم چې په عام بازار كې پلورل كېږي،هغه به په نصاب كې شمارل كېږي، هم داشان په سرو زرو،سپينوزرو كې هم دپلورلو بيې ته اعتبار وي، مثلاً:يو سړي يوڅيز په لس زره واخيسته، دپلورلو په وخت كې دهغه نرخ دولس زره يا ددينه كم اته زره و، نودزكات اداء كولو لپاره به دپلورلو بيه شمارلی شي(ردالمختار، كتاب الزكاة، باب الرزكاة الغنم، ۲ټوک، ۲۸۶مخ)

پور پيسو كې دزكات وركولو حكم:

كومې پيسې چاته د پور په توګه وركړې وي، هغه دوه دوله دي،يو هغه پور دی، چې دهغو لاس ته وررتلو اميد وي، دويم هغه دی چې لاس ته دورالو اميد نه وي،نود لومړی دول پور به زكات وركوي، اوددويم دول نه، البته هر كله چې هغه پور په لاس ور شي، دهغه به هم زكات وركوي، (هنديه، كتاب الزكاة، الباب الاول، ۱ټوک، ۱۷۵ - ۱۷۶مخ)

په ځينو هيوادو كې حكومتونه په بانكونو كې دخلكو له پيسونه زكات ګرځوي، شرعاً په دې سره زكات نه اداء كېږي، په دې كې شرعاًلس خربياني شتون لري، چې دبينات فتاوی دويم ټوک د۶۳۵ - تر ۶۴۰ مخ پورې په تفصيل سره راغلي دي دا رتيا په وخت كې دې هلته رجوع وشي.

لنډيز:

په پای كې په لنډډول دهغو ټولو اثاثو يادونه كېږي چې په هغو كې زكات وركول واجب كېږي ،اوپه كومو نه، هغه اثاثې چې په هغو كې زكات وركول وجب دی:

۱.... سره زر چې په هر شكل كې وي،

۲.... سپين زر چې په هر شكل وي ۳... نغده پيسې، ۴.... چاسره ايښودل شوی آمانت (كه هغه سره زروي، سپين زرهم وي)۵.... بانک كې ايښودل شوې پيسې... ۶...دنورو هيواد دكرنسی پيسې... ۷.... دهر مقصد لپاره(لكه دحج، ځامنو دو ودونو، دكور جوړولو يا اخستلو لپاره)ايښودل شوې پيسې ۸.... دحج لپاره وركړل شويو پيسونه هغه چې دمعلم او كرايونه دبسپنې په توګه بير ته حاجي ته وركول كېږي ۹...دتجارت په نيت پيرل شوي وندې (حصص) ۱۰...دشراكت په معامله كې دخپلې ونډې او ګټې زكات وركول ۱۱.... پلورلو لپاره اخستل شوی سامان، زمكه، حصص،اوخام مال. ۱۲...دتجارت لپاره اخستل شوې پراپرټي... ۱۳ دتجارت هر مال،دبازار دپلور نرخ سره سم ۱۵....دپلورل شويو شيانو څخه لاسته راتلونكي پيسې. ۱۶په ګودام كې ستاک شوي مال۸... خام مال...

پای

یوځو اسلامي آداب

((ابراهیم مومند))

لومړی... کله چې تاسو د خپل یوه مسلمان ورور د لیدلو لپاره چېر ته ځئ، یا خپل کور ته داخلېږئ؛ نو کور ته د داخلېدو او وتو په وخت کې ډېره مؤدبانه او مهذبه طریقه خپله کړئ: خپل نظر لاندې واچوئ، خپل غږ ټیټ کړئ، خپل بوټان، څپلی یا نور هغه څه چې ستاسو په پښو وي، په خپل ځای باندې یې وباسئ او د وېستلو سره سم یې په منظم ډول کېږدئ؛ هلته _ دلته یې مه غورځوئ؛ همدارنګه یې د پښو کولو او وېستلو آداب مه هېروئ، د اغوستلو په وخت کې لومړی ښی بوټ په پښه کړئ او د وېستلو په وخت کې لومړی چپ بوټ وباسئ.
لکه څرنګه چې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمدﷺ فرمان دی:
((... کله چې ستاسو څخه یو څوک بوټان (وغیره) په پښو کوي؛ نو لومړی یې له ښی پښې څخه شروع کړئ، همدارنګه کله چې یې وباسئ؛ نو بیا یې له چپې پښې څخه شروع کړئ... یعني ښې بوټ دې لومړی په پښو کړای شي او په آخر کې دې ووېستل شي. (مسلم شریف)))
د خپل مسلمان ورور کور ته د داخلېدو څخه مخکې خپلو بوټانو ته ښه وګورئ، که چېر ته په لاره کې مو د بوټانو سره کوم ناپاکه شی او یا کوم بل څه نښتي وي؛ نو لومړی هغه ترې لرې کړئ او بوټان مو په ځمکه باندې ښه وموږئ، تر څو هغه څه چې ورپورې نښتي وي؛ ترې لرې او پاک شي. داد دې لپاره چې اسلام د پاکی، نظافت او تهذیب دین دی، لکه څرنګه چې رسول اللهﷺ فرمایي: ((الطهور شطر الایمان)) پاکي د ایمان یوه برخه ده او په بل حدیث شریف کې راځي، چې ((الطهور نصف الایمان)) یعنې پاکي او نظافت نیم ایمان دی.
دویم... د خپل مسلمان ورور یا د هغه کوربه (میزبان) سره، چې تاسو یې مېلمه یاست د کښېناستلو پر ځای کش مکش مه کوئ، بلکې هر چېرې، چې هغه ستاسو کښېنول غواړي، همغلته کښېنئ. ځکه که تاسو د خپلې خوښې پر ځای کښېنئ؛ امکان دې ولري، له هغه ځایه مو د کور پر ښځو باندې نظر ولړي. یا هلته ستاسو د کښېناستلو سره د کور خاوند تکلیف او ناآرامي احساس کړي. لنډه دا چې تاسو د خپل کوربه په فرمایش او د هغه د غوښتنې مطابق کښېنئ او د هغه اکرام او مېلمه پالنه قبوله کړئ.
د جلیل القدر صحابي حضرت عدي بن حاتم طائي رضي الله عنه د اسلام د راوړلو په واقعه کې راځي، چې: هغه د رسول اللهﷺ په خدمت کې حاضر شو، نو رسول اللهﷺ د هغه د عزت او اکرام کولو لپاره هغه ته دوشکه (توشکه) وړاندې کړه، یعنې کېښوده او خپله هغهﷺ پر ځمکه باندې کښېناست.
واقعه داسې ده: حضرت عدي رضي الله عنه فرمایي، چې رسول اللهﷺ هغه له ځانه سره کور ته بوته، کله چې هغهﷺ کور ته داخل شو، نو له ځانه سره یې د څرمنې یوه دوشکه، چې د خورما له پرورې (پخلې) څخه ډکه وه، راوړه او پر ځمکه یې هواره کړه او ویې فرمایل: تاسو پر دې باندې کښېنئ. ما عرض وکړ، چې تاسو پر دې باندې کښېنئ. هغهﷺ وفرمایل: نه تاسو پر دې باندې کښېنئ. بیا زه پر هغه باندې

کښېناستم او رسول الله ﷺ پر څمکه باندې کښېناسته. ابن کثير دغه واقعه په ((البداية والنهاية)):۵/۴٦، کې د سيرت ابن هشام څخه رانقل کړې ده. وايي خارجه بن زيد رحمة الله عليه د محمد ابن سيرين رحمة الله عليه د ليدلو لپاره د هغه په خدمت کې حاضر شو؛ نو گوري چې ابن سيرين رحمة الله عليه دوشکه او تکيه د ده لپاره پرېښوده او خپله دی رحمة الله عليه پر څمکه باندې کښېناست. په دې وخت کې حضرت خارجه رحمة الله عليه غوښتل، چې له هغه سره پر څمکه باندې کښېني؛ نو هغه رحمة الله عليه ته يې وويل: تا چې د ځان لپاره کوم شی خوښ کړی دی، يعنې پر څمکه باندې کښېناستل دې خوښ کړي دي؛ نو زه هم د ځان لپاره دغه خوښوم. په دې وخت کې ابن سيرين رحمة الله عليه وفرمايل: زه په خپل کور کې هغه څه ستا لپاره نه خوښوم، چې د ځان لپاره يې خوښوم؛ نو تاسو هلته کښېنئ چېرې، چې تاسو ته د کښېناستلو ويل کېږي.

همدارنگه د کوربه په ځانگړي (خاص) ځای مه کښېنئ، هو په هغه صورت کې، چې هغه په خپله ستاسو هلته کښېناستل وغواړي. ځکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (...يو څوک دې د بل چا امامت نه کوي، نه دې د هغه د منصب پر ځای کې او نه دې هم د هغه په کور کې د هغه پر خاص ځای کښېني، البته په هغه صورت کې، چې هغه ده ته اجازه وکړي. (دا حديث امام مسلم روايت کړی دی.)

درېيم... کله چې تاسو د خپل يوه ورور او يا ملگري کور ته لاړ شئ او هغه تاسو په يو ځای کې کښېنوي؛ نو تاسو خپل نظر داسې مه گرځوئ _ راگرځوئ، لکه يو څوک، چې د کوم شي په لټه کې وي. بلکې تاسو خپل نظر لاندې واچوئ. کله چې تاسو ناست يئ او يا اوده کېدل وغواړئ، نو يوازې پر هماغه شي باندې نظر واچوئ، د کوم شي چې تاسو ته ضرورت وي.

که چېرې هلته کومه بنده الماری، صندوق او يا کوم بکس موجود وي، هغه مه خلاصوئ. د دې تر څنگ که هلته کومه غوټه شوې کڅوړه (خلته) موجوده وي، هغه مه خلاصوئ. يا کوم گنډل شوی شی وي، هغه مه خلاصوئ. ځکه چې دا د اسلامي آدابو خلاف کار دی او د دې امانت او اعتماد هم خلاف ده، د کوم پر اساس، چې ستاسو ورور او يا ستاسو ملگري پر تاسو باندې اعتبار او اعتماد کړی دی او تاسو ته يې خپل کور ته د راتللو او پاتې کېدلو لپاره دعوت در کړی دی.

لنډه دا چې د چا سره د ليدلو او اوسېدلو، يعنې د زيارت آداب زده کړئ؛ په ښه معاشرت او ټولنيزه پراخۍ کې داخل شئ او د خپل کوربه په وړاندې په ښه، نېک او خوښ شوي مقام باندې ځانونه فائز کړئ.

څلورم... تاسو ته په کار ده، چې د ملاقات لپاره د مناسب وخت انتخاب وکړئ او کله چې ملاقات کوئ د کوربه سره دومره پاتې شئ، څومره چې ستاسو او د هغه د تعلقاتو لپاره مناسبه وي. لنډه دا چې ملاقات مه اوږدوئ او مه پر کوربه باندې بوج او تکليف جوړېږئ او مه پر داسې وخت باندې له چا کره ځئ، چې د ملاقات لپاره مناسب نه وي، د بېلگې په توگه د ډوډۍ په وخت کې، د خوب (اوده) کېدلو په وخت کې، يا د آرام او استراحت په وخت کې د ملاقات څخه ځانونه وژغورئ. امام نووي رحمة الله عليه په خپل کتاب ((الاذکار)) کې د سلام د باب په آخر کې د سلام مسايل ذکر کړي دي، چې فرمايي:

د يوه مسلمان لپاره، چې د کوم مستحب کار ټينگار (تأکيد) شوی دی، هغه دا دی، چې هغه دې د نېکو خلکو، خپلو ورونو، خپلو گاونډيانو (همسايه گانو)، خپلو دوستانو او د خپلو خپلوانو سره تگ راتگ کوي. د دوی اکرام دې کوي. احسان او ښېگڼه دې ور سره کوي. صله رحمي دې ورباندې کوي. البته دغه ملاقاتونه د معيار، حالاتو، مراتبو او د فراغت له مخې ادلون _ بدلون مومي. لنډه دا چې مناسبه دا ده، چې ملاقات په داسې موقع او وخت باندې وشي، چې هغه مقابل لوري ته ناخوښ نه وي او په داسې وخت کې وي، چې هغه يې خوښوي. په دې باره کې ډېر احاديث او مشهور آثار موجود دي.

پنځم... کله چې تاسو د خپل کوربه سره خبرې _ اترې کوئ، نو د هغه د مقام او مرتبې په نظر کې نيولو سره مختصرې او لنډې خبرې وکړئ. همدارنگه که چېرې تاسو په يوه مجلس کې د عمر په لحاظ تر ټولو کم عمره او کوچني ياست؛ نو بيا تاسو خبرې مه کوئ، البته د ضرورت په وخت کې.

الله تبارک وتعالی په قرآن عظيم الشان کې رسول الله ﷺ ته حکم کوي، چې: که د مجلس د گډونوالو له جملې څخه څوک ستا څخه پوښتنه وکړي؛ نو تاسو د هغه ځواب ور کړئ. همدارنگه که تاسو پوهېږئ، چې په مجلس کې حاضر خلک ستاسو په خبرو _ اترو باندې خوشحالېږي او ستاسو د خبرو قدر کوي؛ نو د خبرو پيل (شروع) کولی شئ. البته خبره مه اوږدوئ او په مجلس کې د ناستې آداب او د خبرو _ اترو طريقه مه هېروئ. ومن الله توفيق

دشهیدانو په یاد

(استاد فضل ولي ناګار)

لکه ګلاب ښکاري بغداد انځور رنګین ورسره
مصر په وینو کې لمبیږي فلسطین ورسره

د زماني کوم یو فرعون ته بیا نیل جوړیږي
څپې څپې ځې زموږ وینې اباسین ورسره

د پروني غازي وارث د اکبر توره څه کړه
څنګه به غاړه ګړ ځوي زنار وربښمین ورسره

چوپ دې شپېلۍ د تکبیر مه شه د ختیځ فاتحه
شمله دې هسکه په ننګ اوسه هود یقین ورسره

خلک به وايي چې اسلام او پښتو څه مانا؟
څوک چې غزاله ځي ناګاره! اس که زین ورسره

Shahamat